# وتلې اروا

محمدآصف عمر

په دنیا کې هر دیو ته شاهزاده بهرام په کار دی. خو چې پیدا شي. د الیشنګ ولسوالۍ د سالاو دره له شماله جنوب ته غځېدلې ده. کلي یې د سیند پورې راهورې پراته دي. کروندې یې لکه له سیند څخه ختلې زینې. دلته د داود خان د زمانې تاو راتاو سرک تېر شوی، او د کاوون غره عظمت ته یې سر په پښو کې ایښی. پر سرک د غونډۍ په لمنه کې سړی روان و. له هر قدم سره یې ببرسر جیټکه خوړله. تا به ویل په پښو کې یې توري څپلۍ نه، درنې زولنې دي. خلاصو بندونو یې شاته پر خاورو کرښې باسلې. توري مېږې او سرې غوا به کله کله د تېز لمر له کبله پښه واچوله. مګر د سست خاوند لپاره به بیا سستې شوې. سړي غټې سترګې د غونډۍ ترشا سپېره غره ته واړولې. د خپلې نیا خبره وریاده شوه «زویه! ماندلو غر پخوا د شنو او ممانړو باغ و. خلق به د مېوو ټولولو ته په مېله تلل. یو وخت ورته امدا خلق دېوان شول. ونې او بوټي یې له بېخه باسل. په تناره کې یې سوزول. یو شازاده بارام پیدا نشو چې مخه یې ونیسي» سړی په تصور کې د غره تېر شینوالي او د مرغانو شور ته لاړ. موسکی شو. شاته یې د کوم شي خرپه هار واورېد. لکه ځناور چې د مړ حیوان غوښې شکوي. وربېږدېد. ژر یې مخ واړوه. تر سرک لاندې کږوپ ځوان د غنمو لو کوه. د سیګرېټ لوګی یې تر برګ دسمال لاندې پر ګلابي مخ او سور پیکي خپرېده. سړي ترې ښه خاطره نه لرله. یو وخت یې په ډنډ کې دومره غوپې ورکړې وې چې یو ساعت یې سا سوزېدله. مګر بل وخت د پشه یانو ښځې بره خپلې درې ته روانې وې. یو هلک پسې غږ کړ. همدغه ځوان پرې غصه شو. ویل پشه یان په موږ اعتبار لري. ته مو نوم مه بدوه! دا کار یې دده په زړه ولګېد. اوس سړی د تېرو په باره ورکېوت. د پخو غنمو بوی یې دماغ وتخنوه. مالونه پر سرک ودرېدل. مېږې غاړه اوږده کړه. وبغېدله. لکه د خاوند کار چې غندي. سړي غټې سترګې برګې کړې. په سوړ غږ په پزه کې وبنګېد:

– بلا! چیشی دی؟ خوابنې!

ځوان واورېدل. سر یې جیګ کړ. نیم نیغ شو. ملا یې شخه شوې وه. خوله یې له سیګرېټ سره کږه ونیوله:

– اوو، اوو، اوو، لالټی دی لالټی!

سړي سیګرېټ ته لاس وغځوه. ناره یې کړه:

– ډیز، ډیز، ډیززز، شامتي دی شامتي!

ځوان په خندا سیګرېټ ورکړ. [illegible]

– وه خوار شې! زما نوم شا[illegible] دی.

سړي له سیګرېټ څخه دوه اوږده کشه وکړل. له خونده یې سترګې پټې وې. له نرۍ پزې راوتی لوګی یې په ببرو برېتونو، ببرې ږیرې او ببرو وېښتانو کې تیت شو. لکه په ځنګله چې ګردلې تېرېږي. سترګې یې پرانیستې:

– زما نوم ام لال مامد خان دی یارو. ته څه خبر یې؟ زه لا پیدا نه ومه. ابا مې خوب لیدلی و.

–هاو، پیغمبر ورته ویلې وو چې زوی دې پیدا کېږي. نوم یې لال مامد خان کېده. که چا لالټی وویلې خدای یې وهي.

– ډک یې که ـه ـه! اغه دی خبر یې.

– هاو کنه. دا ډوزه خو ته هره ورځ ولې.

– اخی! ونښتلې. په امدقه خبره لکه قارغه د دوزق په دام کې ونښتلې.

–آهاها ښه ځا، توبه! نور نه ویمه. ای لال مامد خان اکا! هه واخله! لږ لو خو وکه کنه!

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

– اوح اوح! د ابا دې څو نوکران دي؟
– خوارشې! ته ابا څه کې؟ پیسې درکومه.
– ډک یې که ـه ـه! چې په کاسه کې یې راکې په غلبېل کې یې راکه!
– ښه ځا! چرس درکومه.
لالټې یودم سر ټیټ کړ. شاوخوا یې لکه غل وڅارله. له شاه محمد څخه یې لور واخیست. وپسېد:
– ورو غرېږه! ته خو یې جنتي مخ را وښیه کنه یارو! چې دا زړه مې پې ټکور شي.
– هاهاهاها، ته کار شروکه! جنتي مخ به یې پیدا شي. ماته مالومه ده چې چا سره شته.
لالټې لور وغورځوه. نېغ شو:
– ډک یې که ـه ـه! د پردي خیرات کې سپي په ډانګ وهې؟
په شاه محمد د لور غورځول بد ولګېدل. لالټې یې ټېل وهه. هغه د غنمو په ستری ولوېد. سیګرېټ چخپیت شو. ځوان وویل:
– اله پاسې! لو وکه! اله! سیګرېټ خو خوشې ندی. پاسې پاسې!
د لالټې رنګ داسې وتښتېد ته وا اوس یې دار ته خېژوي. په دروغو یې ملا ونیوله. له زګېروي سره پاڅېد:
– وی الاح! ملا مې ماته شوه ح. درد کړ ځ ح. مړ شومه ح.
ځوان یې مټه تاوه کړه. دده له درده اخونه وختل. د سپین ټیکري ښځه د سرک څنډې ته راغله. غږ یې کړ:
– د پروانې ابا! دلته چیشی کې؟ کور ته ری شه! زر کوه!
د ښځې ګرد مخ له غصې پړسېدلی و. د هغې حوصله او غیرت هرچا منل. ویل یې د قسمت کارونه دي. که نه دا ښځه ددې سړي لایقه نه وه. شاه محمد د لالټې لاس پرېښود. هغه هم د دروغو زګېروي بند کړل. د خړو جامو شاته لمنه یې ټک وهله. په ښځې پسې پر خام سرک روان شو. لکه ماشوم چې ښه پوهېږي پلار جزا ورکوي، خو تښتېدلی نه شي. غوا او مېږه هم په خاوند پسې بېرته وګرځېدلې. سړی د غونډۍ په لمنه کې په لرګینې دوه پټه دروازې ننوت. ښځه مخامخ د دوو کوټو په مخ کې تشو کټونو ته روانه وه. پیغلې لور یې پر پلاستیکي فرش جامې قیچې کولې. ښځې مخ را وګرځوه. پېړې شونډې یې ورېږدېدلې:
– اله خدای خو دې وخله! چې دا ته بیا څه مصیبت یې؟
لالټې وتښتېد. مېږې او غوا هم ورسره منډه واخیستله. هغه د حویلۍ په نا هواره برخه جیګ شو. ویې ویل:
– وه ما چیشی کړي؟
– تا چیشی کړي، آ؟ د کوره ولې ووتلې؟ چېرته روان وې؟
– وه خو مرو ویلې مالونه وږي دي. اغه خو یې څرولی نشي کنه. پیغله جلۍ ده. اغه ده پو ښتنه وکه!
– وی الا، مروه دروغو ته مه مجبوروه کنه! نا، دا ما سبایي وخته د درمنځي اخېړولې شروکه؟ چې مال ته ری شمه کنه. شرمېږې خو نا. ښځه کار کړځ ته بې ننګه مړې سترګې ناست یې. نور غمونه پې دپاسه راوړې.
– وه د چیشي غمونه؟
– تا ته مې ویلي نه وو چې دا وار دې چرس وسکل درنه ځمه؟ آ؟
– ډک یې که ـه ـه! چرس چېرته دي؟ په سپینه ورځ دروغ وایې.
– داح! په ټوله دونیا کې د دروغو بیرق دده جګ دی، دروغجنه زه شومه. ای اغه لوګی د چیشي و، آ؟
– کم لوګی؟ ځه ځا! غلې! له خېټې ګډه یې.
– وه خدایه! نېغ په سترګو راننوځي. ما کتلې ښا؟ بس خلاص، ونشوه. وه جلۍ د خلقو نوکري پرېده! راځه چې ځو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ودرېږه! ښځې ودرې کنه! اغه سیګرټ و کنه.

– وی‌ی‌ی‌ی! تبا شې! بیا دې چیشی خرڅ کړي؟ اله جلۍ! دا کالي وغورځوه ویمه! نغری وګوره!

مروه د کوټو شاته د نا هوارې برخې بره کونج ته وختله. تر څپرې لاندې پر پلاستیکي فرش یې لوښي وکتل. غږیې کړ:

– نا ادې. کاسې، پیالې، څمڅۍ، دیګونه، چاینبر، ټول شته.

– اح، ښځې! څنګه شو؟ اوس ته ښه شوې که د ایراېو سپۍ؟

– سپی ته یې. بل شی به دې پټ کړی وي. وه جلۍ! ککرۍ دې وخورمه! زر کوه کنه! ځه چې هاشم لالا کره ځو!

– وه د دا هاشمټي نوم مې په کولمو درد راولي. خدای دې مردار کي، چې زما د پرو زړه په قبر کې یخ شي.

– بس که بس! لالا ته مې ښېرا مه کوه! لورمې تا ووجله تا. که تا چرس نه سکل سم سړی به وې. چا به درپورې نه خندل. پروانې به جنګ نه کوه. اخ سړیه، ویمه خدای خو دې یا تا وخلي یا ما! ستا د لاسه مې دا شل کاله ښه ورځ ونه لیدله.

ښځه په ژړا په سره لمر کې پر کټ کېناستله. لالټي د دېوال سیوري ته مېږه او غوا په موږیو پسې وتړله. مروه بېرته راغله:

– خیر دی ادې کنه! ته غلې شه! ګټه نلري.

لالټي وګڼله چې د ښځې قهر سوړ شو. هوارې حویلۍ ته کېوت. هغې په سلګیو کې وړې نرۍ سترګې آسمان ته جیګې کړې:

– وه خدایه پاکه! څنګه مردار قسمت دې راکړی دی؟

– ډک یې که‌ـه‌ـه! ما غوندې ځوان دې په ټوله خېلخانه کې نشته. ما پسې جینکۍ تښتېدلې.

– کشکې! زه به درنه خلاصه ومه.

– ته ام راته بوڅه بوڅه کېدلې. هېر دې شو؟

هغې ته په ژړا کې خندا ورغله. مروې هم پخ وهل. ښځه پاڅېدله. مېږه ته یې په ملا کلکه سپېره ورکړه:

– خاورې دې په خوله شه! چېرته ونه وایې! خلق به وایي چې رښتیا.

د لالټي په خښتګ کې یو څاڅکی متیازې لاړې. ایله یې تریخی پیدا شو. په ښځې یې چیغه کړه:

– مه کوه‌ه‌ه! ډرت وار وکې.

تریخی یې همد ومره و. روان شو چې د حویلۍ په کونج کې په تشناب کې خښتګ ومینځي. ښځې وویل:

– ای تبا مړیه! ماویلې د ښکارځي پټی هاشم لالا ته ورکه! په شاړه چیشی کوو؟ للمي ام نه کیځ.

– چیشی؟ چې زه جوندی یمه ولا که یې پکې ولګیځ.

– ضد مکوه! اغیځ خپله ګونا منلې. په خوشې درته شاړه اباديځ. ویلې لو ته ام راځو. نور چیشی وکي؟

مروې غږ کړ:

– ادې مې ښه وایي. وریې که! ښې پیسې درکیځ. په سم ځای کې پې دوه پټیه کېږي. زمنږ پکې ګټه ده.

– غلې شه! هرکله، ادې مې ښه وایي، ادې مې ښه وایي. سبا ګل راته اغه نه ډېرې پیسې راکیځ.

– دروغ وایي. ماما خو مې پکې قلا اچیځ. سباګل پې چیشی کیځ؟ خوشې ګرمول کیځ.

دې کې د دروازې ګړز شو. ډله ماشومان ننوتل. یو غږ کړ:

– ای اغه کندو بیا راغلی. وایي لالټي ته نارې کیځ.

ده وریسې منډه کړه:

– هیځ د سپي زو! ادې ته دې دسې نوم واخله!

ماشومان په خندا وتښتېدل. لالټي ښځې ته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– لاړ شمه، که مېمله ته ام ته غېږه ور کې؟
ښځه وبنګېدله. مخ يې واړوه. مروې غږ کړ:
– ابا ودرېږه! تنهې دې بيا خلاصې کړې دي. کولمې دې ورسره ګنډه دي.
هغې د پلار ګرېوان وتړه. په سر او بږيره يې نرم لاس ووهه چې وېښتان يې سملي. د لور مينه او د هغې د پستو لاسونو تماس لالتهي ته لکه د قو د بڼکو کټ و. د پينځو حواسو سترګيا يې ورسره ورکېدله. دې ووت. يو دم يې له تعجبه وروځې بره لاړې. ببر سر يې وګروه. ښځې او لور يې د دروازې له درزونو کتل. پر سرک دوه تور لنډکروزران له ډېر پاکولي ځلېدل. څنګ ته يې وسله وال کسان ارت ولاړ وو. داسې ګاډي دلته ماشومانو څه، چې لويانو هم اول ځل ليدل. د کلي موټر خو لکه ټکر شوي، عقب نما ښيښه نه لري، په سترګو ړانده وي، پمپر يې ځړېږي، د رنګ ځای سم نيم ګلګل نيولی وي. هلکانو په سور لمر کې د قيمتي موټرو سيل کوه. دوه تنه ترې کېوتل. لالتهي د چاغ سړي د شتري واسکټ له پاسه لاسونه تاو کړل، لکه فيل چې په غېږ کې نيسي:
– وه سباګله! په خيرونه يارو! عمر دې ډېر دی. امدا اوس مې ياد کړې. چې راتلې ټليفون به دې کړی و. پسه مې درته چپه کوه.
کليوالو هررر وخندل. د دروازې شاته ښځې اسويلي وکړ. لور يې په ملا لاس کېښود چې آرامه شي. په خندا کې د سباګل د پوکانۍ په شان غومبري او ګردې سږمې لا وپړسېدلې. غونډ منډ کس ته يې لاس ونيو. په نري غږ يې وويل:
– وروره ګله! هېواديار صيب په کابل کې ډېر غټ ريس دی. هېواديار صيب! د شربت خېلو اصل کلی لاندې دی. اغه د پټيو منځ کې ونې او کورونه وينې؟ خلک چې ډېر شوي، پاس غونډۍ له راختلي دي.
لالتهي هېواديار ته هم غېږه پرانېسته. خو هغه تش لاس ورکړ. د سپين واسکټ له جېبه يې غټ موبايل وباسه. مسېج يې وکوت. بېرته يې کېښود. سپين پکول يې په تکو تورو وېښتانو سم کړ. دروند غږ يې له ستوني ووت:
– سباګل ويلې په سالاو کې يو ځای دی، ښکارځی يې بولي. ما ويلې دا نوم مې خوښ شو. چې ويې نه ګورمه نه کېږي.
– ډک يې که ـه ـه! تاسې نو د هوسيو ښکار ته راغلي يئ.
– نا نو، الته هوسۍ شته؟
– چې نشته نو بيا ولې ورته ښکارځی وايي يارو؟
کليوالو بيا په زوره وخندل. ماشومانو نارې کړې:
– لالتهي دروغجن، لالتهي دروغجن!
ده بې له مخ تاوولو په جيګ غږ ځواب ورکړ:
– څوک غاپي؟ د سپي زامن! څوک غاپي؟ د سپي زامن!
هېواديار او سباګل پخ وهل. ماشومانو بيا بيا نارې وهلې. لالتهي تنګ شو. تېره يې واخېستله. هغوئ وتښتېدل. تېره يې څنګ ته ولګېدله. لالتهي مخ بېرته راوګرځوه:
– هېواديار صيب! دا د بې سېوادو بچيان دي. تربيه نلري. تاسې مه خفه کېږئ ښا؟
– نا نو، خير دی. واړه دي. نه پوهېږي. څنګه؟ ښکارځي له ځو؟
لالتهي د کور بندې دروازې ته وکتل. د ښځې عکس العمل يې ونه ليد. سر يې وخوځوه. مخکې شو. سباګل ورباندې غږ کړ:
– چرته چرته؟ وروره ګله! ګاډي له وخېجه!
لالتهي له خندا شين شو. د شاتني موټر په مخکينې سيټ کې کېناست. د کلي د غټو او وړو خولې وازې وې. لالتهي پزه جيګه ونيوله. دده لپاره د بري شېبه وه. د کلونو کلونو د سپکاوي او ځورونو د غچ شېبه. کاږه کاږه يې هر يو ته کتل. لکه چې وايي ما خو وينئ؟ تاسې کله په داسې موټر کې ناست يئ؟ دوئ حرکت وکړ. په تخت کې کېوتل. هېواديار شا و خوا ته نظر واچوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– نا نو، دغه ځي له ولې تخت وايي؟ دلته خو مکتب دی او جامع جومات.

لالټي وخندل:

– پخوا اوار میدان و یارو. دا نوم يې زما غورنیکه ایښی. امیر حبیب الله خان چې يې ملاقات ته راغی، دلته يې کېښوه.

– نا نو ستا غورنیکه دونه غټ سړی و؟

– ها و کنه. خلقو يې مخکې ټرت نشو کوی. د لغتو لاندې يې وجل.

– نا نو امیر حبیب الله خان چرته ناست و؟ الته به مو پخه څپره وهلې وه. خلک به سیل له راتلل. تاسې له به کاروبار پیدا شوی و.

– ډک يې که ـه ـه! د چرګ نه د مالګې څټل غواړې؟ دا خلق د تاریخ په ارزښت څه پوهېږي؟

هېوادیار او سباګل وخندل. دوئ روان شول. د تورو ترو پر کنډو واوښتل. هېوادیار ټوله لاره په کاغذي دسمال تر ګردې رېږې لاندې پېږې غاړې خولې وچولې. ګرمي دومره نه وه، نه فاصله زیاته وه. خو په لاره کې يې باید په هر قدم کې له خښتو تیږو پښنه اړولې وای، له کندو کپرو ځان بچ کړی وای او په ترو ختلی او کښوتی وای. سباګل خو به کله کله ودرېد چې اوږدې ساګانې واخلي. مګر د لالټي چورت هم خراب نه و. زر ځله یا ولسوالۍ ته، یا د خلکو نه پټ د چرسو څکولو ته په دغه لار تللی راغلی و. هره تیږه او کنده کپره ورته معلومه وه. پښې يې اتومات اوښتلې. بالاخره ښکارځي ته ورسېدل. هېوادیار شاوخوا وکتل. د غرونو په منځ کې نسبتن برابر ډاګ و. د ختیځ خوا ته د برج په شان د نېغ او یکړه غره پر سر زیارت د سړي پام اړوه. لاندې په هواره کې هرچېرته خلکو د ځای جرولو ته تیږې اچولې وې. یو نیم اباد پټی هم ښکارېده. لالټي وویل:

– هېوادیار صیب! دا ام پوخ تاریخي ځای دی. د وروس په زمانه کې مجاهدینو دلته خلق وجلو ته راوستل.

د هېوادیار یا خبره خو ښه نه شوه، یا په سیل بوخت و. ځواب يې ورنه کړ. سباګل دغره بېخ کې نیمجوړ پټي ته اشاره وکړه:

– وروره ګله! اغه تیږې چې پکې ماتې دي، امدا د لال مامد خان ځای دی. کنه؟

– بالکل. سورنګان الوزومه یارو. مزدوران مې اچولي. دا غر ټول ابادومه. په سر کې برمه وهمه. یو جرنده اوبه وځي.

هېوادیار په خندا پټي ته ورغی. د ماتې تیږې ټوټه يې سترګو ته جیګه کړه. دلته لالټي سباګل ته په غوږ کې وپسېد:

– ای! په قسم مړ شومه. تیلم تیلم یمه. چرس راکه چرس!

سباګل په سپین څادر د مخ خولې وچې کړې. د غټ ځان په پرتله په نري غږ يې وویل:

– اغه بله ورځ مې یو بلا درکړل. ختم شول؟

– نا، اغه مې ماښو کې پټ ایښي. بچي رابانډې پوه شوي. الته مې نه پرېدي. خیر دی کنه. دوووونه پټه راکه!

– وروره ګله! څه مشکل دی؟ اوس خو دې ښځه نشته. ددې ځي نه راسن ماښو ته لاړ شه!

– نا کنه. چې الکان د سپي زامن مې وګوري چیغې وهي. ټوله دونیا خبرېږي. ای پښې به دې ونیسمه!

– ننا، پاڅې پاڅې! ویمه غلی کېږې که نا؟ ګوره دغو سنډا ګانو ته وایمه؟ وهي دې.

لالټي د هېوادیار باډیګاردانو ته وکتل. ژر پاڅېد. له ډاره يې سترګې بلې خوا ته واړولې. مخ يې آسمان ته کړ:

– اخ خدایه نو! دا چیشي شو؟ ستا په لویه پاچایي کې منږ ته دوووونه ذره نه رسیږي؟

سباګل له خندا شین شو. هېوادیار په ټول پټي کې وګرځېد. آن غره ته وخوت. یوه تیږه به يې په پښه واړوله. بله به يې سترګو ته جیګه کړه. ځمکه به يې په تېره تیږه وکیندله. لکه علمي څېړنې چې کوي. د لالټي ورته دومره پام نه و. خو سباګل ترې سترګې نه اړولې. هېوادیار پاس غره ته وکتل. ویې ویل:

– یره دا ځای مې خوښ نشو. دلته څه دي؟ سپېره خاوره، سپېره کاڼي. که زه لال مامد خان ومه دا مې یا خرڅوه، یا بدلوه.

– صیب! دلته چې اوبه وباسمه په کال کې شپږ فصله راکئ. خلق يې ځکه رانه غواړي کنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– اوبه د کومه شي؟ خوشې ځان مه غولوه! چې خلک يې غواړي ور يې که! ځان تې خلاص که!
– ښه ځا، وبه گورمه. اغه يو خو د سپي زوی دی ښا؟ چې خپله ادې امراکي ولاکه يې پکې ولگئ.
– څوک؟ ولې؟
– ياسين، د هاشمتي زوی. تاسې نه خو پته نده. خپل خلق يئ. ما لور ورکړې وه. د سې جلۍ وه چې چې چې. ويمه سپوږمۍ ته گوره کنه. دغه د سپي زوی راته ووجله.
د لالتي سترگې ډکې شوې. هېواديار د لاس تيږه وغورځوله. ويې ويل:
– الاااااا! ولې؟
– په خېټه کې يې په لغته وهلې وه. بيا مريضه وه وه وه. اخېر يې قرار سر کېښوده. امدسې لاړه.
– ويششش! خدای دې وبښي! ته نو مه جاړه! اوس ياسين درنه مځکه غواړي څه؟
– هاو. ښې پيسې امراکئ. که يې بدله کمه، په ښه ځای کې دوه برابره پتې امراکئ.
– ساده سړيه! ور يې که، چې جزا ووينې.
– نا يارو، د لال مامد خان يوه خبره ده. زه دلته نوم لرمه. ايزت لرمه. په دا يو د سپي زوی يې نه خرابومه.
– نا نو خلک به وايي آفرين! خپلو غليمانو له يې داسې گوزار ورکو. که څنگه؟
– هېواديار صيب! مه کلکېږه! د نر سړي خبره نه بدلېږي ښا؟
– نا نو، نر خو بدل اخلي.
– منمه. بالکل منمه. مگر پتې ناموس دی. لکه لور. لور سړی د سپي زوی ته نه ورکئ. ښا؟
هېواديار د هغه له هر مخالفت سره ککره شاته وړله. يا د لالتي بې عقلۍ ته حيران و، يا غصه ورتلله چې ولې يې خبره نه منل کېږي؟ سباگل ته يې اشاره وکړه چې ته هم څه ووايه. هغه لالتي ته مخ واړوه:
– وروره گله! د مشرانو خبره ومنه! خدای به دې کله ام نه خرابئ.
– ډک يې که ـه ـه! ته ام وايې؟
سباگل يې تشې چونډي کړ. دده له درده اخ ووت. هغه ژر وويل:
– هاو کنه! يو زه او ريس صيب نا، هر سړی درله امدا وايي.
د لالتي په ياد شول چې هغه ويلي وو زما او ستا خبرې چاته مه کوه. مگر له انډيوال څخه د پټولو کار يې خوښ نه شو. هېواديار ورته معصوم او غولېدلی وبرېښېد. يودم يې سپين غونډاری له ځمکې واخېست:
– هېواديار صيب! دا سر په تيږه ووهمه؟ آ؟ امر وکه يارو! امر وکه!
– ننننا، کېده کېده! دا څه کې؟ داسې مه کوه نو!
– ويمه ستا دپاره سر ماتومه سر! خو ياسين ته د پتې مه وايه! دا د سپي زوی چې جوندی گرځي شوکر دې وباسي.
– لال مامد خانه! ته بيا هم چورت ووهه! خپله په گټه او تاوان پوی يې. مونږ به تا غوندې شخصيت له څه لاره ښايو؟
– هاو، ډېره مننه چې زما د شخصيت قدر پېژنئ. د زرو قدر په زرگر وي.
سباگل وخندل. لالتي ورته تريو شو. د هغه له لاسه يې تشې سوزېده. دوئ بېرته وگرځېدل. غلي روان وو. لکه دلته په راتگ چې پښېمانه وي. يا د لالتي انکار خفه کړي وي. د تورو تړو په کنډو کې يې پام بېر مبر سړي ته واوښت. د خيرو له لاسه يې مخ لکه د موټرو مستري، ککړ پکړ ښکارېده. وېښتان يې غوړ وو. لالتي ورته اشارې کولې چې لېرې ځه. ريس وپوښتل:
– لال مامد خانه! دا دې انډيوال دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ګل مامدخان؟ هاو يارو. ظاهر ته يې مه ګورئ! په ټول سالاو کې دويم شخصيت امد قه دی.
– ښاااا؟ نا نو، په دغه لوی شخصيت کې څه ښه والی دی؟
– ويمه د خدای نه جار شمه، د زړه غوړ دې اوري. په سخته کې درسره درېږي.
سباګل په خندا شو:
– ريس صيب! دغه شخصيت له دلته خلک ګلتی وايي.
لالټي وبنګېد «څه د خلقو ښځ» سباګل چونډي کړ. دده چيغه پورته شوه «مه کوه ه ه!» تشي يې وسولوه. هېواديار له خندا شين و:
– مه يې پاذابوه کنه! لوی شخصيتونه نازک بدنه وي.
مېلمانه بيا په کنده کپره لاره کې په سختۍ روان وو. خولې يې کولې. سا يې سوزېدله. تخت ته ورسېدل. خلک له ساتونکو راتاو وو. پوښتنې يې کولې چې له کومه راغلي يئ؟ دلته څه کوئ؟ هېواديار او سباګل موټر ته وختل. لالټی پوه شو چې هغوئ يې همدلته پرېږدي او ځي. مګر ده غوښتل چې ترکوره يې ورسوي. ژړيې سر د موټر په کړکۍ کې دننه کړ:
– هېواديار صيب! ددغو شاته پاتې خلقو مخ کې به څنګه په پښو ځمه؟ آيا تاسې دا لازمه ګڼئ؟
– هاهاهاها. نا، کېنه صيب!
لالټي هم وخندل. شاتنې موټر ته وخوت. ښيښه يې ټيټه کړه چې خلکو ته سم ښکاره شي. ماشومانو او ځوانانو يو بل چوخول. ده ته يې ګوته نيوله. دی نو سم اسمان ته ختلی و. په خپل کلي کې هم د ټولو مخ ته شخ کېوت. روانو موټرو ته يې لاس جيګ کړ:
– ډېره مهرباني! منږاو تاسې بيا ملاقات کوو.
د خلکو خولې وازې وې. ده ته خدای موقع ورکړې وه. په ټولو برګ شو:
– چيشی دی؟ کله مو اينسانان ليدلي ندي. وحشيانو!
سريې وخوځوه، کورته ننوت.
∞∞∞∞

لالټي په کټ کې لکه مارتاوېده راتاوېده. دا يې په خوب کې په چرسو بار خر ليده. له نژدې کېدو سره به خر د سپي غپا وکړه. ده به پښه ونيوله. بيا به پسې وځغاست. خر د کلي د ملک څنګ ته د سروزرو په صندق بدل شو. دی نژدې ورغی چې وايې خلي. ملک پړانګ شو. حمله يې وکړه. لالټي په کټ کې نيغ کېناست. بدن يې رپېدېده. سا يې سوزېدله. په دوو نورو کټونو کې مور او لور پر ځانونو ټيکري کش کړي وو. په درانه خوب ويدې وې. په ګاونډ کې سپي غپل. له لېرې د شرشرې او سورلنډي غږ راته. مګر د لالټي زړه تر چوېدو تنګ و. لکه جهان چې ورباندې پرمخې پروت وي. بس په ژوند کې يې يو شی غوښت، چرس. مجنون به هم په ليلا پسې دومره لېونی نه و. نور نو يې نه د ښځې د قهر خيال ساته، نه د لور د خفګان. خړ څادر يې په اوږه کړ. پاڅېد. د تازه پچو بوی و. مېږه وبغېدله. ده وهم نه کتل. دروازه يې خلاصه کړه. پر سرک چپ لاس ته وخوځېد. تر تورو ځپليو لاندې شګو غژه هار کوه. لږ مخکې په نری لاره د غره په لور وګرځېد. د موبايل څراغ يې ولګوه. د وچ خوړ په غاړه روان و. نری شمال يخ ولګېده. ورسره يې د زړه تنګون ورو ورو کم شو. ايله يې شپه او ډار وپېژندل. پښه نيولی شو. مګر نن يې بېرته ګرځېدل په خيال او خاطر کې هم نه راتلل. يا په چرسو شهيد يا غازي. له خښنو تيرو يې اتومات پښه اړوله. هرڅومره چې يې فکر روښانه کېده هغومره يې وېره زياتېدله. غوږ ته يې شرپه هار راغی. زړه يې وډېد. ودرېد. شاوخوا يې رڼا واچوله. د خپلې نيا د شيشکو کيسې وريادې شوې. اوس هرې غټې تيږې ته ځير کېده. بالاخره د ماڼو خوړ بوی ولګېد. د غره په بېخ کې د پلنو بوټو تور ځنګل ته ورسېد. ملايانو آذانونه وکړل. سودا يې شوه چې ښځه او لور يې ويښه نه شي. په ماڼو تېز ننوت. د چينې په نريو اوبو کې يې ځپلۍ وشړپېدلې. کړوپ کړوپ مخکې لاړ. د ګڼو بوټو منځ ته يې رڼا واچوله. نه زېړ پاکټ و، نه چرس. زړه يې بيا هماغسې تنګ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جيګ غږيې کنځا وکړه. مخ يې شاته واړوه چې ووځي. نابېره دوه توري او جيګې بلاګانې يې خولې ته ودرېدلې. درنده سپېړه يې په مخ وخوړله. له چيغې سره يې موبايل له لاسه ولوېد. چررر ميتيازې يې له خښتګه تويې شوې. درب شو په ځمکه ولګېد. سيمساره په منډه له ماڼو ووتله. د غټې تيږې لاندې پټه شوه. د لالټې د جسد د پاسه په هوا کې د سړي څېره ښکارېدله. لکه پر توره تخته د تباشير رسم. مخ يې ده ته ورته و. خو منظم، لکه له نايي څخه چې راوتی وي. ترنامه لاندې تنه يې نه وه. رسم په هوا کې يوې او بلې خواته لاړ. لکه سرګردانه چې وي. بالاخره کلي ته روان شو. په نيمه لاره کې يې دوه تنه وليدل. په غورو غورو بره تلل. دی د توتو د نيالګيو پر سر تېر شو. کورونو ته ورسېد. تر سرک لاندې په ويالې کې سړيانو او دسونه کول. په حويليو کې يوه نيمه ښځه ګرځېدله. مروې له کټونو توشکې ټولولې. مور يې له بهره راغله:

– ميرا ثمرې ايچېرته نشته. خدای خو دې زر په تخته کې چې تې خلاصه شمه!

بيک يې له کوټې راوباسه. لور ته يې وغورځوه:

– مرېه! چيشې ته ولاړه يې؟ هه، واچوه کالي واچوه!

نجلۍ زړه نا زړه کوټې ته ننوتله. لکه پر مور چې له باور سره سره په دغه کار کې خير نه ويني. له فلزي بکس څخه يې يوه غبرګه جامې ووېستلې. د کوټو مخ ته يې په کټ وغورځولې. ښځه له ځان سره ګډه وه «غوا او مېږه ام په توړې خرڅومه. د خپلو بچو سره به يوځای شي. دی دې سنکټيا وخوري!» په ژړا شوه «ټول عمر ورسره په شرمو شرمېدلې يمه» د تباشير رسم د مور او لور په غوږ کې چيغې وهلې:

– لعل محمد مړ دی. های! اورې؟ لعل محمد مړ دی.

دروند غږ يې انګازې کولې. خو هغوئ نه اورېده. رسم کله د يوې له مخ سره ځان جنګوه کله د بلې. کله يې له متو د کشولو کوشش کوه. مګر چا نه احساسوه. نجلۍ درګرده په بيک کې جامې منډلې. د رسم زړه تنګ شو. د کوټو د پاسه لاړ. په کلي کې وګرځېد. يوې ښځې غوا لوشله. بله په لمانځه ولاړه وه. بلې په نغري کې د اور بلولو کوشش کوه. سړي له جوماته پر سرک راروان وو. رسم يې مخ مخ ته کېده. خو چا نه ليده. اوس ببخي رڼا وه. رسم له ناچارۍ بېرته ماڼو ته لاړ. دوو کسو د لالټې جسد پر څادر سمه تخته اچولی و. يو تن کلي ته منډه واخېستله. رسم جسد ته مخامخ په هوا کې ودرېد. د لالټې ورپام شو:

– چيشی دی؟

د رسم دروند غږ انګازه وکړه:

– ته مړ يې.

– وی ښا. ته ايزرايل الی سلام يې! ستړی مشې يارو! هی په خدای! ای پام دې دی؟ منږدواړه ببخي غبرګونکي ښکارو. ونيسه نو! خپل ورور ته يو سګريټی خو پيدا که کنه! ګران درباندې نه يمه؟

– اخله ـه ـه! عزرايل چېرته دی؟ زه ستا اروا يم.

– ډک يې که ـه ـه!

– بس دی! ډېر دې ډک کړل. دغه حال ته يې ورسولې. نور دې نه پرېږدم.

– چيشی چيشی؟ ته کم د سپي زوی يې؟ لوېشتينکه!

– داح، يو خو ستا خوله نده، ډېران دی. د سرېتوب خبره به ترې وانه ورې.

– څه ستا په سرېتوب...

– چوپ! کنځا نا!

– اوهو! اوهو! امرونه ام کئ! ای ای! کور کې خيريت دی؟ لوی واړه ښه دې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– بس! ماسره به سم غږېږي! یو مې په نشي، بل په کنځا زړه تنګېږي. سر مې ګرځي. سا مې بندېږي.
– اها! خپله قواره دې لیدلې؟ د نانځکې نه چې پښې وباسې. هاهاهاها
– دادی نو! دونیا په لېونې پورې خاندي، لېونی په دونیا پورې. ای! زه نیم په تا کې پاتې یم. چې بدن دې خوسا نشي.
– هاهاهاها، ډیز، ډیز، ډیززززز، هاهاهاها
اروا حیرانه پاتې وه چې ده ته اوس څه ووایي؟ اسویلی یې وکړ. پر خښته یې کېناستله. لالټېې سترګې تېرې کړې:
– ما! ما! لرې! لرې! په تشې مې ونه لګېږې!
– نه، زه وزن نه لرم. تشی دې ولې؟
– ډک یې که هه! ته څنګه اروا یې؟ زما درد نه احساسی.
– درد احساسوم. خو سباکل په څه شي ژوبل کړې؟
– وه خدایه! وړوند وې؟ اغه د سپي زوی دوه واره په امدقه یو ځای کې چونډې نه کړمه؟
اروا په چورت کې سر وځنډه. په تېېر راچنګه شوه. لالټېې غږ کړ:
– وه وه! چیشی کی؟
– ننوځم. د نه سرېتوب دې دا کټه ده چې د عزرایل نه هم هېر یې. پرېده نو چې ننوځم!
– نا، ما درنه غوښتي دي؟ آ؟ لکه کو څه ډبی سپی بې سته راروان یې. ځه ورک شه! ایجازه نشته.
– وا! ته څو مره کم عقل یې؟ قاتلان پیدا که! جزا ورکه!
– ډک یې که هه! بلاګانو ته؟
– بلاګانې؟ نه نه، هغه مخپټې بنیادمان وو. پرېده نو! زه چې درننوځم، څه چې ما لیدلي ته یې هم وینې.
– ناء. نه غواړمه. رنګ دې ورک که!
– ښه؟ همداسې؟
– نو چیشی؟
– پښېمانه به شې. بیا چې زارۍ وکې، دغه مردار مخ ته دې ګورم هم نه. پوه شوې؟
– هاهاهاها، اوس دې منمه چې زما اروا یې. کنځا کوه! زړه یخوه یارو!
– دا کنځا نده. حقیقت دی.
– خیر دی! چې ماسره ګرځې په کنځا به ام راشې. هاهاهاها
– نهء. زه به تا د کنځا نه راګرځومه.
– چیشی؟ ستا اغه پلار یې نشي کولی، ته خو یې لوېشتینک بچی یې.
– وبه ګورو! خبره واوره! ته خو ما نه پرېدې چې درننوځم کنه؟ هلته زما او ستا ښځې کالي ټول کړي. روانه ده.
– په مخه یې ښه! چیشی چیشی؟ اغه زما ښځه ده. بل وار دا جک ونه وهې!
– زه ستا اروا یم! زما هم ده.
– غلی! غلی د سپي زو! په دا خوله دې وهمه!
– ته؟ هاهاهاها، تا کې دومره غیرت له کومه شي؟ ای خبر یې؟ هغه غوا او مېږه هم بیایي.
– ډک یې که هه! ته خو تر ځانه ام قمقل یې ولا! ټول کور دې په شا کې. مړی پې چیشی کئ؟ هاهاها.
– وه دا څه وایې؟ اغه د لور سره د هاشم کړه ځي. د هاشم او یاسین کره. پوه شوې که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– بلا ورپسې!

– وه! وه! هغوئ زموږ پروانه ووژله. هېر دې شول؟

– چېرته مې هېرېږي؟ خدای ام زما ښېرا واورېدله. مټرېې چپه شو. خو کشکې د دوو ورونو په ځای یاسین مړ و.

په کلي کې د ماښو خواته کورونه خبر شول. سړي له یو مخې ور وځغاستل. تا به ویل لالټې یې د سترګو تور و. د هغه په نشت کې ورته کلی بد ښکاري. مګر نه، په دې کې یې خپله ګټه لیدله. له یوې خوا به د بې کسه مړي په سمبالولو کې ثوابونه وګټي. له بلې خوا به په راتلونکي کې د دوئ خپلو جنازو ته خلک ډېر راشي، په عزت به یې خاورو ته وسپاري. کلیوال ماښو ته ورسېدل. د لالټي جسد یې په کټ کې کېښود. حیران وو چې د مړي بدن ولې شخ او سپک دی؟ چا ویل شهید به وي. چا ویل وخت کم تېر شوی دی. اروا لالټي ته کړ:

– وینې؟ که مخکې پاڅېدلی وې خلک کم وو. غوغا به نه جوړېدله. څه خیر دی. اوس هم ما پرېده چې ننوځم.

– هاهاهاها، ښا نو چا وګټله؟ څوک زاری کئ؟ آ؟

– اخله‌ـه‌ـه! زه ستا دپاره وایم.

– ورک شه! زما دپاره مه وایه!

جنازه کور ته ورسېدله. کټ یې په حویلۍ کې کېښود. د ښځو شور او انګولا شوه. خلک ډله ډله ننوتل. مروې د پلار په ببره ږیره مخ لګولی و. چیغې یې وهلې. مور یې په کریکو زانګېدله. ویل یې ژوند مې تباه شو. اروا لالټي ته کړ:

– دا وینې؟ ته چې هر څومره د ډېران خلي وې، مګر دې ته منلی وې.

– هح، اسې خو د کلي ښځې ددې نه ډېرې بغارې وهي پروفیسر صیب! ما ته نصیت مه کوه ښا؟ زه تا نه ډېر پوېږمه.

– بالکل بالکل. سړی چې هر څومره ډېر کم عقل وي، هغومره ورته ځان غټ عالم ښکاري.

– اغه ته یې ښا؟ هاو، په لور ګران یمه. او دا د مېږې او غوا رمبارې اورې؟ اغئ ام خفه دي. مګر دا ښځه نده؟ دا سخته مکاره ده. چې جوندی وه مه سمه خبره مې تې وانه ورېدله نو. پرېده چې زما قدر ور مالوم شي!

– نه، چې تا په هغې دنیا کې څه لیدلي؟

– هاهاهاها مه کوه یارو. تا نشه نده کړې. بل ډول خوند کئ. او په جنت کې چې هر څونه چرس غواړې شته. اخ چې زر ورشمه. چې د چرسو په ډېرۍ ولو غړېږمه. چې د ډانګ غوندې سیګرېټې ډک کمه. هت! کش وهااااا! چرسیان سګرېټیان شازلمیان غیرتیان ملایان مکتبیان اسې خوشې کدوان.

– اخله‌ـه‌ـه! ته فکر کې جنت د چرسیانو ځای دی؟

– هاو کنه. دا نور خو د جوند په خوند نه پوېږي. خدای پاک یې ولې جنت ته راولي. التبه ام بروس ناست وي. چې او ښیار ښکاره شي. د عشق په ځای به حورو ته نصیتونه کئ.

– توووو به! ښه څه! ته چې نه یې، لور او ښځه به دې څه کئ؟

– خوشالي به کئ، ګډېږي به. څوک په مړي پسې مړ دی یارو؟

– دا نو د سړي خبره شوه؟ هو رښتیا، ته خو سړی نه یې. د خرو سره هم فرق لرې. هغوئ یوه لکۍ لري، ته دوه.

اروا ترې روانه شوه. ده ورپسې غږ کړ:

– ډک یې که‌ـه‌ـه! ښه ده چې ته بې لکۍ خر یې. هاهاهاها

∞∞∞∞

په سهار کې له هرې خوا د مهترلام بازار ته خلک خوشې وو. چا پلې ځان رسوه، څوک پر بایسکل انډی انډی کېده، چا ربړه ټېل وهله، څوک په رکشا کې تنګ ناست و. پر سرکونو جم او جوش ورو ورو زیاتېده. هر چېرته د قلفونو کړسه هار او د آهن چادر غره

(c) ketabton.com: The Digital Library

هار جیګېده. سباګل د دکان په ویترین، جعبو او دېوالونو کې د سروزرو ګاڼې وشمېرلې. احتیاط یې کوه. هابله ورځ د خوراکي توکو د سرای چوکیدار په غلا نیول شوی و. هغه دومره ښه سړی ښکارېده چې وروسته تر نیول کېدو هم ځینو باور نه کوه. د غله کار له ورایه ښکاري. قلف الوتی او دکان تش وي. مګر د چوکیدار غلا څوک لیدلی نه شي. لکه د پیسو له بنډل څخه چې یو زرګون وباسې. یوازې د بنډل په شمېرلو معلومېږي. اوس ګاڼې پوره وې. له شتري واسکټه یې موبایل وباسه. ډاکټر خوشال غېږیز پیغام پرېښی و «پلاره سلام! سکال کابل ته رانغلې. هوا ډېره ښه ده. راځه چکرې به ووهې. نوي ماینات به دې وکم. له غوږ سره ګوره ډېر پام کوه!» سباګل اسویلی وکړ. په موبایل کې یې شمېرې واړولې. د لالټې په نوم یې ګوته کېکاږله. ښځینه غږ وویل چې دغه شمېره له ساحې وتلې، یا ګل ده. د پښو ترپې شو. پلن ټیټکی ګاونډی یې د دکان مخ ته راغی:

– الکه سباګله! نن غرمه دې د ډوډۍ وار دی. د پسه کړایي به راکې!

– وه وروره ګله! پرون دې وخوړله. د وینو غوږ به پیدا کې. نن به درله لونګینه ترکاري راوغواړمه.

– ښا؟ زمنږ په وار کې د وینو غوږ نه پیدا کېږي، ستا په وار کې پیدا کېږي؟

– په ایمان که دروغ وایمه! دغه دی داه! امدا اوس مې ډاکټر زوی راله ویلې چې غوږ ونه خورې.

نورو دکاندارانو هم غږ کړ «د پسه کړایي خورو، کړایي خورو...» سباګل سپینه خولۍ په سر کېکاږله. شا یې وګرځوله. لکه خبرو ته چې وخت نه لري. ته وا شپږم حس یې وایي چې پر لالټې کوم څه شوي دي. د هغه په شمېره یې بیا ګوته کېکاږله. اوس هم بنده وه. تندی یې راټول شو. په دکان کې وګرځېد. موبایل یې لکه پکی خوځوه. ترڅه ځنډ وروسته یې بیا کوشش وکړ. زنګ تېر نه شو. سپین څادر یې له چوکۍ څخه واخیست. دکان یې بند کړ. روان شو. ګاونډي وریسې نارې کړې:

– اله چې سباګل وتښتېده! وه الکه ای! راوګرځه! د کړایي نه تېر. بیا دې څوک ونه غولوي.

دکاندارانو هرررر وخندل. خو سباګل لکه فیلسوف په خپلو اندېښنو کې ډوب و. په لاره کې یې بیا د لالټې شمېره ووهله. ښځینه غږ هماغه خبره تکرار کړه. دی ورته برګ شو «غلې د چرچري لورې!» د سالاو اډې ته ورسېد. میدان تش و. د سورلۍ موټر نه ښکارېدل. نیم دکانونه لا بند وو. ځوان دکاندار د اوړو او وریجو بوجۍ بېرته دننه کولې. دده په لیدو یې غږ کړ:

– سباګل ماما! خبر شوې؟ لالټې بېچاره خو لاړ.

– وی نا. انا لله و انا الیه راجعون، دا اوس ربښتیا ده؟

– هاو وا. امدا اوس مې ابا ټلیفون کړی و. بېچاره! ځوانه لور او ځوانه ښځه یې پاتې شوه.

– اخخخخ، خدای دې وبښي! وروره ګله! ډېر جانانه سړی و. قاتل څوک دی؟

– خلق وایي نیمه شپه کې پېریانو ماټو ته بیولی. الته یې زندی کړی دی.

– نا، پېریان ناحقه په چا غرض نلري.

– اغه نیمه شپه کې متیازو ته وتلی نشو. نو ماټو پورې څنګه لاړ؟ ته وایې چا به وجلی وي ماما؟

– ماله څه مالومه ده؟ اسې خبره مې وکړه. تاسې جنازې له ځئ؟

– هاو کنه. په دا سبایي کې دوکان خوشې تړمه؟ وه الکه شېرو ای! منډه مټر وباسه کنه! څه ته ولاړ یې؟ زر کوه!

– وروره ګله! زه هم درسره ځمه.

– هاو کنه ماما. ستا خو انډیوال و. ته لږ په تخت کېنه! اوس الکان راټولېږي.

∞∞∞∞∞

دوه سپینې پېغلې د خوب په لاجوردي بلوزانو او پتلونانو کې په پراخه زینه لکه جوړه کوترې کوزېدلې. د نصواري ښیښې په کټاره یې تنکي لاسونه ښویول. پر دېوال رنګارنګ منظرې شاته پاتې کېدلې. پېغلې د دویم منزل سالون ته کېوتلې. د نصواري کوچونو په منځ کې د نصوراي ښیښې پر مېز خواږه منظم او بدل شوي وو. دوئ په زېړچکه قالینې قدمونه واخیستل. په کوچ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګ په ځنګ کېناستلې. په سوري سوري زينتي دېوال کې د ننه يې د برېتور نيکه نيکټايي داره عکس ته وکتل. ځراغونو روښانه کړی و. د کور لويوالي، ښکلا، پاکوالي او د هر ډول سهولتونو شتون ذهن ته سکون ورکوه. کړس شو. له ځلورو دروازو ځخه يوه وازه شوه. هېواديار سندره زمزمه کوله سالون ته راغی. نجونې وبنګېدلې. ويل پلار بيا په کار کې کومه لويه کاميابي ترلاسه کړې؟ خو پوښتنه يې ونه کړه. د هېواديار اصول وو (د کار کيسې په کور کې مه کوئ، د کور کيسې په کار کې) د اوږدې کمڅی نجلۍ د پنېر ټوټه په ډوډۍ کېښودله. ويې ويل:

– پلار جانه! سپين پکول له سپين واسکټ او شتري جامو سره اور لګوي.

– مننه مننه. زما ذوق به منئ!

– امم مګر په دا تک تورپېکي کې بيا سمدم شازاده ښکارې.

پلار يې وکتل. نجونو ځانونه ناګاره ښودل. لکه له مصنوعي وېښتانو چې بيخي خبر نه لري. دا راز يې يوازې ښځو ته معلوم و. که هغه پوه شوی وای چې ميندو يې لوڼو ته ويلي دي نو قيامت به يې جوړ کړی وای. اوس هغه وپوښتل:

– نا نو، زما په وېښتانو کې کوم ورانی دې ځه؟

د چکۍ وېښتانو نجلۍ ځو مياشتې له خور ځخه مشره وه. هغې د مربا د مرتبان سر خلاص کړ. ويې ويل:

– هو کنه. د الکانو ستايل دې لګولی دی. د سې ښکارې لکه زمونږ ورور.

نجونو کټ کټ وخندل. هېوادايار هم ورسره په خندا شو. دوه ښځې له بېلو بېلو کوټو ووتلې. تې خواره کمکيان يې پر اوږه اچولي وو چې فيشن يې خراب نه کړي، او د سروزرو درانده سيټونه ونه شکوي. هغوئ د پاچا د وزيرانو په شان د هېواديار دوو خواوو ته کېناستلې. ده کمکيان واخېستل. ښکل يې کړل. هغوئ د تل په شان دده په مخ منګولې ولګولې. ځکه خو يې پړانګان بلل.

جيګې نرۍ ښځې نجونو ته امر وکړ:

– اله خويندو او ورونو ته غږ کئ اله! چې ناوخته ويده کېږي امدا يې سزا.

نجونو دريم منزل ته منډه واخېستله. د هرې کوټې دروازه يې ټکوله، بيا يې خلاصوله. د پاځې پاځې غږونه يې راتلل. شېبه پس ډله ماشومان راکېوتل. چا سترګې سولولې. چا اسويلي کول. د هرې ښځې بچيان د هغې خواته کېناستل. ميندو ورته لکه په يوه قومانده ګيلاسونه له جوسو ډک کړل. چې چا د چا تقليد کوه، معلومه نه وه. جيګې نرۍ ښځې خپلو بچيانو ته کړ:

– واخلئ جوس وسکئ چې اشيتيا مو پيدا شي!

ماشومانو لکه د محبس بنديان، ځوړندې ککرې مړې وخوځولې. هېواديار وپوښتل:

– ولې مو مخونه داسې بې خونده نيولي؟ وخاندئ! ټوکې وکئ!

ښځو هره مړۍ لکه ګولۍ د ننه په ژبه کېښودله، چې د شونډو رنګ خراب نه شي. نرۍ مېرمن د بچيانو په ځای ځواب ورکړ:

– ځنګه به وخاندي؟ مکتب ته تګ ندی، قيامت دی.

کمکيانو د هېواديار مصنوعي وېښتانو ته لاس اچوه. دا يوازينی کار و چې دده نه خوښېده. يوه ورځ خو يې په همدغه عمل خپله مشره لور په اته کلنۍ کې ووهله. هغې د پلار دومره غصه کله ليدلې نه وه. ډېر يې وژړل. مور يې مجبوره شوه چې د مصنوعي وېښتانو راز ورته ووايي. نجلۍ بيا هر راز خپلې ميرنۍ خور ته وايه. ميندو تل تاکيد کوه چې پلار پوه نه شي! که نه، دنيا به بل مخې واړوي. اوس هېواديار کمکيان بېرته ميندو ته ورکړل. نرۍ ښځې ته يې وکتل:

– ای جينۍ! غوصه نا. زما بچيان به په مينه پوی کی. چې نشې کولی ستا کمزوري ده. ځئ بچيانو! نن رخصتي ده.

ماشومانو له ډېرې خوښۍ چيغې ووهلې. پلار يې په مخ مخ ښکل کړ. کوټو ته يې منډه واخېستله. تا به ويل سويان د ګيدړې له وېرې ځانونه سوړو ته رسوي. هېواديار په موسکا ورپسې کتل. يوازې دواړه پيغلې پاتې وې. نرۍ ښځه په غصه شوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– دا څه کې؟ دونه نازولي يې مه بلدوه! بې تعليمه بچي مې نه خوښېږي.
چاغې ښځې شونډې واچولې. د چکۍ والا پېغلې ته يې کړ:
– وخوره لورې! ډوډۍ وخوره! چې لږه غوښه والې! بيا چې کوم دی خواره مېښه درنه سازه نشي.
نرۍ ښځې غږ کړ:
– کترې مه وايه! کاسه دې په بوين سر اړومه!
– وی، خور بي بي. ته چې کوم دی سمه شيشکه يې! تاله ما څه ويلي؟
– اوح اوح اوح، مکارې ته ګوره؟ زه چې تا غوندې مردار خورې سره ډوډۍ خورمه شوکر وباسه! پويه شوې؟
– څه څه؟ مردار خوره دې خپله ممي ده! د شومېړک لورې!
مېړه يې پکول په سر کېښود. په قهر شو:
– بس! بله خبره وانه ورمه!
مخ يې چاغې ته کړ:
– ګوره! که دې بل وار کترې ويلې وې...
– څه به وکې، هه؟ کال مې د واده نه کېدو بنه دې راباندې راستله. نور به څه وکې، هه؟
– ګوره! سل واره جوول شوې جاولې بيا مه جووه! خوند نکئ. او دا مه وايه چې څه به وکې؟ ما په تاسې کې فرق ندی کړی. په زوره ځان له لانجه مه ګوره، ښا؟ ونيسه ته ام تکړه شه! دې غوندې په خپلو بچو درس ووايه!
دې کې ټيټه نرۍ ښځه له پتنوس سره په زينه راوختله. هېواديار په شونډو ګوته کېښودله. دواړه مېرمنې غلې شوې. ددوئ په عمر خلک معمولن تجربه لرې. پوهېږې چې پردې خلک تر هغو راز ساتې څو چې يې پکې ګټه وي. وروسته بيا د راز په افشا کولو خپل مهموالی ثابتوي. ټيټې نرۍ ښځې نيمې پخې هګۍ دده مخ ته کېښودلې. هېواديار سترګې جيګې کړې:
– فاطمې خاله! تاله مې ويلي وو ښځو سره مې بازار له ځه.
فاطمه خاله له لېرې ځوانه ښکارېدله. مګر له نژدې يې مخ ګونجې و. هغې اول ښځو ته، بيا هېواد يار ته وکتل. ويې ويل:
– امداسې کومه ريس صيب.
– پرون دې نه وو کړي.
– دلته کار ډېر و.
– پرې يې ده! چې راغلې بيا يې وکه!
– صيي.
هغه بېرته اول منزل ته کېوتله. پېغلو سرونه ښکته اچولي وو. ډوډۍ يې تېزه تېزه خوړله. لکه د پېښېدونکي کړکېچ اټکل چې يې کړی وي. هغوئ ليدل چې د پلار او ميندو ترمنځ يې نا اعلان شوې سيالي روانه ده. دی غواړې هغوئ په کنټرول کې وساتې. هغوئ غواړې آزادې واخلي. اوس دواړه ښځې تروې وې. د چاغې د خال والا زنه وخوځېدله:
– د خبرې نه ړومبی لږ سوچ کوه! فاطمې خاله له مو مه شرموه!
– ايځ خبره نشته. اغه لکه مور داسې ده.
نرۍ برګه شوه:
– تاته به مور وي. مونږ ته نده. چې زوړ شوی يې د خدای رضا ده. په مونږ کار مه لره!
سړی هم برګ شو. ښځه يې ټېل وهله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– د زوړ شوي نه دې مطلب څه دی؟ هه؟
– وار مه کوه! ماغزه دې ختم شوي. حوصله دې نشته.
پیغلو سر نه جیګوه. لکه کتل چې یې مداخلې ته مجبوروي. او دا بیا مشکل غټولی شي. چاغه ښځه موسکۍ وه. هېوادیار هغه هم په تېره منګوله په مخ چوخه کړه:
– ته څه له خاندې؟ هه؟
د ښځې موسکا لاړه. تکه سره شوه. پیغلو خوراک ختم کړ. کمکیان یې له میندو واخېستل. اول منزل ته کښېتلې. هېوادیار مخ ښځو ته واړوه:
– ګورئ! ښه یې واورئ! د ناموس خبره کې یوه ذره اخوا دېخوا نه منمه.
چاغې سترګې جیګې کړې:
– ته چې کوم دی لېونی شوی یې. دا څه وایې؟
– آو، سم ـمې به په لاره ځئ! پیغلې لورګانې لرمه. چې اغئ بې لارې نشي ګورئ!
– یه پروردیګاره! ای ته غر په پر مه پټوه، ښا؟ خپله چې هر څه کی اغه په مونږ ماچوه، ښا؟
نرۍ ښځې چاغې ته لاس جیګ کړ:
– ته صبر صبر! وه سریه! کترې کنایې پرېده! سمه خبره وکه! مونږ نه کوم بد کار شوی؟ څه دې اورېدلي؟ څه دې لیدلي؟
هېوادیار په سړه سینه، په دروند غږ وویل:
– نا نو، بد کار چې وشي تاسې به جوندۍ ګرځئ؟
– ښه نو ولې؟ ولې په مونږ بې باوره یې؟
– بې باوره نه یمه. خو ما لیدلي. پیسه داره ښځې چې هرچرته واره برابره شي، یارانې جوړئ.
– سوچ دروغ. ښځو کې سړو غوندې اوربل نه وي.
– ما په خپلو سترګو لیدلي.
– چېرته؟
– ته یې څه کی؟
چاغې غږ کړ:
– په خوب کې یې لیدلي. خوشې خو په شپه کې چغې نه وهي.
– په ویښه مې لیدلي. په خپل دکان کې.
د دواړو ښځو له خولې «وی ی ی ی» وخوت. هغوئ هرکله د مېړه خوله او موبایل لټوه. څو د هغه ناروا رابطه له بلې ښځې سره ومومي. هسې نه وه چې غصه ورتلله. مېرمنې تر هغو پورې مېړه لکه قیمتي غمی ساتې چې دا یې یوازینۍ ښځه وي. د بلې ښځې له کولو سره مېړه لکه د خیرات کاسه شي. په دوئ یې فرق نه وي چې چېرته پرته ده؟ او څوک پکې لاس وي. اصلن ښځو غوښتل د مېړه د ناروا اړیکې په موندلو د هغه غرور مات کړي. څو په کور کې یې قوماندانې ختمه شي. مګر هېوادیار هېڅکله کیسې نه کولې. خبرې یې ټولې د کور په روانو مسایلو څرخېدلې. اوس چې هغه خپله اقرار وکړ، د ښځو په څېره کې خوشحالي وبرېښېدله. ایله موقع په لاس ورغله. نرۍ خپل تندی تریو ونیو:
– الاااااا! په تا موڅونه ایساب کوه. ته خو د سپې مردار خور شې وختلې.
– خوله سمه خوځوه! زه نه ومه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاغي کړ:
- غلي غلی! اوس چې کوم دی خبره دې د خولې نه ووتله؟
- نا، څنګه وویمه؟ ښه ځا، اوس مړ دی. خدای دې وبښي نو. پلار مې و.
د ښځو سترګې تنګې شوې. په سوري سوري زينتي دېوال کې دننه يې د خسر نېکتايي دار تصوير ته وکتل. هېوادیار وویل:
- په خیرخانې کې زمونږ د خیاطۍ دوکان و. د ښځو جامې مو ګنډلې. د یو پیسه دار سړي ښځه وه. د جمعې په ورځ راتله. پلار به ماله پیسې راکړې. لرې هوټل به يې وښودو. ویلې څه کباب راوړه. وایه زما مخ کې يې پاخه که! زه به کباب له خوشاله ومه. چې بېرته به راغلمه ښځه به تلې وه. ګاونډي الک پوی کړمه چې پلار ما ولې لرې لېږي. نور به مې په نږدې هوټل کې کباب واغستل. د مارکېټ مخ کې به ولاړ ومه. چې ښځه به په زینه کېوتله، زه به دوکان ته وختلمه. بیا د ښځې مېړه پوه شوی و. په پلار پسې مې ګرځېدو چې ویې وجني. مونږ ډک دوکان، ډک کور پرېښودو. پېښور له وتښتېدلو.
ښځو یو بل ته وکتل. دا هم ورته لویه کامیابي وه چې سړی په کیسو راغی. خیر دی. وروسته به يې خامیانې راووځي. نرۍ کړ:
- که ته وې که دې پلار، مو همه نده. مونږ اسې ښځې نه یو ښا؟
- پوهېږمه. ټولې سمې ښځې وې. سم جوند لرې. بس په مغزو کې يې ډزوشي. ګورئ چې دا قیصه بچو له ونکئ!
ښځې په خوراک اخته شوې. هېوادیار چې ډوډۍ ختمه کړه د پینځم منزل تالار ته وخوت. هلته هېڅوک نه و. دروازه يې بنده کړه. د پینګ پانګ تر مېز تېر شو. له سپین واسکټ څخه يې نوی سیمکارت په وروکي موبایل کې واچوه. واسکټ يې په سپینو کوچونو غورځوه. د سنوکر مېز ته ودرېد. په غټ موبایل کې يې نوې شمېره مسېج کړه. بیا يې زنګ ووهه. دواړه موبایلونه يې د مېز په ژۍ کېښودل. غلې غلې يې زمزمه کوله. د سنوکر لرګی يې واخېست. سپینه دانه يې ووهله. هغه کړس له شنې سره ولګېدله. د کرښې هاخوا سرې سورور مېز ته ناست و. په کمپیوټر کې يې کوم څه لوستل. شاته يې د افغانستان اقتصادي نقشې ته وکتل. وروسته يې په اوږدو ګوتو د مېز له جعبې کتاب واخیست، چې د کمپیوټر د معلوماتو کره والی معلوم کړي. دې کې ترنګه هار شو. د مېز له سره يې غټ موبایل جیګ کړ. شمېره يې وکتله. له موسکا سره يې اوږد مخ ګونجې وکړې:
- هېوادیار صیب! ښه وخت کې دې ټلېفون کړی. مراجعین څه چې مامورین لا راغلي ندي. چې بیا دې زړه د سنوکر بایللو ته شوی څنګه؟
- وزیر صیب! تصافات کله کله پېښېږي.
- هاهاهاها، تېر وختونه باد یوړل. نور به یوه لوبه ونه ګټې.
- ته لږ اوصله وکه کنه! پته به يې ولګي. ما ویلې نن نه درځمه. که زهیره کېږې نا، له آفیسه ووځه! واش روم ته شه!
وزیر پاځېد. مېز يې تر زنګنو و. د تورې کورتۍ لاندې د سپین کمیس لمن يې په منګوله ووهله چې هواره شي. ویې ویل:
- یو خو تا دا پېښوري لهجه پرېښودله. کابلۍ ته شه! ته په اصل کې د پروان ولایت يې، کنه؟
- هاو. پېښور کې مې سکول کړی. شناختي کاټ لرمه.
وزیر د جیګرې کوچونو او الماری تر منځ قدمونه اخېستل. د بیبېنې پر مېز له رنګارنګه مېوو څخه يې دوه بادامه خولې ته واچول. د احمد شاه بابا د لوی تصویر څنګ ته دروازه يې ټېل وهله. وروکي دهلېز ته ووت. ویې ویل:
- په یاد مې دي. ته خدای وهلی د امغه سړي د ښځې سره جوړ وې چا چې درته زوی وویلې، په مکتب کې يې واچولې، شناختي کارت يې درجوړ که، د تاریخي اثارو په توجارت يې پوی کړې، ستا کورنۍ يې له غریبۍ وباسله...
- نا، اغه ښځه شنډه وه. خاوند ته يې د دویم واده جزا ورکوله. زه خام ومه. ورک يې که! مه يې رایادوه!
- هاهاهاها پخوا دې راته هره خبره کوله. اوس پې شرمېږې. دا د مقام تاثیر دی. د مقام دپاره کابلۍ پښتو هم وایه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

– څه فرق لري؟ دې کې عربي ډېره ده، اغې کې انګرېزي. ښه ځا، پوهېږمه. دا کابل دی. دلته به کابلۍ ویمه.
هېوادیار د سنوکر دانه بیا ووهله. کړس شو له نورو سره ولګېدله. وزیر لوی تشناب ته ننوت. ټلیفون یې بند کړ. هنداري ته ودرېد. په شناوی ږیرې یې لاس کش کړ. د سر د لنډو وېښتانو یوه برخه یې ولاړه وه. کې یې کاږله. ونه شوه. د الماری دروازه یې خلاصه کړه. د عطرو یو بوتل یې واخېست. ګوته یې لمده کړه. د غاړې په دواړو خواوو یې ووهله. نوی سیمکارت یې په نوي موبایل کې واچوه. په لوی موبایل کې یې د هېوادیار د نوي سیمکارت شمېره وکتله. هماغې ته یې له وړوکي موبایل څخه ټلیفون وکړ:
– هېوادیارصیب یې؟ هاها، دا دی خوږ ته راغلمه. موږ په کلي کې د تشناب کارونه په خوږ کې کول. ښه، دا د څه دپاره؟
– احیتاط ښه دی. ویمه چې ستا په دفتر کې مایکونه او کمرې لګېدلې نه وي.
وزیر په تشناب کې کموډ، شاور او ځراغونه له نظره تېر کړل. بیا په خندا شو:
– پیسه داري او مقام د ځنګله د ځناورو په منځ کې اوسېدل دي. هره ګړی د حملې امکان وي.
– او د داړل کېدو حوصله به هم لري! ما ویلې لالټهی بېچاره وفات شو.
– خدای دې وبښي! څه پوه شوې؟
– یاسین فون کړی و. بیا سباګل ام تپوس وکو. رښتیا وه.
وزیر لاس د نل په اوبو کې لوند کړ. په ولاړو وېښتانو یې ووهه. ویې ویل:
– ښه نو اوس؟
– اوس به یاسین د جینۍ سره واده وکي. مځکه به اوتومات دده شي. مرحوم همدا یوه لور لري کنه.
– ښه نور؟
– مونږ به مځکه د یاسین نه واخلو.
وزیر په هنداره کې ځان ته ښه وکتل. وېښتان یې سم ناست وو. اوبه یې بندې کړې. ویې ویل:
– خدای دې وکي چې په دې وارزي.
– بالکل ارزي.
– هېوادیار صیب! ستا خدمت د قدر وړ دی. ډېرې ډېرې مننې!
– نانو، داسې مه وایه! زما او ستا خو وروري ده. ځکه مې اخېر ځل سنوکر درله بایلود و هاهاهاها.
∞∞∞∞

د سالاو د بېلابېلو کلیو خلک شربت خېلو ته روان وو. ښځې لږې ښکارېدلې. اکثره زړې وې. ټولو د لالټهي بې کسي، عاجزي او مجبوریتونه یادول. او داچې څومره ربړې یې وګاللې. د معتادی علت یې هم همدا ښود. ویل لوټو ته ښه پلار و. خلک یې په خپلو ټوکو خندول. دروغ یې هم د نورو د خوشحالولو لپاره ویل. د هغه په لیدو به غم هېر شو. جنتي انسان و. د دغو خبرو په اورېدو به نابلده سړي ته لالټهي سم قهرمان ښکاره شوی وای. څه پوهېده چې په ژوندوني همدغو خلکو د هغه همدا ښېګڼې نه لیدلې. هرچا تر خپلې وسې سپکوه. خلکو د جنازې کټ له کوره وباسه. د ښځو چیغو زور واخېست. کټ یې پر سرک کېښود. په سلګونه سړي ترې راتاو شول. ډبه شکله موټر تېز راغی. د کلسري ماشوم څلور تورې وزې وتربدلې. سره چرګه په تېښته کې وکرتېدله. سپین سپي د چنار له سیوري وغپل. موټر تش شو. سباګل وروستی کس و. له دروازې یې ځان په خوارۍ وباسه. کلیوال یې بې حده چاغښت ته ځېر شول. هغه د نورو په شان له لمر څخه سر په سپین څادر پټ کړ. د مړي لیدو ته ورغی. سترګې یې ډکې وې. د خلکو شور شو. ځینو ویل جنازه په پښو وړل ثواب لري. نورو موټر ته ترجیح ورکوله. یوازې یاسین او هاشم په

(c) ketabton.com: The Digital Library

غټه تېره جدا ناست وو. غلي غلي غږېدل. اروا ته یې پو ښتنې پیدا کړې. نژدې ورغله. یاسین د ځټ د برگ دسمال ځنډه خولې ته نیولې وه چې څوک یې وانه وري:

– ولاچې بیا ام ویرېږمه ابا.

هاشم د غټ څلور کونجه مخ شنې سترگې ځمکې ته واړولې. غږیې ټیټ و:

– غلی شه! ایځوک نه خبرېږي؟ ملاذان سره مانو کې څوک څه کئ؟

یاسین د تورو سترگو له کونجه سباکل ته وکتل. بېرته یې مخ پلار ته واړوه:

– هاو، بل څوک خو نه و، خووو، نورې لارې وې. وجلو ته ضرورت نه و.

– وه خدایه! زه درته ویمه ایځ خبره نشته. د ښځو غوندې پړنگېدل بس که نور! خلق یې اوري.

د اروا سترگې ټېغې ټېغې وختلې «ښه ښه ـه ـه! قاتلان دوئ دي» خلکو جنازه موټر ته جیگه کړه. د لالټې ښځه او لور ورسره کېناستلې. چې د جنازې تر لمانځه وروسته یې اخېر ځل وگوري. اوس یوازې دوئ ژړل. فضا درنده او خلک غلي وو. نه معلومېدله چې له لالټې سره په خپل چلند پښېمانه وو، که د هغه بې روحه جسد د خپل مرگ صحنه وریادوله. موټر وړو حرکت وکړ. تا به ویل درنده فضا په سختۍ له ځان سره کشوي. ټول سالاو وریسې و. په دې منځ کې اروا لکه مرمۍ لالټې ته ورغله:

– هله چې پیدا مې کړل. پیدا مې کړل.

– چیشی؟ چیشی؟ چرس؟

– داه! ملامت نه یې. نشه او له حمله په مغزو کئ. وایم وگرځېدلم، قاتلان مې پیدا کړل.

– اووو ښا! د قه جاسوس مخلوق مې نه خو ښېږي. مخامخ درته منکۍ منکۍ کېږي. پسي شا کنده کیني.

– چا ته؟ خلک ما نه ویني. نه مې غږ اوري. زه ستا اروا یم! زه او ته چې یو ځای شو مکمل انسان جوړېږو.

– بدبختانه.

– څه شی، څه شی؟

– ښه ځا پرېده! یو خو ستا اواز، لکه د خیرات د بند دېگ نه چې راوځي. عوم عوم، عوم عوم.

– بس که بس! ستا په پزه کې بنگېدلو څخه اوس هم صفا دی.

– ډیز، ډېز، ډیززززز! ښه ځا، د چا قاتلان دې پیدا کړل؟

– وه وه وه! ماغزه دې بیا چارج نه لري؟ ستا قاتلان کنه.

– اووو، ښه ښا، څوک دي؟

– یاسین او هاشم.

– ډک یې که ـه ـه! هاشمې؟

– هو. زهرجنه مېوه له زهرجن بوټي پیدا کېږي ښه؟ زوی یې ویل وېرېږم چې خلک به پوه شي چې مور وژلی دی.

– ښاااااا! دسې د سپي زامن دي ای.

– ښه نو څه کی؟

– ایځ. بلا وریسې! ما ویلې ته بل کار وکه! دا خلق وگرځوه! ما دې پاس د غونډۍ په سر خښ کې! نېټ کې زمنږد یو لیکوال ام امدقه ارمان و.

– حمم! جالبه ده. د لیکوال په مقصد خو پوهېږم. چې ته هلته څه بلا غواړې؟

– زه؟ چې نر غوندې سیگرېټې وهمه، او ټول کلي راته جینگې داړې گوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– هاهاهاها، ای تا څه وویل؟ ته دې په خپله خبره پوه شوې؟
– بالکل! تا قمقل ام پویو مه. دې ته وصیت وايي ښا؟
– هو. د رواني مریض د غچ اخېستلو وصیت. دومره نرېږې پاڅې له قاتلانو څخه غچ واخله!
– وه په تا پورې څه؟ ومې ویلې نه یې اخلمه. ډېر یې ښه کړې. نه یې اخلمه.
د لالتهې زړه ډک شو. بیا یې وویل:
– ښه یې کړي. دونیا کې چیشی دي؟ هرڅوک به راباندې راخوشې و. این ماشومانو په تېرو ویشتلمه. چا ورته نه ویلې چې ولې؟ دا ښځه مې نده؟ د جوند نه یې زړه راتور کړی و. وارونه، ښېرا، اله سر دې وخورمه پتهی دې ندی لو کړی، اله خاورې دې په خوله شه کالي مې نشته! اله خدای دې مړ که غنم جرندې ته وېسه! ...
– هاهاها، ته اوس په دې ژاړې چې په تا یې کار کوه؟
– ناااا! په دې جاړمه چې دا د سپي لور بیا په ما ډېره ګرانه وه. پوهېږې څونه سخته ده چې یو څوک په تا ګران وي، او اغه دې په بلا وهي؟ ته یې په یوې خوږې خبرې پسې مرې، او د اغې ښه خبره ښېرا وي؟
– نو څه یې کړې وای؟ ته نه د ځانه خبر وې، نه د جهانه.
– څنګه نه ومه خبر؟ دا کارونه دې ادې کول؟
– ادې ته خوله مه اچوه!
– ښه کومه. اغه ام امدقه سي وه. یوه ورځ یې ونه ویلې چې زویه! کېنه لږ سګرېټهی ووهه، چې د زړه تپ دې ووځي!
– اخله‌ـه‌ـه! ستا په جزا هماغه ابا ښه پوهېده. اول وار خو یې د چرسو په یو کش دومره ووهلې چې پرتوګ دې لوند که.
– ای قمقله! اغه اسې د تهو قو کش و. لوګی مې تېر کړی نه و. ابا زه ناحقه خفه کړمه. املته مې د جوند نه زړه تور شو.
– هاها، زړه به دې هلته تور شوی وای، چې هغه ژوندی وای، او ستا له نشې خبر شوی وای.
– وه ته خو بېخي د عقله رخصت یې. اولاد ته ارزښت ورکول د اغه نه سړی جوړیږ ښا؟ څه مالومه ده؟ که امقه وهلو زه چرسي کړی اوسمه.
– داه، تا غوندې کچه به بل په دنیا کې نه وي. اوس د خپلې نشې ملامتي په ابا اچې؟
– نو په چا یې واچومه؟ خپله لاړ. زه یې حاجي چمن ته یوازې پرېښودمه. څونه سختې راباندې تېرې شوې؟
– ښه هغه؟ لږ شرم وکه! پتهی یې هم ستا نیولی و، پټ هم ته وې چې حاجي چمن دې ونه وهي.
– نا، اغه خو وایي پتهی زمنږ دی. ستا نیکه په زوره جر کړی و.
– هه، څوک چې غصب کئ خامخا به دلیل تراشي. ته هم په دې ښه پوهېدې. له بې ننګیه پټ وې. بیا له دقیته دې نشه پیل کړه.
– پاسې لوېشتینکه! په یوازې ځان د شلو سره جنګ کېږي؟
– چې ابا ژوندی وای تا به لیدلی و. جنګ د خلکو په تعداد نه، په عقل ګټل کېږي. ته او عقل خو سره وران یئ.
– ټرت! نا، ستا ولې ما سره ورانه ده، آ؟ زور درکئ چې غټ غټ خلق مې صفت کئ؟
– څوک؟ هېوادیار او سباکل؟ هح، هغوئ درپورې خاندي.
– ډک یې که‌ـه‌ـه! سخت سوزې. ای کم ځای دې ډېر سوی کئ، آ؟
– یاره نو، چې خدای پاک زه ولې ستا بدن ته درکولم. جزا به یې راکوله نو.
– زما ام ولا که خو ښېږې. وربوز دې هوښیار نیولی. لکه ته چې خټک خوشال خان یې او زه بېړا خان.
– هاهاهاها، فوق العاده مقایسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ډیز، ډیز، ډیززززز. څه ځا، ورک شه! پرېده چې مرو لور مې اخېر وار ښه وګورمه! اخ د اوښکو نه یې قوربانکه شمه!
اروا ورځخه بیا لاړه. موټر تخت ته ورسېد. شاته یو لښکر خلک هم راغلل. د تخت په هکله لالټې هېوادیار ته باټې ویشتلې وې. اصلن امیر حبیب الله خان ته چا د سالاو صفت کړی و. هغه په فیل سپور د درې سیل ته راغی. دلته یې دمه وکړه. وروسته بیا دغه ځای د تخت په نوم یاد شو. دلته هم ډېر خلک جنازې ته منتظر ولاړ وو. دومره جم او جوش په جنازې کې اول ځل لیدل کېده. هرچا کوشش کوه چې د مړي کټ ته د ثواب لپاره اوږه ورکړي. ثواب یوازینۍ انګېزه وه چې خلک یې نیکو کارونو ته هڅول. جنازه یې د جامع جومات حویلۍ ته ننوېستله. اروا د یاسین او هاشم له سره نه لېرې کېدله. د جنازې لمونځ وشو. مړی یې له جوماته بهر وباسه. د لالټې ښځه او لور په کریکو د هغه وروستي دیدن ته راغلې. په مړي پرېوتلې. له ډېرې ژړا څخه یې آوازونه ډډ شوي وو. هاشم او یاسین هم په بغارو پیل وکړ. اروا د هغوئ مکارۍ ته په غټو غټو کتل. له قهره یې د دواړو څلور کونجه مخونو ته سوکان ورکړل. خو هغوئ نه احساسول. اروا ته په همدې هم قهر ورته. پام یې شو چې د باړي بابا د زیارت مجاوران سقات ته په دوو پښو ناست دي. ملک یاسین څنګ ته کړ. ویل له ترور څخه دې وپوښته چې د سقات پېسې ورکوي که نه؟ هاشم واورېدل.
سمدلاسه یې له جېبه پیسې وباسلې. د پنځوس ګونو بنډل یې تیار جوړ کړی و. په غریبانو یې ووېشل. هر چا له کونډې خور سره د هغه مرسته وستایله. یوازې اروا وه چې له قهره لکه لاټو څرخېدله. سترګې یې تکې سرې وې. خلکو کټ جیګ کړ. د باړي بابا د زیارت هدیرې ته یې راوړ. ملا صاحب وروستۍ دعا وکړه. خلکو له امین سره لاسونه په خپلو مخونو راکش کړل. اوس نو د جنازې د خښولو وخت شو. د لالټې د تره غوټ زوی د تیږو تختې د قبر سر ته نژدې کړې. سا یې سوزېدله:
– داخ! دا کړې وړې تختې چا راوړي؟ وړوند و؟
د یاسین نظر د هغه په غټ مخ کې خښ و. هاشم ته وبنګېد:
– ای ابا! ماویلې چې مروه مې واده کړه، د لالټې د تره زامن به یې په ځمکه دعوا ونکي.
– نا کنه. لور ته یې میراث رسېږي. ویمه مه غړېږه! خلق یې اوري کنه.
– ښه ښا، ولاچې که دسې وي لانجه ختمه شوه. ګټه به ام وکو.
یاسین پلار ته موسکی شو. دلته اروا بیا لالټې ته ورغله:
– بله خبره واوره بله خبره!
– نه یې اورمه. تا د سپي زوی نه مې یو شی وغوښته، اغه دې ام ونکه.
– ای ته اوس ربښتا ځناور یې، که ځان داسې ښیې؟ زه او ته خو د یو پلار اولاد یو. خپل پلار ته څوک سپی وایي؟
– کېنه لو پښتینکه! زه مې د ابا اولاد یمه. ته تشه هوا یې. پوففففففف
– راشه نو! وه کم عقله! دا زه یمه چې ته یې. که زه نه یمه ته مرداره غوښه او مردار هډوکي یې بس.
– ټرت! ښه ځا، خبره ماروه!
– کومه خبره؟
– داخ، دسې مکار دی. د غونډۍ په سر خښېدل مې درته ویلي نه وو؟
– خو ومې ویلې زما خبرې یوازې ته اورې. ته خښېدل پرېده! پوهېږې ته یې د څه لپاره وژلی یې؟
– ویمه بلا ورپسې!
– وه ته خو یو وار خبره واوره!
– ومې ویلې چې نه یې اورمه!
– هغوئ غواړي ستا ځمکه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– بلا ورپسې!
– اوهوووو! بلا ورپسې بلا ورپسې! بل شی دې نه زده؟ پوهېږې ځمکه څنګه اخلي؟
– ورک شه کنه! ماغزه مې مه خوره کنه!
هاشم او یاسین جنازې ته نژدې شول چې قبر ته په کوزولو کې برخه واخلي. دلته اروا چیغه کړه:
– ای بې غیرته! یاسین غواړي زموږ مړوه واده کي. ځمکه به په خپله دده شي.
– ډک یې که‌ـه‌ـه! زما مړو؟
– هو هو! ستا مړو. د اغې یاسین څومره بد ایسي؟ له خفګانه به یې زړه وچوي.
– ویمه غټې موزیګې یې په قسم. آرام ته مې نه پرېږدې نو. نه به دې ویل. څه به دې کم شوي وو؟ اوس زرکوه راننوځه! اله اله!
– نه‌ء.
– وه دا څه رذیل دی؟ تږې ته او به ښیې بیایې په ځمکه تویېږ. اله زرکوه چې اوس مې خښېږ کنه!
– نه‌ء، چې تاته هېڅ شی ارزښت نه لري ماته یې هم نه لري.
– وه د سپي زو! ارزښت لري، د مړو جوند راته د هر شي نه زیات ارزښت لري. اله چې جیګ یې کړمه کنه!
اروا په خندا ننوتله. لالتې د خلکو په لاسو کې لکه بلا راپاڅېد. هغوئ له چیغو سره خوشې کړ. دی په کټ کې ولګېد. بېرته نېغ کېناست. لکه د وزو منځ ته چې لېوه ننوځي، واړه او زاړه هرې خواته وتښتېدل. دوه ځوانان په قبر کې ولوېدل. وارخطا وارخطا یو د بل په ملا وختل. د غارې دسمالونه یې پاتې شول. هېچا د داسې پېښې توقع نه لرله. معلومه نه وه چې ژوندی شوی مړی خطرناک دی، که مینه ناک؟ دلته نو شعور د وضعیت ارزونې ته وخت نه لري. اول باید پښې وباسي. لالتې تل له نورو وېرېده. اوس له ده څخه د خلکو ډار خوند ورکړ. د پزې پختې او د زنې ټوټه یې وغورځوله. لاسونه یې جیګ ونیول. غږ یې ډډ کړ:
– هی هی هی ی ی! ودرېږئ ئ ئ! ولا که مو پرېږدمه‌ـه‌ـه‌ـه!
خلکو په چیغو منډو ته لا زور ورکړ. دی له خندا شین شو. برګ دسمال یې جیګ کړ. د کفن دپاسه یې لکه لنګ وتړه. روان شو. لاندې د ویالې په غاړه ښځې هم وتښتېدلې. یوه نیمه دده له مېرمن او لور سره زړه نا زړه پاتې وه. مګر د روان مړي په لید و هغوئ په منډه کې تر سرېیو هم مخکې شوې. دده لور او مېرمن یو بل نیولې وو. لړزېدلې. لالتې غږ کړ:
– اسې خوشې مه وېرېږئ، ښا؟ زه صیبي سلامت یمه.
ښځې په لړزنده غږ وپوښتل:
– اغه، اغه مړی د چا و؟
– زه ومه کنه. بې سده ومه. تاسې ام ښې اوښیارې یئ. نه ګورئ چې مړ دی که جوندی؟ پړینګ پړینګ.
لور یې کلکه غاړې واچوله. ښځې په موسکا کې اوښکې پاکې کړې. په ګډه کور ته روان شول. هغې په لاره کې وویل:
– ته دسې ښکارېدلې چې سا درکې نشته.
– هاو کنه. امدقه سې وي کنه نو.
– ولې بې سده شوې؟
– اغه خو سبایي ماښو ته د اوداسه دپاره لاړمه. چې ګورمه غټه پټه بلا په چینه کې لامبي.
– وئ ځا! التبه یو ټکی اوبه نشته.
– داح، د بلاګانو نه اوبه ام ټېزونه ولي. ټولې ورته راوتې وې. بلا چې زه ولیدلمه یو وار یې رامنډه کړه. دونه جیګه وه. په اسمان یې سر لګېده. غټې غټې داړې. تېره تېره ښکرونه. سترګو یې لمبې وهلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ځه غلی! ته هر کله دروغ وایې. د ماڼو شاخ دې په تورتم کې لیدلی. پرتوګ دې لوند کړی.
– چیشی؟ اغه او به وې.
– هاو، زه او به او میتیازې نه پیجنمه.
دی غلی شو. درېواړه د ویالې په اوږدو پر لاره روان وو. د شربت خېلو د زاړه کلي له پاسنۍ برخې تېرېدل. انسانان نه ښکارېدل. مګر سپین غوایه له ویالې او به څښلې. توري غوا د ونې لاندې توی شوي توتان لټول. خړ سپی د دېوال بېخ ته بې غمه پروت و. د هغوئ په شعور کې د خطر پېژندنې حس خورا قوي دی. کله چې په رښتیا مصیبت وي نو یا پټېږي، او یا په بوڅو غوږونو د وضعیت څار کوي. اوس څارویو حتی وهم نه کتل. دوئ کورته ورسېدل. مېږه او غوا سور لمر ته ولاړې وې. د لالټې په لیدو یې پښې وترپولې. زورونه یې وهل چې نژدې ورشي. مور او لور یو بل ته وکتل. په کور کې بیا ژوند پیدا شو. مګر له پخوا څخه یې په ماهیت کې تفاوت درلود. ښځې ولیدل چې مرګ هم شته. ها غه لږ څه چې لري، له لاسه یې ورکولی شي. لالټې خلک وپېژندل. تر چرسو هاخوا یې دنیا ته هم پام شو. مروې ته پته ولګېدله چې کلیوال سره له بدنیتۍ په سختۍ کې لاس درکوي. لالټې مالونه سیوري ته په نورو موږیو پسې وتړل. ښځې جامې راوړې. دی د مېلمنو کوټې ته لاړ. په مېخ کې یې د پروانې د واده د کاغذي ګلانو دپاسه وځړولې. له ځانه د کفن په باسلو اخته شو. مروې غږ کړ:
– ابا! دسې ده کنه، چې خلق بې حده ووېرېدل. ټول پټ دي. ټلیفون وکه چې بې سده ومه.
د ښځې آواز راغی:
– د کمه شي؟ چې د ماڼو نه یې راوړ موبایل او پیسې یې جب کې نه وې.
– ای اورئ؟ چا به رانه باسلي وي.
– باسلي ندي. چرس دې پې اغستي. ماڼو ته د نشې دپاره تلی وې.
– ای ښځې! بیا دې شرو کړه؟
– ادې بس که نو!
– چیشی؟ بس که! بس که!
لالټې له کوټې ووت. بېرته پخوانی سړی ښکارېده. لور یې د کور موبایل ورکړ. کلیوالو ته یې زنګونه ووهل. هغوئ اول غلی غلی له لېرې وڅاره. کله چې یې ښځه او لور ورسره خوښ ولیدل، دوئ هم ورغلل. حویلۍ ډکه شوه. خلکو پوښتنې کولې چې دا څه چل و؟ لالټې هماغه خبره وکړه چې بې سده وم. ملک په غټ سر سپینه خولۍ کېکاږله. ویې ویل:
– یاره خوووو، ستا بې سدي ام د سړي غوندې نده.
ټولو هرررر وهل.
∞∞∞∞
د مهترلام په بازار کې جم او جوش زیات شوی و. چا نارې وهلې، چا چنې. هریو هڅه کوله د بل د جېب پیسې خپل ته کړي. طالعمن ته به ساده مشتري په لاس ورغی. سم به یې لکه ګنی وزبېښه. مګر له تکړه دکاندار څخه نه ساده خطا کېده، نه هوښیار. سباګل د قطارو کراچیو مخ ته په ګڼه ګوڼه کې لکه فیل روان و. خلک یې څنګ ته نري نري برېښېدل. هر دکاندار ته غوږه مړی ښکارېده. اشارې او نارې یې ورته کولې. مګر دده ذهن تېرې پېښې دومره مصروف کړی و چې نارې څه، آن له خلکو سره ټکرېدل یې نه احساسول. ډیکه شوي سړي به کاږه وکتل. خو دده د غټ بدن له ډاره یې لانجه نه کوله. سباګل هېوادیار ته ټلیفون وکړ:
– وروره ګله! خبر شوې؟ لالټې جوندی شو.
– نا مړه!
– هاهاهاها باور وکه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

– نا نو، مړی څنګه جوندی شو؟ دا کله کېدی شي؟
– قبر ته چې یې کوزوه، یو دم نېغ کېناستو. داسې منډې شوې. زه ام وتښتېدلمه. چا ویلې پیری ورننوتی دی، چا ویلې شیطان، چا ویلې بلا ده. اوس موټر کې مهترلام ښار ته راتلمه، یو کلیوال ته یې ټلیفون راغی. ویلې دا یې ضوف کړی و.
– اوهو، ضوف یې څنګه کړی و؟ یاسین خو ویلې مړ مې کو.
– دروغ یې ویلې. یه الکه! ربړه څنګ ته که! د لارې په منځ کې څوک بادرنګ خرڅئ؟ خلک څنګه تېر شي؟ اورمه ریس صیب.
– ما ویلې په دروغو کې د یاسین رذیل کټه څه ده؟
– اغه د اوله خوشاله نه و کنه. څوک چې ځان باسي او ته یې راټینګی، کار د غسې ورانېږي.
– دا څه مصیبت شو، هه؟ دې سره به څه کوو؟ تا آبل سړی پیدا کو؟ آچې د لالټي سره یې د مځکې خبره کړې وه.
– نا کنه، اغه ام یاسین دروغ ویلي. بل څوک دا شاړه مځکه څه کئ؟
– نا نو، هرڅه له دروغ مه وایه! که اغه سړی رښتیا وي، مونږ ته بل غم جوړولی شي.
– زه درته ویمه کنه، نشته. زما په خبره باور نکی؟
– ګوره الکه! زه پوپېږمه ته خپله د کار نه ځان باسې. ما سره چل مه کوه! که نه، خیر دې نشته.
د سباګل رنګ سور شو. اوس د خپل دکان مخ ته ولاړ و. په جېبونو کې یې کیلي ورکه وه. شونډې یې وچیچلې. ویې ویل:
– وروره ګله! د خبرې نه مخکې سوچ کوه! دا ځای پیپیپیدا کړی ما دی. پټپټه پټکې ته کی.
هېوادیار اول ځل د هغه د ژبې بندېدل اورېدل. تندی یې راټول شو. ویې ویل:
– دا څه ترټوری درنه جوړ شو؟ ته د ماشومانو غوندې بړوسېدل پرېږده! نر شه! کار وکه!
د هغه سپکاوي سباګل لا سور کړ. لنډ یې وویل:
– د خدای پا پا پامان!
ټلیفون یې بند کړ. د دروازې آهن چادر یې په لغته ووهه. وبنګېد (د سپې پې پې بچیه!)

∞∞∞∞∞

یاسین د لښتې په غاړه د ولې سیوري ته ناست و. کاغذ یې لوست. سترګې یې جیګې کړې. مخامخ ځینې پټې له لو څخه پاتې وو. زېړ غنم له نري شمال سره نه ښورېدل. زړو هډونو یې پخوانی نرمښت بایللی و. د منځ کلي سیند د شربت خپلو په شان دواړو غاړو ته جیګ جیګ کمرونه نه لرل. هلته سپینې او شناوې تیږې له لیرې ښکارېدلې. لکه ځاروي چې هر لوري ته پنډ او ویده وي. یاسین د پښو ښکالو واورېدله. ژر یې وکتل. پلار یې و. په لپه کې یې توت راوړل. ویې ویل:
– الکانو راکړل. اغئ ویلې ولې ښار ته سورلی نه وړئ؟ ما ویلې زمنږ درمن غوبل ته برابر دی.
یاسین یو موټی توتان واخېستل. خوار څلور کونجه مخ یې مخامخ درمند ته ونیو. په ډکه خوله یې وویل:
– ما وکتل! غنم سم وچ ندي. ای ابا! ولا چې لالټي پیجندلی نه اوسو.
دواړه د لو شوي پټي په سوارو کې درمند ته روان شول. له هر قدم سره کرپه هار جیګېده. هاشم د خولې توت تېر کړل:
– زمنږه خو مخونه پټ وو. خبرې مو ام نه کولې.
– که ری شي چیشی کوو؟
– چیشی کوو، منکرېږو. خلق زمنږه مني که د چرسي؟
– که موبایل پیدا کي؟
– موبایل؟ چېرته دی؟
– زما جېب کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– نو ولې وېرېږې؟ بيا يې ايسته وغورځوه!

ياسين د موټې وروستي توتان خولې ته واچول. جېب ته يې په موبايل پسې لاس کړ. هاشم په ټنګله ووهه:

– چيشی کی؟ اوس نا. لالټې کې دونه غيرت نشته.

– نا، کليوال يې نه پرېدي.

– د کليوالو څه کار دی؟ ښه ځا، چې راغی بيا اغه سات اغه مسلات. دا قاغذ د چيشي دی؟

– دا امقه د سود خط دی. ولاچې ډېر بد وشول. ام د دوښمني شوه، ام د دا ريس خبيث سره بند پاتې شوو.

– نو تا ولې ورنه خط اغسته؟ بيا دونه ظلم؟ ليکلي يې دي چې په دوو مياشتو کې به دوه برابره پيسې راکوئ. که دوو نه تېرې شوې هر دوو مياشتو کې به دوه برابره نور زياتېږي. ته څونه قمقل يې؟

– خو اغه ويلې دا اسې د خلقو د خولو بندولو ته دی. چې ونه وايي پيسې دې د کمه کړې؟ زه نو څه خبر ومه؟

– اوس يې بيا امدا خط کلک نيولی دی.

هاشم په درمند وخوت. د غنمو د وچو بوټو کرپه هار شو. يو وړی يې په ورغوي کې ومروړه چې دانې ترې وځي که نه؟ پو يې کړ. پشرې هواته والوتلې. دې کې ټلېفون راغی. د ياسين رنګ لا سپين شو. خط يې جېب ته کړ. پلار ته يې وکتل:

– د ريس ټلېفون دی. چيشی وکمه ابا؟

– چيشی وکې؟ خبرې وکه! خوري خو دې نا.

ياسين تنې ووهله. ريس په دروند غږ، له خپلې دايمي آرامتيا سره وويل:

– الکه! دا د لالټې خبره رښتيا ده؟

– هو ولاچې ريس صيب. ببخي بل ډول کار دی.

– نا نو، تا دروغ ويل؟

– نا، په رسول الله، په قران چې ما سم مړ که.

پلار يې زوی چوخ کړ. د سيند په غاړه د غنمو لو ته يې ګوته ونيوله. وپسېد:

– ورو غږېږه! کليوال يې وانه وري.

ياسين سر وخوځوه. د ريس غږ راغی:

– نا نو، دا څنګه امکان لري؟

– هاو کنه. ټوله دونيا حيرانه ده.

– درباندې پوه شوی خو ندی؟

– ولاچې زه ام امدقه چورت وهمه.

– لالټې اوس چرته دی؟

– شربت خېلو کې. ای ريس صيب! ولاچې سخت مشکل سره مخامخ يو. ته لږ کومک وکه! دا پيسې خو تا د لالټې پټې ته راکړې وې کنه. اغه ونشو. خير دی. د سود نه تېر شه! بېرته يې واخله! ولاچې دسې نشي چې ما سره ته ام په بلا واوړې.

– زما غم مه کوه! ته ام په بلا نه يې اوښتی.

– ولې نه يمه؟ اغه...

– اغه ابخ کولی نشي. دا وسنجوه چې څنګه تې لور راولې؟

– لور راولمه؟ ولاچې اوس خو نه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– څوک وايي نه کېږي؟ د چرسي نه لور راوستل څه دي؟ او که ځان باسې بيا امدا نن پيسې د سود سره راوړه! ګوره! که دد دې خبرې نه څوک خبر ام شو امغه ستا اخېره ورځ ده. ښه ځا، چورت دې ووهه! زه کار لرمه. الله پامان!

ياسين هاشم ته کړ:

– اوس چيشي وکو ابا؟

د پلار يې هم رنګ تښتېدلی و. په غټ څلور کونجه مخ کې يې شنې سترګې بې واره تاوېدلې.

ماښام د چرچرکانو آوازونه راتلل. بيا همامغه شربت خېل و، همامغه يې خېل. مګر د مړي د ژوندي کېدو موضوع نوې وه. هرچېرته شاربل کېدله. چا خندل او څوک اوس هم په دې عقيده وچې پېرى پکې تنوتی دی. د بې سد ی خبره يې دروغ بلله. قسمونه يې خوړل چې سمدم مړ و. لالټي د دېوال بېخ ته د مېږې او غوا غاړه ګرولې. هغوئ به کله کله په بنده خوله وبغېدلې. ځانونه به يې ورجوخت کړل. په ده ښې لګېدلې. په زړه کې يې ويل «دئ نه ګوري چې زه خان يمه، غريب يمه، خوښ يمه، خفه يمه، نشه کومه، نه کومه، بس راسره مينه لري. بنيادمان دې ورک شي! په مستې کې قربان، په سختې کې خدای پامان» په هوا کې د لاونډ تروش بوی ګرځېده. د نغري د لمبو رڼا نيمه حويلۍ روښانه کړې وه. ښځې تر څپرې لاندې په دېګ کې څمڅۍ وهله. دی غلی کوټې ته ننوت. هلته د برقيوازيني ګروپ رڼا کوله. يو کليوال پر خپل بام لمريزې تختې لګولې وې. هر چاته يې تر سهاره برق ورکوه. په يو ګروپ يې د مياشتې پنځوس افغانۍ اخېستلې. موبايل يې هم چارجولی شو. لالټي غلی په مروې غږ کړ:

– دا موبايل راکه بچو! زما په کار دی.

مروې غټې سترګې په زارۍ تنګې کړې:

– خير دی ابا، لږ صبر وکه، لږ! د نېټ وخت مې ختمېږي.

– نا، ته ټوله ورځ پکې چيشي ګورې؟ د سې مه کوه بچو! که خلق خبر شي بيا خبرې کئ.

– ټوله ورځ کله؟ دوه ورځې پس د لسو روپو نېټ چالانومه. نوې جامې ګورمه. خپلوانو ته سلام ملام ليکمه.

– ډک يې که ـه ـه! ليکل دې ښه شوي؟ بيا يې هره ورځ چالانوه! خلق په بلا وهه! د پيسو غم ام ونکې! نن سبا کې غنم کېږي.

– هاهاهاها، نا، غنمو خرڅولو ته ضرورت نشته. کله کله خلق د خياطۍ پيسې راکئ.

لالټي هغه په تندې ښکل کړه. په موسکا روان شو. لکه غل، کړوپ کړوپ د ګوتو په څوکو بهر ووت. تر سرک تېر شو. د تيږو پر بارې پټې ته کېوت. د ويالې په غاړه بره لاړ. د چارمغزو د پراخې ونې لاندې پر وچه او پسته شګه کېناست. د ونې بوی پرې ښه ولګېد. خو په تيارې کې يې زړه وډېده. دې کې خلک له جوماته راغلل. پر سرک ودرېدل. ايله يې زړه ولګېد. هغوئ دده ژوندي کېدل څېړل. دی موسکی شو. سباګل ته يې ټلېفون وکړ:

– انډيواله! زه يمه. لال مامد خان.

د سباګل تندی راټول شو. پر توشکه نېغ کېناست. ورې لمسۍ ته يې اشاره وکړه چې غلې شي. په نرې غږ يې وپوښتل:

– وروره ګله! کم لال مامد خان؟

– وه! انډيوال دې کنه. د سالاو د شربت خېلو. ما ويلې دا مې بله شمېره ده.

– اوووو ښه ښا. ما ويلې چې څوک دی؟ لالټي وايه کنه مړه! هر څوک پوېږي.

– ډک يې که ـه ـه! د سپي زامن خو په هرچا نوم ږدي. ته تې لغمان ته را ونه تښتېدلې؟ په تا يې چيشي نوم ايښی؟ وويمه؟

– نه نا. خير دی. غلطي وشوه. بيا به نه کېږي. ای! ته څه موجيزه يې؟ اغه دې عجيبه وکړه ولا.

– هاهاهاها، هاو کنه. ما کې ډېر کمالونه دي يارو. چاته يې نه ښيمه.

– ښا؟ انډيوال له يې ام نه وايې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– څه يې کی؟ ډېر دي يارو. کوم يو درته ووېمه؟ امدا اوس د سې ځای کې يمه چې تاته د زمري زړه درکي نه راځېجې.

– نا، رښتيا؟ يه جينی مه چغېږه! ځه بلې کوټې له لاړه شه! زه خبرې کومه ځا! ښا لال مامد خانه! تا ويلې چرته يمه؟

– اغه جيګه ونه نده؟ زمنږد کور نه لاندې، د سين د جيګ کمره په سر. زه يې په اغه جيګه څوکه ناست يمه.

– ښا؟ په دا شپه کې نو الته څه کی؟

– تاسره خبرې کومه کنه يارو. مه وېرېږه! ماته د سې ښکاري لکه په ځمکه چې ګرځمه.

– نا مړه. هاهاهاها! وروره ګله! د قسم حق راباندې نلرې، ستا په مرګ سخت خپه ومه.

– هاو کنه. انډيوال مې نه يې نو؟ خو ته زما د حاله څه خبر يې؟ زه امدا اوس ام جوندی نه يمه.

– هاهاها. څنګه؟

– ويمه پوره کال شو چې اور مې اغستی اور. که د لمبو سره سين ته وغورځېدلمه ايله به پوه شې چې انډيوال دې رښتيا ويلې.

– خدای دې نکي! څه خبره ده؟

– پوه شه کنه! وريت وريت يمه يارو. ستونی مې خاربښ کړ. بدن مې مېږي مېږي کېږي. چرس غواړي چرس.

دې کې اروا ورڅخه ووتله. درب شو د لالټې سر د ويالې په غاړه په اوبو کې ولګېد. موبايل پر شګو پروت و. اروا برګه شوه:

– ته په خبره پوه نه شوې؟ زه درته وايم چرس ونه څکوې، ته يې بيا غواړې.

– ځه ورک شه! ځان راته ابا ابا مه کوه! ما ټوقه وکړه. بل شی تې غواړمه. الهری شه! خولې ته مې اوبه ننوځي.

– ښه، که دې چرس وغوښتل بيا ونه وايې!

اروا بېرته ننوتله. لالټې پاڅېد. اوبه يې تو کړې. وټوخېد. سا يې سوزېدله. لکه منده چې يې وهلې وي. سباګل نارې وهلې:

– ای وروره ګله! چرته ورک شوې؟ اورې؟

– هاو، هاو. پښه مې خطا شوه يارو. وولېدلمه. ځان مې په بل شاخ کې ټينګ که.

– نا رښتيا؟ بلا سړی يې ولا. ښا نو چرس خو...

– ننننا. يو خو ته په ټوقه ام نه پوېږې. وه د خدای ظالمه! ما کله دا مردار شی غوښتی دی؟ ولې مې په خلقو بې آبه کی؟

– ولې، ولې؟ ښځه دې د ونې سر له راغله څه؟

– نا، دلته بل موزيګی پيدا شوی. په نيم ځان مکمل خبيث دی.

– دا څه وايې؟ څوک دی؟

– يو څوک دی نو. ويلی نشمه. ښا، ته کله راځې؟ اغه امانت ام راوړه!

–آ؟ بيا وايې؟

– اوهووو. پوه شه کنه! امانت خو بد شی نه وي کنه. امانت امانت وي يارو.

–آاااا! ښه ښاااا. پوه شومه. پوه شومه. نو ابله ورځ خو دې ويلې راسره شته، اغستی يې نشمه.

– هاو کنه. امقه پسې تلی ومه. کم د سپي زوی وړي وو. په بلا واوښتلمه.

– يره لال مامد خانه! سبا درغلمه. ای وروره ګله! نو ته بيا امانت اخلې څنګه؟

لالټی چورت يووړ. له قهره يې د خلاص لاس سوک خپل تشي ته اړم کړ. تشی يې وسوزېد. دې کې يې بلې خبرې ته پام شو «دا اروا ولې ونه ليدل چې سباګل چونډي کړمه؟» دلته يو فکر ورغی. سباګل غږ کړ:

– بيا چرته ورک شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

–آ، یمه یمه، دلته یمه. ما ویلې ته بل کار وکه یارو! امانت چې دې راکوه ماته یې مه ښیه! په بل شي خبرې کوه! غلی یې زما جې کې کېده! پوه شوې؟ ګوره امدقه سې به کی ښا؟

–آاااا! ښه ښااااا. وروره ګله! بې غمه اوسه! پوه شومه.

نابېره له نژدې څخه ښځې پر لالټې برېک وهل:

–خدای خو دې پښې ماتې که! زمنږ پښې درپسې زب زب شوې. د ویالې په غاړه چیشی کی؟ سنکتیا منکتیا خورې که نا؟ لالټې ژر ټلېفون بند کړ. سباګل کټ کټ وخندل «سخت وران دی. چې دروغ وي، رښتیا ته سلام ام نه اچئ»

∞∞∞∞∞

لالټی په کټ کې ویښ پروت و. د کلي یو نیم سپي په ځنډ غپل. لاندې له سیند څخه د شرشرې غږ راته. د څنګ کټونو ته یې وکتل. تش وو. د یوازېتوب احساس یې په زړه منګولې خښولې. سترګې یې کوټې ته واړولې. هغه روښانه وه. مور او لور له وېرې په ګرمۍ کې دروازه هم تړلې وه. مېرمنې اوس دده څار نه کوه. په کور کې د پاتې کېدو یې هم نه ویل. ان د چرسو د څکولو او نه څکولو یې نه پوښتل. دی نه پوهېده چې ولې؟ مګر ځان یې تر پخوا ډېر قید احساسوه. د ښځې ځای اروا نیولی و. دا بیا هرچېرته ورسره ګرځېده. هېچېرته یې چرس څکولی نه شول. سخت تنګ و. چورت یې وهه چې څنګه ترې ځان خلاص کړي؟ د دېوال په بیخ کې مېږه وبغېدله. هغه په تیارې کې لکه توره یږه معلومېدله. ده ترې سترګې واړولې. آسمان ته یې وکتل. د نرۍ سپوږمۍ شاوخوا ګڼ ستوري تیت وو. لکه د ځراغونو نسکوره کاسه. دا وخت ورڅخه اروا ووتله. ده وویل:

– چیشی کی؟ ته نو بلد شوې. دا زما ځان دی. ستا د ابا پرتوګ ندی. ډرت واغونده! ډرت وباسه!

– نه! تا ولې ښځې ته و نه ویل چې وررور او وراره دې وژلی وم؟

– چیشي ته؟

– وه! چې پوه شي کنه، چې دوښمن یې څوک دی؟

– دا یې پوه! ګټه یې څه ده؟

– ګټه؟ هغوئ خو مروې ته دام ایښی. بیا به مور پې ډېر پام کئ.

– هاهاهاها ای موزیګیه! دلته نو وښویېدلې.

– پوه نشوم.

– قمقلان پویول سخت دي. زه به کوشش وکمه. ګوره! زه چې جوندی شومه خبره ختمه شوه. نه جنګ ته ضرورت شته، نه غچ ته.

– هو، بېخي! مخکې ژوندی نه وې؟ مړ یې نه کړې؟ بیا دې مړ کئ.

– ته دې د نیم ځان غمه وخوره! په ما څوک چیشی نشي کولی. اوس زه خبر یمه.

– ستا خبرېدل مهم ندي ښه؟ د هغوئ ډار مهم دی.

– وه موزي ګله! ودې نه لیدل؟ څنګه یې درې درې ویشتل، منډې یې وهلې؟ ما نه اوس ټوله دره وېرېږي.

– نه وېرېږي. اوس ټول خبر شول چې هماغه سړی یې. ای زه ووایم چې ښځې ته ولې نه وایې؟

– ناء. ضرورت نشته.

– که و وایې بیا مجبورېږې چې په هاشم پسې ورشې.

– جنګ د سپي کار دی ښا؟ اینسان په خبرو لانجې حل کئ.

– بهانې مه جوړوه! ما کله ویلې جنګ وکه؟ زه وایم له جنګه وېرېږه مه! کله چې څوک پوه شي ته هرې مقابلې ته تیار یې بیا دې خبره هم تاثیر لري. انسان عقلمن ځناور دی. یوازې هاغه وخت داړل نکئ چې راتلونکی یې ځان ته بد ووینې.

– ښا؟ نور څنګه یې؟ دا د عقل کمیس دې اوتو که! قرار یې بکس کې کېده! بل وخت به دې په کار شي ښا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– یاره نو. چې دا کم عقلان ولې نه پوهېږي چې کم عقلان دي؟ ای ای! ښځې او لور ته وایې که همداسې دې مړ پرېږدم؟
– ډک یې که ـه ـه! ته اوس لکه ډاکو سړی یرغمل کې؟
– هو، ته په سمه پوه نه شوې نو. وایې که نه؟
– وه دا زما کار دی که ستا؟ د ورځې خو ټول سالاو راباندې ظلم کئ، د شپې ته لوېشتینک پیدا شوې.
– په هوښیار څوک ظلم نه شي کولی. په کم عقل یې کئ. ښه نو چې نه وایې زه لاړم.
– وه! وه! دا څه د سپي زوی دی؟ ای ای! چېرته ځې؟ صیي ده وایمه. صیي ده. ری شه کنه نو!
اروا له اسویلي سره بدن ته ورننوتله. لالټې نیغ کېناست. سا یې تېزه تېزه اخېستله. لکه وحشتناک خوب چې یې لیدلی وي. خوله یې وچه او زړه یې تنګ و. نشې ته یې زړه کېده. مګر نه چرس وو، نه څوک د زړه سوي. ستوني او ټټر یې له بې وسۍ وپړسېدل. مېږه نژدې راغله. ځان یې پرې وسولوه. ده ورسره غاړې واچوله. ویې ژړل. غونج په کټ کې پرېوت. مېږې بوی کړ. وبغېدله. ته وا مور بچي ته تسلي ورکوي. دده او ښکې یې وڅټلې.
سبا لالټې پر سرک بره روان شو. سباګل د چرسو د راوړلو وعده کړې وه. ده شېبه په شېبه شاته کتل. لکه میین چې د جانان د لیدو په ارمان وي. غوا او مېږه ورسره نښتې تللې. له لېرې یې د ویالې په غاړه هلکان ولیدل. ځان یې د سرک بلې خوا ته پناه کړ. چې نژدې شو د هلکانو غږ نه و. ده ته چورت ورغی «دا د شیطان زامن ولې غلي دي؟ په کمه بلا اوښتي نه وي» د ګوتو په څوکو د سرک څنډې ته راغی. لاندې یې وکتل. هلکان د توت د ونې شاته پټ شول. ده ته عجیبه وه. خړې مرغۍ په هوا کې چغېدلې. ده پاس وکتل. د دکاندار زوی یې ولید. ځالې ته نژدې یې ځان غلی کړی و. لالټې ته خپل د شارو بچی وریاد شو. ماما یې ورکړی و. ده به ورته ټوله ورځ ملخان نیول. یوه ورځ هغه د بام په کونج کې ناست و. چا په غولکه وویشت. لاندې راولوېد. دده په لاس کې یې سا ورکړه. ټوله ورځ یې ورته ژړل. اوس په ونه کې د هلک په لیدو دده سترګې لا غټې شوې. یودم یې تیږې ته لاس کړ:
– هی د سپي زو! کته کېږې که نا؟
کړس شو تیږه د هلک څنګ ته ولګېدله. هغه چیغه کړه «وه ابا!» تېز تېز کوز شو. لالټې بله تیږه واخېستله. لاندېنیو هلکانو پر ده برید وکړ. خو دا ځل دده مورچل هم په جیګه و، هم په وسلو مالامال. هلکان مات شول. مخ په بره وتښتېدل. پاسني له جیګه شاخه ځمکې ته ټوپ کړ. منډه یې واخېستله. مرغۍ آرامه کېناستلې. د دوه لېنګیو ځناورو حمله په خیر تېره شوه. لالټې ورته عسکري سلام واچوه. بیا یې مخ په بره درانده قدمونه واخېستل. غوا او مېږه هم ورسره نښتې روانې وې. دی برګ شو:
– ای د څاروي اولاده! ماسره چیشی دی آ؟ خو پاس ډډې ته شئ! سنکتیا منکتیا وخورئ! زه نه تښتمه.
هغوئ یې د لاس په اشاره پوه شول. ډډې ته وختل. دی ورو ورو دکان ته ورسېد. د توت نیالګي ته تکیه ودرېد. هلته د دکاندار زوی د پلار شاته پټ و. وېرېده چې بیا یې په تیږو ونه ولي. د دکاندار تر نامه پورې اوږده ږیره له خبرو سره وخوځېدله:
– وه الکه! دا ماشومان د مرغیو بچیو ته ولې نه پرېږدې؟ ستا خو ندي.
دې کې ټول هلکان د دېوال له شا څخه راووتل. لالټې ورته غاښونه وچیچل. مخ یې دکاندار ته واړوه:
– ته کونړ وې؟ د مرغیو بغارې دې ناورېدلې؟ اغئ ویلې د قه د سپي زامن مې بچې وجنې.
– ما! ما! سترګې برګې برګې مکوه خوارشې! مرغۍ په څه پوېږي؟ بیا ماشومان دي. امدقه یې سات تېرې ده.
– ډک یې که ـه ـه! ماویلې که تش نوم دې ملا دی یارو. ته خو صیي ملا یې.
– دا څنګه؟
– ځان ته ها، بل ته ما. د خپلې باغچې ګلانو ته څوک نژدې نه پرېږدې. او د مرغۍ جاله پروا نکئ.
– آ هاها، وه خوارشې! ګل خو ګل دی. د هرچا خوښېږي. جاله چیشی ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ډک یې که‌ـه‌ـه! نا، دا ګلونو د چا زوی شو، آ؟ که په‌اغه کې رنګونه دي، په جاله کې هنرونه دي. که د اغه بوئ دماغ تازه کئ، د دې آوازونه د زړه باغ تازه کئ. که د ګل په رنګ کې خوند دی، د جالې په منځ کې جوند دی. ښا نو، کوم یو ښه شو؟

دکاندار بیا کټ کټ وخندل:

– یاره ته سم شاعر یې. تاسره نه ویل کېږي. ای دا پرېده! په ماښو کې د بلا کیسه وکه!

له دې سره ماشومان ترې راتاو شول. یوه ډله ځوانان هم ورسېدل. زاری یې پیل کړې. ده وویل:

– ناء! نه کېږي ناء. ماشین کې تېل نشته.

کلسري ځوان په دکاندار غږ کړ:

– ملا ماما! ته راکه یو جوس!

ځوان د جوسو وړوکی ډبی لالتهي ته ونیو. هغه سمدلاسه یو غړپ وکړ. وې ویل:

– ښا نو غوږ کېدئ! و نه و، پاس اسمان و، لاندې ځمکه. په دې ځمکه یو غیرتي ځوان ګرځېده. لال مامد خان نومېده.

ځوانانو او ماشومانو هررر وخندل. دې کې بل ځوان تېز راغی. له سره تاو سپین دسمال یې له غاښونو خوشې کړ. دکاندار ته یې وویل:

– ملا ماما! بابا مې چې پټې وېشل ته خو وې کنه؟

دکاندار په خوله ګوته کېښودله:

– سرداره چششششش! ته غلی! نه ګورې؟ مېله ده.

لالتهي غږ لا جیګ کړ چې سردار یې هم واوري:

– نو لال مامد خان به نیمه شپه چکرې وهلې. وېره مېره نه وه نا. وېره د چا لور ده؟ یوه شپه ماښو ته لاړ چې اودس وکي. الته یو وارې غاااااته بلا پیدا شوه. ویمه خدای دې چاته نه ښیي نووووو. بده بلا وهههه. دېو و دېو. جییییییګ! اسمانه پورې. او دا سرې سرې سترګې. لس لس متره لمبې تې وتلې.

ماشومانو او لویانو په یو غږ حیرانتیا وښودله «ښاااا؟» د سردار خپل کار ته سودا وه. غوښتل یې د لالتهي کیسه لنډه کړي:

– هح، ماښو یې ولې ونه سوزوه چرسولا ماما؟

– ډک یې که‌ـه‌ـه! قیصه خو واوره سوډابې تورې!

خلکو هررر وهل. سردار برګ شو:

– غلی یابو! اوس دې په ځمکه منډمه! تېوله ورځ وړکیانو ته ډوزې ولې.

لالتهي لږ شاته شو چې سردار په رښتیا حمله ونه کړي. وبنګېد:

– ډوزې ندي! ښا نو چې نه یې منئ قیصه نه کومه.

دی روان شو. خلکو بېرته کلک کړ. ویل ستا په خبره کې ذره ډوزه نه شته. لالتهي بیا نیالګي ته اوږه تکیه کړه:

– ای دروغ ندي ښا؟ په قسم په دقو سترګو مې ولیدل یارو.

هغه له جوس څخه بل غړپ وکړ. مخ یې آسمان ته ونیو. لکه کوم څه چې په حافظه کې لټوي:

– نو ماما دې جارشي! هاو ښکرونه. اوهوهوهو د خدای قدرتونه دي، دیستک دیستک ښکرونه. څوکې یې تېرې ې ې تېرې، او نرۍ ۍ ۍ ۍ نرۍ لکه ستنې. او غولانځې، لکه جوالونه. داح داح!

سردار غږ کړ:

– تېسسسسس! نر غولانځې لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لالټي ورته کاږه وکتل. په موسکا يې سر وخوځوه:
– ته به ښه شې ښا؟ مه ورخطا کېږه!
خلکو په زوره وخندل. سردار تک سور شو. لالټي بېرته مخ نورو ته راوګرځوه:
– ای دا پېښې يې ندي پېښې؟ لکه سراچه موټر. هره ګوته يې لکه د تېلو بوشکه.
لالټي لاندينۍ شونډه وچيچله. خپله سينه يې په سوک وډبوله:
– زه ورته مخامخ ودرېدلمه. ما ويلې زه درنه نه وېرېږمه. هاو. ما ته لال مامد خان وايي. نيمه شپه کې چاته د فيل زړه ورکه دلته راتلی نشي. زه د نيمو شپو شاهين يمه ښا؟
کلسري ځوان غږ کړ:
– دقه سې! د نرررر بچيه!
لالټي د جوسو تش ډبی وغورځوه. لاس يې جيګ کړ. لکه په کريکټ کې چې وېکټه واخلي. کلسري ورسره ورغوی وجنګوه.
ده سردار ته کاږه وکتل. خبرو ته يې دوام ورکړ:
– هاو کنه. دېو ويلې ياره منم دې لال مامد خانه. مانه رښتياني زمريان خښتګ ډکيږي. خو ته داسې زړور غږېږې. مګر ما سره يې نشې کولی. ما ويلې څنګه؟ ويلې اوس ګوره! دسې خو ونه وېرېدلمه. نو راټيټ شو. دم يې راباندې پو که. زما زړه لاړ وتښتېد.
هلکانو بيا د دروغو خواشيني وښودله. سردار د ملنډو په موسکا مخ دکاندار ته کړ:
– ملا ماما! ته دا چرسولا پرېده! زمنږ او د تره زامنو په منځ کې حالت خراب دی.
څنګ ته د تورو جامو تنکي ځوان تاييد کړه:
– رښتيا وايي جنګونه يې وکړل. ګرېوانونه وشکېدل. اين په ټوپکو پسې يې منډه کړه. خلقو پرېښښودل.
دکاندار اوس د خبرې په جديت پوه شو. سترګې يې تېرې شوې. اوږده بېره يې ورپېدله:
– ښا؟ په چيشي؟
– په پټې کنه.
– اوووو ښا! په کوم پټې؟
– د کلي دپاسه ندی؟ زمنږ نيم پټی يې په خپل کې ګډ کړی دی. ته خو التهوې. ستا خو وېش په ياد دی کنه؟
– نا ولا، ډېر وخت کېږي. تاسې واړه غټ شوئ. اوس مو بچيان ګرځي.
لالټي د سردار اوږې ته ډيکه ورکړه. ځان ته يې ګوته ونيوله:
– د لال مامد خان نه پوښتنه وکه لال مامد خان نه! مغز ندی کمپيوټر دی.
– لرې پمنه! سړی په هره خبره کې ډوزې نه ولي. زما خوشې ماغزه خراب دي. دلته به درنه پنډوس جوړ کمه.
– ډک يې که ـه ـه! عقل دې لکه چې متيازو کې تلی.
خلکو بيا هررر وهل. سردار غاښونه وچيچل. ورپسې تاو شو. دکاندار لاس واچوه. له مټې يې کلک ونيو:
– ته مه لمبه کېږه! دده خبرې امدسې دي. اغه ورځ دا امو. ته ودرې چې چيشی وايي؟ ښا، لال مامد خانه! نو التهوېش څنګه و؟
– نه يې ويمه.
– ماشين دې تېل غواړي؟
– نا، ځينې تېل زهرجن وي.
– هاهاهاها خير دی زارۍ درته کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– پټهې ستا دی که دده؟
– نا، خو خیر دی کنه ای. دونه زاری، چې سړی حاجي ته وکي لور ورکئ. الکه سرداره! ته ورته ووایه کنه!
سردار کاږه وکتل:
– ملا ماما! زه ټوقې نه کومه. د دښمنۍ خبره ده. ته ما ته چرسولا مخته کی. ریشخند وهې؟ دا د خپل ګرېوانه خبر ندی، زمنږ د وېش نه به څه خبر وي؟ ځه بابا!
سردار روان شو. لالټهي دکاندار ته د سر په اشاره وویل:
– زما تر مخې وشو. زما د مور مېږه شو.
– هاهاها، خیر دی. ملامت ندی کنه. ناحقه په دوښمنۍ اوړي.
لالټهي سردار ته نارې کړې:
– په پاسنیو دوو پټهیو کې ستا د ابا برخه ډېره وه. په نورو کې د نورو ورونو.
سردار ککره وخوځوله:
– ددې نه خو د کلي غوایان ام خبر دي چرسولا. په هر پټهي کې څو بیسې چاته ورسېدلې دا وایه!
– په اول پټهي کې ستاسې اته بیسېې وي. په دویم کې شپږ.
د سردار خوله وازه شوه. دکاندار وخندل:
– هاهاهاها، وینې؟ دده ذهن ډېر ښه دی.
سردار وړاندې راغی. دده لاس یې ونیو:
– لالټهي ماما! ته راځه! چې...
ده ترې لاس کش کړ:
– ورک شه! ادې ته دې دسې نوم واخله!
– آ؟ ننننا، خوله مې غلط شوه. لال مامد خان ماما، ته راځه امدا خبرې د خلقو مخ کې وکه!
لالټهي یې د سیند پورې کلي ته بوت. مشران یې د خوړ تر څنګ د توتو په یخه باغچه کې کېنول. چای او ګوړه کېښودل شوه. کشرانو په خندا سیل کوه. لکه د ټوکو اورېدو ته چې راغلي وي. مګر د سردار د تره پینځه زامن بېر ناست وو. د لالټهي شاهدي یې نه منله. ویل په لېږو چرسو هرڅه وایي. له نندارچیانو څخه غږ شو «لالټهي دروغجن» ده ځواب ورکړ «څوک غاپي؟ د سپي زامن» هغوئ له خندا چپه چپه واوښتل. ځینو مشرانو هم ځان ټینګ نه کړ. نورو بیا د چرسي شاهدي ځان ته توهین وګڼه.
پاڅېدل. سردار زارۍ وکړې. ویل څه به مو کم شي؟ یو وار خبرې واورئ بیا ځئ. نندارچیانو د ساعت تېرې د اوږدولو لپاره د سردار پلوي وکړه. مشران بېرته کېناستل. لالټهي کاغذ او قلم راواخېست. په هر پټهي کې د هر ورور بیسوې یې بېلې ولیکلې. په موبایل کې یې جمع کړې. ټولو ته مساوي ځمکه ورسېدله. یو شور جیګ شو. اوس خلکو خندل چې دا څه ټوکاني جنګ و، د چرسي په خوله بند شو. سردار په اپلتو پسې سر نه ګرځوه. اندیوالانو ته یې د شوروا وعده وکړه. لالټهي یوې غاړې ته غلی ولاړ و. سریې ښکته واچوه. بېرته دکان ته راغی. هلته لا هم ځوانان جمع وو. د سردار د لانجې یې وپوښتل. ده وویل:
– غم مې یې کم که. د خوشالۍ نه یې لاندې باندې خندل.
ټولو هرررر وهل. لالټهي پزه جیګه ونیوله:
– په اخېر کې سردار کلک ننښتی و چې شوروا درکومه. ماویلې که سمه قابلي راکی صیي ده. که نا، ستا اغه شوروا نه خورمه چې په غوښې پسې به ذره بین راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا خندا ګانې شوې. له لېرې څخه غره هار تر غوږو کېده. دا د هاشم ډبه شکله څلور سیټه موټر و. دوئ نه لیده. موټر له تخته تېز تېر شو. شاته یې دوړه پرېښودله. د خلکو پام یې واړوه. له ورایه پکې ورانی ښکارېده. لکه موټروان چې یا مست وي، یا لېونی. هرڅوک پوهېده چې د سالاو په تاو راتاو او کنده کپر سرک کې داسې ځغلول بلې دنیا ته تلوار دی. یاسین له هدیرې څخه د تېرېدو پر مهال د لالټي واز قبر ته وکتل. واړه هلکان ترې چارپېر وو. له سوړ اسویلي سره یې سترګې هاشم ته واړولې. پلار یې په مقصد ښه پوهېده. ځکه خو یې ژوره سا واخیستله. شیبه پس موټر د اوبو تر ژرندې تاو شو. نژدې یې بوډۍ وهلې وه. د لالټي د کور مخ ته د ټایرونو د ښوییدو خرپه هار شو. یاسین په ټوپ کېوت. تومانچه یې جیګه ونیوله. نارې یې کړې:

– ای شربت خېلیو! ښه یې واورئ!

چا چې واورېدل په غوږونو کې یې کړنګ شو. دا آواز عام نه و. خاص و. د مصیبت زنګ برېښېده. یو نیم نارینه چې له لټۍ یا وزګارتیا څخه په کور کې پاتې و، تېز ووت. د لالټي ښځې د وراره غږ وپېژند. دروازې ته راغله. یاسین خبرو ته دوام ورکړ:

– زه په جار ایلان کومه چې زما د ترور لور مروه زما ښځه شوه.

هغه هوایي ډزې وکړې. مرغۍ له ونو والوتلې. چرګان له منډې سره وکړتېدل. سپیانو وغپل. ځینې ماشومان په ژړا میندو ته وتښتېدل. د لالټي ښځه وازه خوله ولاړه وه. هېچا د داسې تحول اټکل نه کوه. نیاګانو کیسې کولې چې په پخوا زمانو کې څو ځله ځوانانو د خپلې خوښې نجلۍ د جرولو لپاره ډزې کړې دي. بیا نو بل ځوان د دښمنۍ له ډاره هغې ته د مرکې د لېږلو جرئت نه کوه. لمسیانو ته دا خبرې لکه افسانې ښکارېدلې. خو اوس یې کټمټ پېښه په خپلو سترګو لیدله. ځکه خو ټول شخ پخ لکه بتان ولاړ وو. یاسین تېز کور ته ننوت. ترور لاس واچوه. هغه یې له مټې کش کړ:

– وه! دا چیشی کی؟

هاشم خپله خور ونیوله. ویې ویل:

– ته مه وارخطا کېږه خورې! هرڅه به سم شي.

ښځې زورونه وهل چې ځان خوشې کړي. یاسین مروه په کشولو له کوره ووېستله. هغې چیغې وهلې. یاسین خلکو ته وویل:

– ګورئ! دا زه بیایمه. که څوک ورپسې راغی، ولا چې لس ډزې یې په دا کوپړۍ وولمه.

نجلۍ یې په زوره موټر ته وخېژوله. هاشم هغه کلکه ونیوله. یاسین د موټر مخ تاو کړ. د لالټي ښځې په دروازې زور وهه چې خلاصه یې کړي. موټر تېز شو. هغه په سرک ولوېدله. دلته د دکان مخې ته خلکو ډزې واورېدلې. لالټي خوله کېږه ونیوله:

– ډک یې که ـه ـه! ای! کلي کې د چا ښځه بلاربه وه؟ بل خوسی وشو.

ټولو هررر وهل. ماشومانو منډه کړه. لالټي هم په درندو قدمونو روان شو. کله چې ورسېد د کور مخ ته یې راټول خلک ولیدل. سرتورې ښځې یې په دروازه کې ژړل. دده پښې وربېږدېدلې. تېز ورغی. ویې پوښتل چې څه خبره ده؟ هغې ځواب ورنه کړ. زړې تورۍ وویل چې یاسین مروه بوتلله. دده زړه سست شو. دننه حویلۍ ته یې وکتل. تشه وه. ویې پوښتل:

– څنګه یې بوتله؟

– ځه ورک شه چرسولا! څنګه یې بوتله؟ په زوره یې خپله ښځه کړه.

ماشومانو پخ وهل. دده په خیال کې هم نه ګرځېدل چې هاشم دې مروه په زور بوځي. هغه خو په منځ کلي کې سم کور لري. په ښکارځي کې په کلا اچولو څه کوي؟ دې کې سباګل هم له ښاره ورسېد. د خلکو ټولېدو ته ځیر شو. یو تن ورته کیسه وکړه. هغه لالټي په غېږ کې ونیو. په غوږ کې یې وبنګېد:

– وروره ګله! تا یاسین ښه پېژندلی و. رښتیا د سپي زوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لالټې ترې لېرې شو. همدا شېبه د خلکو تماس څه چې تش کتل پرې بد لګېدل. لکه خوري چې يې. پر ذهن يې تياره خپره وه. نه يې څه ليدل، نه اورېدل. او نه يې سر کار کوه چې څه وکړي؟ يو دم په کور ننوت. ويې ويل:
– ولاکه يې پرېږدمه!
خلک هم لکه سېل حويلۍ ته ور وبهېدل. دی هرې خوا ته ګرځېده. وسله يې لټوله. اول يې د غره له توړل شوې برخې غونډاری وباسه. خلکو وخندل. هغه يې بېرته وغورځوه. دېوال ته ولاړه بېلچه يې واخېستله. روان شو. هماغې تورې له دروازې غږ کړ:
– اغه ځوانيمرګ ويلې هرڅوک چې راغی ولم يې.
دی ودرېد. هسې هم وېرېده، اوس يې بېخي سپين وتښتېدل. ګلابي مخی شاه محمد د حويلۍ منځ ته راغی. تورې ته برګ شو:
– ته چيشی وايې؟ پرېږده چې لاړ شي! دده لور يې وړې ده. خوشې خبره خو نده.
لالټې ورته په زړه کې سل کنځلې وکړې. خلکو ته يې وکتل چې څه عکس العمل ښيي. ځوانانو سرونه وخوځول:
– هاو هاو، لاړ دې شي! منږ دې نه شرمئ!
سباګل نه هو ويل، نه نه. د لالټې اميد يوازې زړې ښځې ته و. نژدې ورغی:
– ښا نو، ته ووايه تورې! چيشی وکمه؟ نه نا، يا به ځان مړ کومه يا اغه.
خدای خدای يې کول چې تورې ووايي مه ځه. خو هغه غلې وه. نه معلومېدله چې له ځوانانو وېرېدله، که يې ويل چې د بېلچې په ځای سمه وسله واخله! شاه محمد لالټې ټېل وهه:
– ځه کنه! چيشي ته ولاړ يې بې ننګه؟
دده په وس نه وه، که نه سل مرمۍ يې په دا تندي ويشته. مجبور شو چې حرکت وکړي. ناڅاپه يې په جېب کې ټلېفون وترنګېد. تا به ويل ډز پرې وشو. شټ يې وهل. ماشومانو بيا وخندل. لالټې نمبره وکتله. د هاشم وه. زړه يې ولړزېد. کوټې ته لاړ. موبايل يې غوږ ته ونيو. هاخوا هاشم له موټره کېوتی نه و. درې څلور واره يې الو کړ. بالاخره دده له خولې هم غږ ووت. هاشم وويل:
– غوږ کېده الکه! نور نو خبره ختمه ده ښا؟ چې لور دې زما اينږور شوه، ځمکه ام زمنږه کېږي. څه مخکې څه پسته، يو شی دی. نو امدا اوس يې راکه! اوس ګوره پيسې ام درکومه. ته ګټه کې. که نا، لور دې ام لاړه، ځمکه ام.
لالټې بيا داسې لړزېده لکه سړې تبې چې نيولی وي. ميتيازې يې په سختۍ ټينګې کړې وې. ژوند يې پر مخې واوښت. نور نو هاغه لږه آرامي هم ختمه شوه. دوه لارې وې. که دښمني کوي نو شپه او ورځ به يا د بل د وژلو لار لټوي، يا ځان له مرګه ساتي. د پخوا په شان به بې غمه ګرځېدلی نه شي. که دښمني نه کوي نو په هرقدم کې به پېغورونه اوري. په دره کې به نه يوازې دی، بلکې دده لېرې او نژدې خپلوان هم ټيټې سترګې ګرځي. په دې سربېره له ياسين څخه د مروې بې اندازه کرکه به سبب شي چې د هغې هلته او د مور يې دلته زاره وچوي. اوس خلک د کوټې خولې ته راغلل. غوښتل يې د لالټې په عکس العمل کې ځان ته معلومه کړي چې چا ټلېفون کړی دی، او څه وايي؟ مګر دی لکه په سکروټو چې ګرځي. په يو ځای کې درېدلی نه شو. بېرته انګړ ته ووت. ښځې يې ويل څوک دی؟ ده ځواب ورنه کړ. سربداله و. لکه په خوب کې چې کوم شی لټوي. په ټلېفون کې هاشم «اورې! اورې!» نارې وهلې. دلته و چې لالټې ته يو چورت ورغی. غټې سترګې يې وځلېدلې. لکه په تپې تيارې کې چې رڼا ووينې. وړې سږمې يې وپړسولې. په جيګ غږ يې په ټلېفون کې وويل:
– ای ای هاشمټيه! ای پيوسه! ای بې غيرته! زه پوهېږمه چې لور مې د ماما کره ده. د ماما کور خو لکه خپل کور دی. څوک ورته جيګې کتلی نشي. مګر جړا او زارۍ دې نه منمه. هاو.
هاشم په شنو سترګو رډ رډ موبايل ته وکتل:
– اوهو اوهو! دا څه ګنګس دی؟ وه قمقله! زه چيشی ويمه ته چيشی وايې؟
لالټې يې خبرو ته غوږ کېنښود. مخکې لاړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– تا ماسره بد وکړل. بې غیرتي دې وکړه. پرېږدم دې نا! او لور نه درکومه. چې مړ ام شې ښا؟ او ولاکه تا حرامي پرېږدمه!
ټلېفون یې بند کړ. خلکو ته یې وکتل. د هغوئ له سترګو معلومېدله چې د موضوع په تحلیل کې ګډوډ دي. ایله یې زړه ولګېد. د اوس لپاره په هاشم پسې له تګه خلاص شو. څو چې خلک دده په چل پو هېږي خبره به سړه وي. خپلوانو به هاشم مجبور کړی وي چې مروه بېرته راولي. هر څه به په آرامه ختم شي. سباګل ته یې وکتل. تندی یې تریو ونیو. نژدې ورغی:
– وینې؟ دا یې ماما. دقه سې بې غیرتو حرامیانو سره بند پاتې یمه یارو.
– خیر دی وروره ګله! ته لږ ځان آرام که! بیا وګوره چې څه وکې.
لالټي همدا شېبه غوښتل چېرته لېرې په مړه خېټه چرس ووهي. بیا په یخ سیوري کې پرېوځي. نه د چا له پیغورونو ډک مخونه وګوري، نه له زهرو ډکې خبرې واوري. ان د لوېو غمونه پرېښږدي چې د نشې خوند خراب کړي. د سباګل سترګو ته ځیر شو. نه پوهېده چې چرس یې راوړي که نه؟ سر یې نري وخوځوه. هغه کوم عکس العمل ونه ښود. لالټي وویل:
– راځه دننه کوټې کې به کېنو! زړه مې نور چوي. پوه شوې؟
– اوصیله وکه وروره ګله! دونه زړه مه خوره! بس ته مې لږ لیدلې. بېرته ځمه.
د لالټي سودا شوه چې تش راغلی څنګه؟ تندی یې راټول کړ. ویې ویل:
– نا، چېرته ځې؟ چیشی دې راته ویلې؟
– ما ویلې تاسره به لږ ځانته وغږېږمه. خو اوس ته خپله دغه حال کې یې.
لالټي نژدې چیغه کړې وه چې چرس دې څه کړل. خو ځان یې په واک کې ونیو. ککرې او لاسونو ته یې ټکان ورکړ:
– وه خدایه پاکه! ته یې څه کی؟ تاته څنګه وویمه؟ خو...
دا وخت سباګل نیمایي لاس د شتري واسکټ له جېبه وباسه. پکې زېړ کاغذ ښکاره شو. تېرځل یې هم په همدا سې پاکټ کې چرس راوړي وو. لالټي ایله د هوسایۍ سا واخېستله. شاوخوا یې غلی نظر واچوه. لسګونه سترګې په دوئ کې وې. لکه هره خبره چې څېړي، څو منفي ټکی ومومي. ده کتل چې پاکټ ته د چا پام شو که نه؟ دې کې ملک له دروازې غږ کړ چې څه خبره ده؟ د ټولو سترګې ور واوښتلې. ځوانان پرې راتاو شول چې له موضوع یې خبر کړي. لالټي ووېرېده چې ملک ورته ونه وایي چې په لور پسې لاړ شه! ښه دا وه چې توده په توده کې پښې وباسي. سباګل یې له مټې ونیو:
– راځه د دا شورنه مې لرې بوځه یارو! په قسم چې سا مې بندېږي.
په سترګو یې اشاره وکړه. خپله مخکې شو. دلته یې اروا له بدنه ووتله. درب پر ځمکه ولوېد. ځینو وخندل. ځینو ویل ویې ګورئ! بیا به بې سده شوی وي. سباګل یې نبض وکوت. سپین اوښتی مخ یې خلکو ته واړوه. په نري غږ یې وویل:
– انا لله و انا الیه راجعون.
یودم شور شو. خلکو ویل په لور پسې یې سا ورکړه. د لالټي ښځه بیا پرمېړه راپرېوتله. لور ترې هېره شوه. په چیغو چیغو یې وژړل. څلورو ځوانانو جسد کټ ته جیګ کړ. ده په هواکې ولاړې اروا ته وویل:
– ای ای ای! جوند ته مې پرېدې که نا؟ بیا څه خبره ده؟
– خپله ښه پوهېږې.
– په چیشی پوهېږمه؟ ګوره دا خرتوب دې پرېده! زه ستا د ادې پنډوس نه یمه.
– ادې ته خوله مه اچوه! تاته ځان ډېر چالاکه ښکاري کنه؟ زه ستا په ځان کې یم، ښه؟
– ډک یې که ـه ـه! د شادوګۍ بچیه! چې دا ډرت شي، اسمان ته ختلی یې. ته خو ووایه! خبره چیشی ده؟
ملک سپینه ټوپۍ په غټ سر سمه کړه. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ورونو ! د خدای کارونه دي. تقدیر نه بدلېږي. خدای پاک چې چیشی کئ د بنده په خیر یې کئ.
لالټي کاږه وکتل:
– داح! دا زمنږ ملک دی. دا نو خبره شوه؟ ورته وایه خدای دې امدقه سې خیر ستا په نصیب کي.
اروا کوم غکس العمل ونه ښود. ملک پر ګلابي مخي ځوان غږ کړ:
– الکه شامامده! ته لاړ شه وګوره چې قبر خو چا ډک کړی ندی.
دلته لالټي اروا ته وکتل:
– وه دسپي زو! قبر تیار جوړ دی. اوس مې خښئ.
– ښه کئ!
– وه دا څه خر دی؟ وه قمقله! ته به ام د بې جالې مرغۍ غوندې سرګردانه یې. زما ځان به نه وي. چیشی به کی؟
– هح، ته دې په ځان ډېر مه نازېږه، ښه؟ کومې بدۍ دي چې په انسان کې نشته؟ دروغ، کینه، غولول، بې وفایي، بې رحمي، عقده، د تخریب شوق، د کنځلو او رټلو شوق، د زنا او تېري شوق، د قتل شوق... څومره درته یاد کمه؟ او پوهېږې د نېکو او بدو انسانانو څه فرق دی؟ فقط دومره چې نېک خپلې ځینې بدۍ تر یو حده کنټرولولی شي، بد یې نشي. او موږ د دغو ټولو مرداریو سره ستاسې د بدن په زندانو کې اوسېږو.
لالټي په غټو غټو کتل. رښتیا هم په بېلو بېلو وختونو کې یې دا هره ښه په ځان کې لیدلې وه. بیا یې خپل کوشش ته دوام ورکړ:
– ای! مېلمه راغلی دی. د څمکې خبره کئ.
– په څمکه دې کار نه لرم. خو مېلمه چرس راوړي دي.
– نه یې دي راوړي.
– خدای ته وګوره! هرچاته دروغ وایه. ما ته یې مه وایه!
– ډک یې که ـه ـه! ته نو د کومې شاه ولې سمنډولې زوی یې؟
– لاحول و الله! ګوره! ماسره دې خبره کړې. چې پې نه درېږې زه هم داسې کوم.
– د چیشي خبره؟
– چې چرس به نه څکوې.
– نه یې سکمه کنه وا. کله مې سکلي؟
– همدا اوس روان وې. او ګوره ښځې ته دې هم ونه ویلې چې چا وژلی وې. ودې لیدل نتیجه یې څه شوه؟
– هاو، منمه چې اغه مې غلطي وه. په قسم چې دا وار رښتیا ویمه.
– ستا په قسم باور نشته.
– وه دا څه خبیث دی؟ ښا نو بل چیشی وکمه چې ته یې ومنې لوېشتینکه؟
– خوله سمه خو ځوه!
دلته د لالټي پام شو چې هغه کنځا بده ګڼي. ویې ویل:
– ای! بېرته رانه وځې که کنځا وکمه؟ دا دی کنځا کومه ګوره! هی ستا...
– وکه ځه! بیا دې بېخي بدن ته نه ننوځمه.
اروا روانه شوه. لالټي غږ کړ:
– ننا، ودرې! ودرې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاه محمد ملک ته خپل موبایل وښود. ویې ویل همدا اوس مې انډیوال ولیږه چې قبر وګوري. هغه بېرته په ټلیفون کې وویل چې ښخي جوړ دی. لږ پاکول غواړي. د یوې دقیقې کار دی. ملک ملا صاحب ته کړ:

– الکه! ته امدلته یو سورت ووایه. بیا به مړي ته غسل ورکو. ماویلې کفن خو تیار شته کنه؟

غږ شو چې هو شته. له لالتهي څخه لاره ورکه وه. اروا ته یې غاښونه چیچل. بیا یې بېرته معصومه څېره ونیوله:

– ای یارو! ښا، ته ووایه! زه او ته یو بدن نه یو؟

– خبره کوه! هدف دې څه دی؟

– ماویلې مانه تاته، تانه ماته څوک نژدې شته؟ چې منږیو بل سره کومک ونکو څوک به یې وکي؟

– کاش چې ته په دغو خبرو پوهېدلی. زه به له تا څخه په تنګ نه وم، ته له ما څخه.

– خیر دی راځه نو یارو! زما لږه خوله ورانه ده. وبښه نو! ته خو زړه سوانده او مېربانه یې. ونیسه نو!

– هاها، زه دې په چل پوهېږم، ښه؟

– نه کومه چل. په قسم. ونیسه نو! ته چې دونه ښایسته یې، امدقه سې دې زړه ام ښایسته دی. ما خو ګورې. دقه شی یمه.

– ښه ښه ډېر بیوزي مه وهه! مګر دا دې اخېر وار وي. بیا دې زاری هم نه منم.

– صیبي شو، صیبي شو. زر کوه نو! اله چې سورت ختم شو.

اروا یې بدن ته ننوتله. دی نېغ کېناست. د خلکو چیغې شوې. خو دا ځل هغوئ یوازې تر دروازې وتښتېدل. بېرته یې شاته وکتل. دی له کټه کوز شو. په پښو ودرېد. کړس کړس په خندا شو:

– مه وېرېږئ یارو! قراره قراري ده. زړه مې تنګ و. لږ مې سر کېښوده چې تپ یې ووځي.

د ټولو رنګونه الوتي وو. ښځې یې په ژړا کې خپل سر ونیو چې دا څه بلا سړی دی. لالتهي ستر ګې وګرځولې:

– ای ای! مېلمه څه شو مېلمه؟

ټولو زېږ مخونه نیولي وو. چا ځواب نه ورکوه. ده خپله شاوخوا وکتل. سباګل یې شاته ولید. د هغه ګرد غومبري او ګردې سترګې سرې وې. ده په کتو په خپل وجود کې راغونډ شو. لکه کیشپ چې په خپله کاسه کې ننوځي. لالتهي وړاندې ورغی:

– ای یارو! تا ویلې خبره کومه؟ ځه چې ځو!

سباګل یو قدم شاته لاړ. ده له لاسه ونیو. هغه له ډاره ورسره روان شو. ملک او ملا په ډکې حویلۍ کې هېښ پیښ ولاړ وو. دې کې د لالتهي ښځه هم تېزه ووتله. لځې پښې مخ په منځ کلي وخوځېدله. د هغې وتلو خلک هم د ډار له وودې وباسل. ورو ورو یې حویلۍ تشه کړه. یوازې مېږه او غوا پاتې شوه. لالتهي او سباګل په زینه ډوله ټټیو کې لاندې کوزېدل. کله کله به د تیږو په سختته باره کې لالتهي لاس ورکړ. ورو ورو د سباګل ډار ورک شو. دوئ سیند ته ورسېدل. هلته د غټو تیږو تر منځ ایله یو لښتی او به کږې وږې تللې. دوئ پر پیټه تیږه کېناستل. د سباګل سا سوزېدله. لالتهي وویل:

– خوله دې ولې وازه ده یارو؟

– وروره ګله! ما ویلې دا ته څنګه کی؟

– چیشي؟

– مړ کېدل او پاڅېدل.

– هاهاها. سر مه ګرځوه یارو! ماکې ډېر کمالونه دي. ښا څنګه دی؟ دا سین دې خوښ شو؟

– وروره ګله! لکه لوی تونل. غټې غټې تیږې، جیګ جیګ کمرونه، له ځوړندو وښو د اوبو څڅېدا، ایرکنډیشن دی.

– هاو، دلته ماغزه ارامېږي. سړی ښه فیکر کړئ. ما په ټلیفون کې چیشي وویلې؟ اوس به دې په یاد شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سباګل سر وخوځوه. ده ته يې په سترګو کې کتل. لاس يې جېب ته کړ. چرس يې وباسل. شونډې يې وخوځېدلې:
– ما ويلې وروره ګله! مځکه دې څنګه کړه، مځکه؟
لالټي هم د هغه له مخه سترګې نه اړولې. خو فکر يې اروا ته و، چې وځي که نه؟ ځواب يې ورکړ:
– د غم دانه قراره پرته ده يارو. د اغې د لاسه خو دقه حال ته راغلمه.
سباګل دده د خړ واسکټ جېب پيدا کړ. د چرسو پاکټ يې پکې کېښود. شونډې يې وخوځېدلې:
– کليوالو له دې وويلې چې که په دا قيمت يې ناخلئ سباګل له يې ورکومه؟ چې بيا ونه وايئ.
په جېب کې د چرسو د پاکټ محسوسولو د لالټي زړه په ټوپونو کړ. سا اخېستل يې تېز شول. ويې ويل:
– اخ خدايه! نا کنه. وخت پيدا نشو. اوس د لور په غم واوښتلمه.
هغه ليدل چې اروا ونه وتله. معنا دا چې ويې کولی شول هغه وغولوي. د بري احساس يې ټول حواس وپارول. يو دم يې په ناستو په خوله ډول او په لاسونو ګډا پيل کړه «ډمبک ډمبک ډمبک، ډډم ډمبک...» سباګل له خندا شين و:
– اى لال مامد خانه! دا څه کوډې دي اشنا؟ زه پوی نشومه. په دې ډول چرس...
– چششش! مه وايه کنه يارو! زما خو يو غم ندی کنه. اوس په بله بلا ام اوښتی يمه.
– وروره ګله! ته خو ووايه! څنګه بلا ده؟ زه به دې تې خلاص کمه.
– ښه ځا! يو سړی چې د ځان سره په جنګ وي، ته يې د ځانه خلاصولی شې، آ؟ وينې؟ دقه سې غم دی. غلی کېنه! دا ستا د شان نه غټې خبرې دي.
– يره نو ته اجيبه سړی يې. زه دې ببخي ګنګس کړی يمه په خدای.
سباګل د سيند په سر خلاصي لوی تونل کې کوز او بر وکتل. څوک نه و. سيګرېټې يې وباسه. لالټي ژر وويل:
– چيشی کی؟ غم راته مه ګوره! زه يې نه سکمه.
– ننا، ځان له يې لګومه. وروره ګله! تا سره مې دوه ځله وسکل. خوند يې راکو.
– ډک يې که ـه ـه! چرس خو غمجن خلق زر خپلوي. ستا نو څه غم دی يارو؟
– هی اشنا، ته څه خبر يې؟ په زړه مې يو لک پولې ولاړې دي. ګوګړ درسره شته؟
لالټي اورلګيت وباسه! تيلی يې ووهه. سباګل له سيګرېټې څو کشه وکړل. د لالټي بدن ورسره ويلي ويلي و. مخ يې يوې او بلې خواته اړوه. نه پوهېده چې څه وکړي؟ په وازه خوله يې په هوا کې د لوګي کشول شروع کړل، چې د نشې تنده يې ماته شي. مګر نه، هغه لا زياتېدله. دې کې يې اروا هوا ته کشه شوه. بېرته ننوتله. د لالټي زړه لاړ او راغی. هواته يې وکتل:
– نه يې سکمه وا. نه وينې؟ داح! په لاس کې مې ايڅ شی نشته.
سباګل هم په هوا کې سترګې وګرځولې. کوم شی يې ونه ليد. لالټي يې چوخ کړ:
– اى چاسره غږېږې؟ خدای پاک سره؟
د لالټي پام شو. پوهېده چې دا به هغه لا حيران کړي. په ژوند کې ورته يو ازې دروغ پاتې وو. ده پرې ځان ته د شخصيت ورکولو هڅه کوله. سر يې وخوځوه:
– هاو کنه! ته نه يې خبر؟ ما د خدای پاک سره وعده کړې چې چرس به نه سکمه.
– ښه ښااااا! اوووو وی ی ی. نو بله وعده نه وه؟ دا خو دې په زوره ځان د خدای له نعمته محروم کړی دی مړه.
– هاو کنه. نو چيشی کولی شمه يارو؟
د لالټي هسې هم زړه تنګ و. دغې خبرې نور هم وسولوه. ستونی يې ډک شو. چيغه يې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وه خدايه نووو. د قدرتونو دې جار شمه نووووووو. دا موزيګيان ولې نه ورک کی ی ی ی؟
غږ په تونل ډوله سيند کې انګازې وکړې. سبا ګل غټ غومبري وخوځول:
– پو پيږمه وروره ګله. خوا خوږې دې نشته. د مورا و پلار يکي يو زوی يې. سخته ده. په تا مې زړه سوزي.
لالټي يو دم په چيغو چيغو وژړل. سبا ګل يې په بېړ سر لاس تېر کړ:
– خير دی. خير دی. ته دسې وکه! خپلوانو له وايه چې کومک وکي!
– ته چيشی وايې؟ د چيشي کومک؟
– چې لور درسره واپس راولي. ورله وايه دا خو د ټولو شرم دی. لږ غيرت وکئ!
– نا، پرېده! اغئ کې څوک نشه نکئ. غيرت د کمه شي؟ ماته ام وايي نشه پرېده! ماويلې ښا؟ چې تاسې غوندې بې غيرته شمه؟
– هاهاهاها نرره خبره دې کړې په قسم.
سبا ګل له سيګرېټي څخه ژور کش وکړ. ويې ويل:
– اخ خوند يې وکه. ای وروره ګله! ځکه به ګوره خامخا ماله راکی. ستا پکې ډېييره ګټه ده.
– او پرېده ورک شه! زه په څه کې يمه، ته کند و ځکه ځکه ځکه نارې وهې.
سبا ګل په مړو کتو موسکی شو. هغه ته اوس کنځا او سپکاوي ارزښت نه درلود. ټول په سيګرېټي رامات و. اوږده اوږده کشونه يې کول. لکه د ژوند وروستۍ ساګانې چې اخلي. حرکات يې هم ورو ورو سستېدل. لکه له ټايره چې غلې غلې هوا وځي.
سيګرېټي اخېر ته نژدې شوی و. د لالټي بدن مری مری او ستونی وچ وچ کېده. ټول لړزېده. د لېونيانو غوندې يې بې واره مخ يوې او بلې خواته اړوه. يو دم يې په سيند کې وړاندی کمره ته لاس ونيو. چيغه يې کړه:
– اوووووو! الته ګوره الته! اوهوهوهوهووووو! وی الاااا! دا چيشی دی؟
سبا ګل سترګې واړولې. هلته د پيغلې د خورو زلفو په شان په بوټو او ونو پټ کمر و. هېڅ خوځښت پکې نه ليدل کېده. لالټي کله يو ټکی، کله بل ټکی ښوده. په دې ترڅ کې يې له سبا ګل څخه سيګرېټي تېز واخېست. د سترګو په رپ کې يې دوه کشه وکړل. ژر يې اوبو ته وغورځوه. اروا نيمه هواته ووتله. ده چيغو ته دوام ورکړ:
– اغه دی اغه دی. اوهوهوهوهو! ګوره ګوره! اخ وغورځېده.
اروا هماغه لور ته وکتل. پوه نه شوه چې څه شی ښيي. د لالټي په لاس او شونډو کې سيګرېټي هم نه و. اروا بېرته بدن ته ننوتله. دده زړه هم ورسره ځای ته راغی. د بدن غړي يې سست او هوسا شول. خوښ و چې د لوی مشکل د حل راز يې وموند. پوه شو چې کله اروا په بدن کې وي دنيا ته دده په سترګو ګوري. کوم شی چې ده ته نه ښکاري، هغه يې هم نه ويني. مطمئن شو چې نور نو هر څه د هغې له نظره پټولی شي. دا دويم لوی بری و. مګر ددې ترڅنګ اروا بدن ته د لوګي ننوتل هم احساسول. د لوګي ډول يې هم معلوموه. خفه شو چې له دې سره به څه کوي؟ سبا ګل اوس يو قرار ده ته کتل. کټ کټ په خندا شو. د چرسيانو په لهجه يې وويل:
– يره دا دې کومه نخره وکړه اشنا؟ بې نشې نشه يې په قسم. ای! بل سيګرېټی ډک کمه؟
لالټي پاڅېد:
– غلی کنه! سور تنور ته لړګي ماچوه يارو! ځه چې ځو!
– چرته ځو، چرته؟ ښااااا، غرمه شوه؟ ډوډی راکی؟
– هاو، ځه چې ښځه دې نارې وهي. ډوډی تياره ده.
– يره دا څه وايې؟ زما ښځه؟ کومه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– زه یې د ښار نه غړا ورمه.
– ښاااااا؟ وروره ګله! تا کې ایڅ شک نشته. نااشنا سړی یې په قسم. ای ته وګوره څه یې پخ کړي؟
– د پسه کړایي.
– اخی! اله اله اله! زر مې ورسوه چې سړه نشي! اله اله اله!
لالتهي سباګل له لاسه ونیو. د کمره د ښنتو تیړو په نری لاره یې روان کړ. لکه میږی چې ترځان څو ځله غټ بار کشوي. هره شېبه د سیند پر غټهو تیړو د سباګل د غورځېدو او چوېدو امکان و. بالاخره د کمره سر ته ورسېدل. سباګل کېناست چې سا واخلي. وروسته تخت ته لاړ چې د ښار په موټر کې ځان د پسه کړایي ته ورسوي.
∞∞∞∞
لالتهی مابنام د کوټو مخ ته په کټ کې څوړند سر ناست و. کله هاشم وریادېده چې مروه په توره کوټه کې بندي کوي. کله اروا، چې دی چرسو ته نه پرېږدي. کله یاسین چې هڅه کوي په زور او وهلو مروه واده ته راضي کړي. بې وسۍ او تنهایۍ یې زړه وپړسوه. سلګۍ یې ووهلې. ښځه یې د ننه پر توشکه سسته پرته وه. دده ژړا یې واورېدله. راووتله. څنګ ته یې کېناستله. ده ګمان وکړ چې رټلو ته راغلې ده. سلګۍ یې وتښتېدلې. ښځې وویل:
– ای! تاسره چرس نشته؟
– چیشی؟
– بوی دی.
– ځه ورکه شه! په خدای که مې سکلي وي.
لالتهي ترې لېرې شو. هغې په پلو سترګې پاکې کړې:
– ښه دې کړي. ماته یې امراکه!
– ډک یې کهـهـه!
ښځه یې ټېل وهله:
– لېونۍ یې؟
– څوک چې چرس سکي لېونی وي؟
– نا، ویمه ته ښځه یې کنه.
– ښځه نو لېونۍ کېدلی نشي؟ بس دی. کور او کلي په بلا وهمه. نشه کومه.
– نا، نا. په خدای چې مړه دې کمه.
– ښه ده کنه. ددې شرمونو، غمونو، جړاګانو نه به خلاصه شمه.
سلګۍ یې ووهلې. لالتهي یې ورو پر ملا لاس کېښود. هغې اول ځل ټېل نه وهه. ده وویل:
– ته غلې شه! هرشی به سم شي!
– څنګه؟ څنګه به سم شي؟ ته سم شوې؟ آ؟ ښا، چیشی وکمه؟ نه نا، نشه کومه.
د لالتهي نظر د هغې د پښو په زخمي ګوتو ولګېد:
– دا چېرته وینې شوي دي؟
– دا؟ منځ کلي ته تلې ومه. پوه شوې نه یمه. په لاره کې په تیړو لګېدلي.
د لالتهي سترګې غټې غټې ووتلې:
– منځ کلي کې دې چیشی کول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ماویلې زارۍ به وکمه. هاشم لالا به مروه راپرېدي. ناء. د ښځې نه د چا سترګه سوزي؟ سړی شته نا.

هغې په زوره وژړل. لالټې یې ګرد او لوند مخ ته کتل. خپلې او ښکې یې وڅڅېدلې. د هغې په ژړا بل ډول خفه کېده. نور خو یې څه په وس نه وو. له کوره به ووت، چې ویې نهویني. بیا به یې نشه وکړه چې له سترګو یې لېرې شي. اوس یو دم پاڅېد. جېب ته یې لاس کړ. چرس یې له کوره بهر وغورځول. په ونه کې ولګېدل. د پاڼو او پاکټ شرپه هار شو. اورلګیت یې ښځې ته ونیو:

– قسم دی که بیا یو کش وکمه! صیبي شو؟

ښځې اورلګیت واخیست. پاڅېدله. غلې نغرې ته روانه شوه. ده وریسې وکتل. بدن یې سست شو. په زړه کې یې وویل«ښا نو! ما سکروټه وجووله، چرس مې وغورځول. دې د سپي لور دونه ونه ویلې چې خیر وېسې» په کټ کې غلی پرېوت. چورت یې وهه چې د نورو لړ ښه ولې خلکو ته ډېر او دده ډېر ښه لړ ښکاري؟ یو وخت ښځه له سطل سره راغله. دی پاڅېد:

– راکه! شپه ده. زه یې راوړمه.

– نا، ته بیا د ویالې مردارې اوبه را نه وړې. بره پکې خلق اودسونه کئ.

– نا، په خدای چې چینې ته ځمه.

هغې سطل ورکړ. لالټې تر سرک، نرې پټې او ویالې تېر شو. په تیارې کې یې د ونې لاندې پاکټ ولټوه. بالاخره یې ولید. مخ یې واړوه چې اروا وغولوي. نژدې ورغی. پاکټ یې په جېب ومنډه. له ځان سره وبنګېد «وخوره د موزیګې زو!» له ویالې یې سطل ډک کړ. بېرته راغی. وروسته ښځه او مېره جوړه له کوره ووتل. پر سرک مخکې لاړل. په نرۍ لاره د غونډۍ په لمنه وختل. ښځه د یوې دروازې تر څنګ د تیږو دېوال ته تکیه ودرېدله. لالټې ننوت. مخامخ قطارو کوټو ته یې وکتل. په برق روښانه وې. مګر په حویلې کې تپه تیاره وه. درې ورونه په دې نه جوړېدل چې ځراغ چېرته ولګوي. هر یو د خپلې دروازې پر سر غوښت. نو ځکه یې په حویلۍ کې د ځراغ لګولو سلا ونه شوه. د کوټو مخ ته یو یو د زردالو نیالګی ولاړ و. هغوئ په هر مجلس کې پرې نازېدل. خپل کور یې د زردالو باغچه بلله. لالټې نارې کړې:

– د کاکا زامنو! وه د کاکا زمنو! چېرته ورک یئ؟

خړ سپی په منډه راغی. لالټې ته یې لکۍ وخوځوله. ګرد ترې تاو شو. درې ښځې د حویلۍ په برسر کې پر تناره ناستې وې. ډوډۍ یې پخوله. دده په لیدو یې مخونه تروه شول. له کوټو څخه درې تنه ورونه راووتل. غوټ سړي وپوښتل:

– داخ، خیرت دی؟ چرس دې خلاص شوي څنګه؟ پیسې منږ سره نشته. ښا؟

ټول ماشومان راغلل. دده ته یې په خندا کتل. لکه د لوبو شی چې ویني. د سرې ټوپۍ سړي وویل:

– ای په دا شپه کې په خیرات پسې ګرځې. دې نه نر شه حاجي چمن ونیسه! پټی تې بېرته واخله!

– ډک یې که ـه ـه! یو وار مې پیسې غوښتې وې. تر اوسه پېغورونه راکوئ. مه وېرېږئ! پیسو پسې نه یمه راغلی.

ماشومانو په خپلو منځو کې خندل. غوټ سړي وویل:

– داخ، نو دلته چیشی کی؟

– ما ویلې ماسره کومک وکئ!

سړي مخ ورونو ته کړ:

– داخ، پیسو پسې ندی راغلی. وینئ کنه؟

– یو خو ته دې داخ داخ پرېده! خبره سمه واوره! ماسره مرو پسې لاړ شئ! د کاکا زامن مې نه یئ؟

– داخ، اوس دې د کاکا زامن شولو؟ چې لور دې منږ ته نه راکوله اوس یې خپله ګټه!

یوې ښځې ډکه ټوکرۍ په تخرګ کې ونیوله. کوټې ته په تګ کې یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– چیشی شوي؟ چاته چې دې لور ورکوله امقو ورېږ ده. خوشاله اوسه کنه!
لالټې برګ شو:
– ته غلې شه! دا د سړیو منځ کې خبره ده.
– اوهو، اوهو! ته چا سړی کړې؟ چرسي سړی، نه سړی.
لالټي یې مېړه ته مخ واړوه. هغه د تور واسکټ له جیبه نصوار وباسل. ښځې ته یې وهم نه کتل. بله ښځه هم له ډوډۍ سره له تناره کېوتله. سپي ته یې ګوته ونیوله:
– ای دا سپي وینې؟ تا نه دا ام ښه دی. خپل او پردي پیژني.
ماشومانو کټ کټ وخندل. د سرې ټوپۍ والا سړی ښځې ته په قهر شو. هغې شونډې واچولې، لاړه. سړی لالټي ته را وګرځېد:
– ته نو چیشي ته ولاړ یې؟
– ځمه ځمه. ما ویلې تاسې به شرم پیجنئ.
د تور واسکټ والا غاښونه وچیچل. لالټي یې ټېل وهه:
– وځه ورک شه! ستا د لاسه منږ په کلي کې چاته جیګ کتلی نشو. د شرم پیغور ام ته راکی؟
لالټي په درندو قدمونو ووت. ښځې هرڅه اورېدلي وو. مخکې شوه. لکه پېرۍ په تیارۍ کې غلې روانه وه. د هغې چوپتیا له غصې او دده چوپتیا له ډاره وه. دواړه کور ته ننوتل. مېړه او غوا ورته ځیر وې. ښځه د توقع خلاف غلې پر لمانځه ودرېدله. دی سودایي شو. هغه به له ده څخه څومره نا امیده شوې وي چې غصه کول هم بې ګټې ګڼي؟ له ځانه یې کرکه وشوه. د ماما زامنو ته یې ټلیفونونه وکړل. هغوئ ویل چې د هاشم زور نه لري خبره یې ومنه، مشکل به حل شي. لالټي له ځان سره په آواز کنځا وکړه. زړه یې سست شو. درب په کټ کې پرېوت. په هوا کې ولاړې اروا ته برګ شو:
– ای ای! د سپي زو! بیا ووتلې؟ آرام ته مې پرېږدې که نا؟
– غلی کم عقله! سل واره مې درته ویلي کنځا مه کوه! ته بیا...
– چیشي؟ دا سل واره غېپا دې نوره بنده که! دونه دې ماغزه کار نکئ؟ دا عادت دی.
– عادت دی که هر شی دی ختم یې که!
– چیشي چیشي؟ هح، وه قمقله! علت لاړ شي عادت نه ځي د سړي نه خدای دې نه کاندي په بد چارو عادت څوک
– اخله مه! شعر ته ګوره! بد عادت هم پېژني. ای هوښیاره! چې څوک وغواړي عادت هم پرېښودلی شي. مګر ته کنځا او چرس خپله نه پرېږدې. وی ښه شو را یاد شول. تا غرمه په سیند کې چرس ولې وڅکول آ؟ ما درته...
– کله؟ ما ندي سکلي.
– داح! یو خو دا دروغجن خلک ولې هېڅ شرم نه لري؟ ای! ستا په بدن کې لوګی و. زړه مې تنګ شو. سر مې وګرځېد.
– بلا مې درپسې! سبا ګل سکل. ما سا اغستله. د هوانه به را غلی وي نو. سا خو نشمه بندولی.
– د هوا نه دومره ډېر لوګی؟ ښه ځه! نور چې چا چرس څکول ته به هلته نه کېنې! که نه، بیا دې خیر نه شته.
– چیشي چیشي؟ ای لوېشتینکه! دا نه کېږي.
– خو ښه دې نو. بیا ګیله هم مه کوه!
– وه! وه! ته لېونی شوی یې! الهری شه چې د پرو ادې مونځ ختم که!
– نه،. وعده وکه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وه دا څه خبیث دی؟ زه خو ستا د ادې هوټل نه یمه چې ستا فرمایشونه به پوره کومه. کنځا مه کوه! چرس مه سکه! این د چرسیانو څنګ ته مه کېنه! سبا به وایې اوبه مه سکه! ډوډۍ مه خوره! سم وو ایه سا ماخله خلاص!
– ښه نو چې وعده نکې زه هم نه درځم.
– اوهوووو! ای ای! ستا د لاسه ځان وجنمه ګوره!
– هح، ټول به خوشاله شي. لوی غم نه به خلاص شي.
– ډېر د کچه زوی یې ولا. الته دې په زوره جوندی کړمه. اوس بیا دا خبرې کی. ښا نو په چا سړی باور وکې؟ څه ورک یې که! یارانو چې نشه کوله زه به نه کېنمه. صیبي شو؟
– نهء. قسم وکه!
– په خدای که کېنمه! په قران که کېنمه! الهٔ نو زرکوه د سپي زو!
څو ښځې سلام ګرځوه اروا ببرته ننوتله. دی نبغ کېناست. سا یې تېزه تېزه واخېستله. مګر د ښځې ګرد مخ جدي و. هغه تل د خپلوانو په سپک چلند خفه کېدله. کله کله به یې وژړل. لالټي خیال کوه چې اوس هم هغوئ ته په قهره ده. ښځې وویل:
– د ماما زامن ملامت ندي. منږ ورسره چیشی کړي؟ زه د سړیو منځ ته تلی نشومه، او ته نه د چا په غم کې وې، نه ښادی کې. تا د ګلټي نه غیر څوک پېجندل؟
– ګل مامد خان وایه!
– ګلټي. هر ډېراني ته خان وایه. خپل پټي ته به دې ملا ماته وه. د اغه پټي کې دې قلبه او ماله کوله. مانه به دې پیسې پټې کړې. چرس به دې ور وړل. اغه به لکه پاچا قرار ناست و. پښه به یې په بله اړولې وه. اوس ورته ووایه چې درسره لاړ شي کنه!
– ځي کنه. اوس ګوره!
لالټي سمدلاسه ټلیفون وکړ. دده د شمېرې په لیدو ګلټي د حویلۍ په کټ کې نبغ کېناست. وړوکي زوی یې خوشحاله شو چې ماته راپاڅېد. غاړې یې واچوله. هغه ټېل وهه. ماشوم له کټه ولوېد. سر یې ولګېد. په چیغو چیغو یې وژړل. ښځه په منډه راغله. زوی یې جیګ کړ. ګلټي موبایل غوږ ته ونیو. لالټي وپوښتل:
– څنګه یې یارو؟
– نیني نیني یمه باداره. امدقه ستا غږ ته ناست ومه. په قران په ما ډېر ګران یې. درغلمه؟ چېرته کېنو؟
– بیا به کېنو یارو. دا پرېده! ګوره چې تا غږ کړی ما خالي ندی پرېښی. اوس ستا وار دی.
– چیشی؟ ما سره نشته.
– هاو کنه. تاسره نو کله وو؟
– هاها سخت وران یې. ویمه باداره په ما دې قرض. په قسم نزدې وخت کې یو بلا پیسې راځي. بیا به زما وار شي هاو.
– ته خو دا شل کاله امدقه وایې. پیسې رانغلې. اوس به د کومه شي؟
– په خدای او په رسول چې دا وار رښتیا ویمه. ای چاته ونه بنګېږې! لور جبار ماما ته ورکومه.
– دا وړه جلۍ اغه بوډا ته؟ مکوه یارو!
– چیشی؟ په غېږه ورځې؟ تانه تکړه دی. ای! په منږ یې څه؟ مېلې به کوو. هیت، چرسیان سګرېټیان شازلمیان غیرتیان ملایان مکتبیان اسې خوشې کدوان هاهاهاها. ونیسه باداره نو، ښځه لړه وځنډه! پیسې میسې تې وباسه!
– غلی! ټوقې مه کوه! ورېندار دې اوري.
– وی، نننننا...

(c) ketabton.com: The Digital Library

– صیبي شو ځا. زه بل کار درته ویمه یارو.
– وایه بادار! هر کار ته ولاړ یمه.
– ما ویلې راځه چې په دا هاشمتي پسې لکه جوړه بازان لاړ شو! دا ستا وریره تې په زوره را جیګه کو!
د ګلتې سترګې نا آرامه تاوې شوې. بیرا و خیرن سریې وګروه. لالتې غږ کړ:
– اورې یارو؟
– هاو، هاو. خو اغه وایي هرڅوک چې راغی ډز تې جیګومه کنه. بغری به موکي.
– څه بابا! اغه او دونه غیرت؟ بیا زمریانو ته ګیدړ چیشی دی؟
– نا، که ما وولي، زما ښځه، زما بچیان به څنګه شي؟
– بې غمه به شي. تا خو اغئ د وهلو نه مړه کړل. هاهاهاها، ټوقه مې وکړه یارو. ښه ځا، که زه جوندی ومه دا سې به یې ساتمه لکه خپل بچي. د نر وعده ده.
ګلتې یو دم برګ شو:
– هی د خره زو! هی د سپي زو! تا زما ښځې ته سترګې پټې کړې. ډېر بې غیرته شی یې.
– ډک یې که ـه ـه! دا چیشی وایې؟ ما ورېندار کله یاده کړې ده یارو؟
– ودې نه ویلې ستا بچیان به لکه خپل ساتمه؟ دا څه مانا، آ؟ ښه ده چې لور یې درنه ورې ده. ته ډېر نمک حرامه وختلې.
ګلتې ټلیفون بند کړ. په خندا شو. دلته ښځه له قهره وپشېدله. د لالتې لاس له موبایل سره همدا سې په غوږ کې پاتې و. ځان ورته دروند، خو تېر تش معلوم شو. لکه لړمون چې یې چا وېستلي وي. تېر شل کاله یې چې څه په وس وو که نه وو له ګلتې سره وکړل. د هغه په انډیوالی یې کلک باور و. مګر هغه دا هرڅه په یوه لغته ختم کړل. آیا هاغه ټولې خوږې خبرې او وعدې دروغ وې؟ په شل کاله کې زه ولې پوه نه شوم؟ نشې ته یې زړه وشو. چرس یې تیار په جېب کې وو. هوډ یې وکړ چې نن شپه به په نشه زړه یخوي. نور یې د اروا هم خیال نه ساته. څه به وکړي؟ وبه یې وژني؟ نو څه؟ لور یې ترې بوتلله، ښځه یې په سړیو کې نه حسابوي، انډیوال یوازې پرېښود. تر دې ژوندهمرګ ښه دی. ښځې د کچالو پیاوه او شړومبې راوړې. ده څو مړی د زړه په زور وخوړې. سمدلاسه سملاست. منتظر شو چې هغه ویده شي. سره له ټوله قهره یې ښځه خفه کولی نه شوه. خو هغې کله لوښي مینځل، کله یې مخ او لاس کوه، کله بل څه. په ده شېبه په شېبه د نشې حملې زور اچوه. په کټ کې اوښت را اوښت. زړه یې بې حده تنګ و. ډېر ځنډ پس ښځه په کوټه کې پرېوتله. لالتې نیغ کېناست. په لړزېدونکي لاس یې له جېبه زېړ پاکټ وباسه. دوه تختې چرس پکې وو. پزې ته یې ونیول. بوی یې ښه عمیق کش کړ. پاڅېد، چې له کوره ووځي. درب شو بېرته په ځمکه ولګېد. اروا یې هوا ته جیګه شوه. لالتې چیغه کړه:
– چیشی دي؟ ورک شه د سپي زو! ستا د لاسه سل شومه.
– اخله ـه ـه! نیغ نیغ هم ته کېږې؟ هاغه قسمونه چا خوړل، آ؟
– او پرېده! تا پورې څه؟ نر غوندې نشه کومه. په دونیا کې د نشې نه غیر نور ټول دروغ دي ټول. دا جوند دروغ دی، دا رښتیا دروغ دي، دا انډیوالي دروغ ده، دا واده دورغ دی، دا بچي دروغ دي. دا دا دا...
– چې دروغ دي نو ژاړې ولې؟
– په امدقې جړا راځي کنه.
– نهٔ. ځکه ژاړې چې دا ټول رښتیا دي.
– څه ځا ورک شه! ځان او ښیار او ښیار مه کوه! که رښتیا وای ګلتې به دسې نه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– داه! هغه خو معتاد دی. معتاد پرته له نشې بل هېڅ ته وفادار نه وي.
– بد دې وکړل د سپي زو!
– نه، تا نه یادوم. ښه څه، نور پرېږده! دا وو ایه چې د مروې مینه هم دروغ ده؟ هغه چې ته به نیمه شپه وتو خېدې د او بو ګیلاس په لاس به درته ولاړه وه. چې لړ به یخ وو هلې ډک چاینبر چای به یې مخ ته درکېښود. چې د ورځې لس ځله به دې جامې خیرنې کړې لس ځله یې درته مینځلې. تنکیو لاسونو به یې تنها کې وکړې. هغه چې ستا په څورېدو به یې کری، ورځ ژړل، په خو شحالی دې په کوټه کې ځان ته ګډېدله. هغه چې ستا څنګله ورته د جنت غېږه ښکارېدله. هره لحظه یې موقع لټوله چې سرپې کېدې او ویده شي. آ؟ وو ایه کنه! څه خیر دی! ته په دې خبرو نه پو هېږې.
– اغه ته قمقل یې. زه په هره خبره پو هېږمه. دا ټول ستا د سپي زوی د لاسه دي.
– څه څه؟ څه شی زما د لاسه دي؟
– تا زه په نشې راوستلمه.
– وه وه! شرمېږې هم نه. دا شخې شخې د انسان سترګې دي که د مجسمې؟
– هاو کنه. اوس چې دا د سې شي ډرت ووځې، ډرت ووځې. امقه اول به وتی وې کنه. نشې ته به دې نه پرېښودمه.
– دا یې لابله. ای ای ای! اوس هم ستا لپاره نه وځم ښه؟ د لور او ښځې لپاره وځم. هغوئ په ما ګران دي.
– غلی شه حرامي! زما ښځې ته به خپله ښځه نه وایې ویمه!
– هه، په خبرو کې هرڅوک غیرتي دی. په لور غیرت وکه! قرار ناست یې.
– ټرت! زه سمه لاره لټومه. ویمه که مړ شمه خیر دی. خو چې مرو خامخا راولمه.
– آ هاهاهاهاها
– ای د سپي زو! دا خلق خو مې یوازې نه لېږل کنه. که دونه تکړه یې خندا پرېږده! مطمینه لاره وښیه څا!
– نه، خوله کې مړی درنکم؟ هره لاره ریسک لري. ستا هو ښیارې او زړورتیا یې مطمئنه کوي.
– ډک یې که‌ه‌ه! چې د کار خبره شي خوله کجاوه کجاوه کې. په نصیتونو خبره تېره کې.
– نه، ته وایې لار درو ښیم؟
– هاو څا!
– رښتیا پې ورځې؟
– هاو وا. د لال مامد خان وعده ده.
– ماته معلوم یې. ښه څه! ملک ته وو ایه چې دا خو ستا بدنامي ده. له نورو ملکانو سره به څنګه مخامخېږې؟ بیا نو ګوره! او چرس دې له جېبه وغورځوه! که نه، بیا خو پو هېږې.
پر ملک دده باور نه و. هغه په کلي کې د ترازو پلې ته کتل. د چا چې زور زیات و د هغه خیال یې هم زیات ساته. هر مشکل ته یې ولاړ و. له کمزورو سره د بام له سره غږېده. خو بیا هم د لالټي د زړه په کونج کې د امېد بڅری پټ و. څه معلومه ده؟ کېدای شي ملک دا ځل مهربانه شي. سبا له سلو اندېښنو او شکونو سره د هغه کور ته روان شو. یو ماشوم د کلا له کونجه تېره واره کړه. دی یې په ملا کې وویشت. خپله وتښتېد. دی له درده تاو راتاو شو. چیغه یې کړه «هی د سپي زو! ویمه دغه جومه دې اخېرنی جومه شه!» دلته یې پام شو چې نن خو جمعه ده. ببرته وګرځېد. وروسته جامع جومات ته لاړ. د ننه ځای نه و. خلکو دباندې ټادرونه غړول. امام په خورا قیل وقال د تیخور ماشوم کیسه شروع کړې وه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– زما مومنانو! کمکي چې د مور متزلزل حالت ولیدو، نو دفعتن په خبرو راغی. مور ته وایي چې ای زما مورې! ای زما ادې! مه یرېږه! زړوره پې ورځه! د الله ج دمبارک او حق دین دپاره زماسره اورته ودانګه! مور ته څه وایي؟ د الله ج د مبارک دین...

لالټي تر خلکو پښې اړولې مخ ته روان و. د هرچا سترګې ور اوښتلې. دی ممبر ته ورسېد. غلی یې امام ته وویل:

– ملاګله! که خفه کېږې نا، زه به ستا د افسانې په منځ کې سوداګریز اعلان واچومه.

ځینو خلکو هررر وخندل. دی ځواب ته معطل نه شو. مایک یې له امامه واخېست. یو سپینږیري غږ کړ:

– ورکه نجسه! ورکه! ورکه!

امام لاس اوږد کړ:

– راکه الکه! د الله کور دی ګوره. که غلطه خبره وکې د رب العزت په بل غضب به اخته شې.

لالټي یې خبرو ته ارزښت ور نه کړ. ځینې ځوانان ورپسې پاڅېدل. ده ژر په مایک کې وویل:

– زه نور چیشی نه ویمه. ما ویلې زما لور منځ کلیوالو بیولې ده. ورته ووایئ چې دا د شربت خېلیو ناموس دی ښا؟ زمنږ ملک صیب خو پیږجنئ. که جلۍ زر خوشې نکئ ځوانان به لکه زمریان درپسې درولي. بیا نو ټینګ شئ! په خدای چې...

یو ځوان ورځخه مایک په زوره واخېست. لالټي برګ شو:

– پرېده! چیشی کی؟ بده خبره خو مې کړې نده.

ځوان ډیکه ورکړه. دی د اول قطار په سپینږیرو ولوېد. هغوئ په ملا سپېړې ورکړې. خلکو بیا وخندل. د لالټي خښتګ لوند شو. پاڅېد. کړوپ کړوپ دروازې ته روان شو. د شربت خېلو ملک رډ رډ کتل. د لالټي د تره غوټ زوی کلسري ځوان ته وپسېد:

– داخ، دا خیرن خپله لور په کلي وسپارله. په منږ پورې څه؟

– هاهاها، عجب چل یې وکه په خدای.

تر لمانځه وروسته د نورو کلیو خلک د شربت خېلو په ملک راتاو شول. هغه ته یې شاباسی ورکوه. ویل یې ملک باید همداسې ننګیالی وي. هغه خپل شهرت او عزت ته خوشحاله و. نه یې ویل چې دا خبره لالټي له ځانه وکړه. اوس یې بله لار نه لرله پرته له دې چې رښتیا په نجلۍ پسې ورشي. له همدغه ځایه یې د شربت خېلو ځوانان او سپینږیري د توتو باغچې ته بوتلل. لالټي په منځ کې پلتۍ وهلې وه. غلی ناست و. د دروغو او رښتیا باټې یې نه ویشتلې. پوهېده چې ملک په زړه کې سخت په غصه دی. مګر د خپل کار اغېزې ته خوښ و. خلک یو بل ته په غوږ کې پسېدل. په سترګو کې یې له راتلونکو پېښو اندېښنه وه. ملک په غټ سر سپینه ټوپۍ شاته ټېل وهله. ویې ویل:

– ګورئ! که منږ نن خپل ناموس ونه ګټو سبا به هرڅوک راباندې زړور راځي. نن دا جلۍ ده. سبا به بله وي. نو منږ یوازې د لالټي په لور غیرت نه کوو، په خپلو خویندو او لورګانو یې کوو.

ده غږ کړ:

– زما نوم لال مامد خان دی.

ملک یو دم چیغه کړه:

– غلی پیپوسه! پرتوګ ټینګولی نشې، زما نوم لال مامد خان دی. خوشایه خان دی خوشایه خان.

هرڅوک له هرې خوا په لالټي برګ شو. ملک مخ ځوانانو ته کړ:

– دسې وکئ، ټوپک اوږو ته واچوئ! څادر په ځان تاو کئ! که خبره جنګ ته ورسېد له چې تیار اوسو.

د لالټي د تره غوټ زوی غږ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– داخ، بې غمه اوسئ! جنګ خو به خامخا کېږي. زه ویمه د اغئ کور خو د سرک په غاړه دی. دوه کسه به مخامخ په انارو کې کېنو و. دوه دوه به د کور درېو خواوو ته ګوري. او پينځه شپږ کسه به جلې په زوره وباسي. او...

ملک سر وخوځوه:

– منږ چې کور ته ننوتلو ایڅوک به نه پرېدئ چې دننه ری شي! اورئ؟

ټولو ویل صحیح ده. لالټي غږ کړ:

– نده صيبي، نده.

ملک ورته غاښونه وچيچل:

– ويمه غلی کېږې که نا؟ ای! ګوره التـه به ام د خولې نه ټرت نه باسې! که دې خبره ورانه کړه بيا دې خير نشته.

– ډک يې که ـه ـه! ورانوئ خو يې تاسې.

– بس که مردار مخيه! دا چرس سکل ندي. د مرګ او جوند خبره ده.

– وه وه! زه نو چيشی ويمه؟ مګر تاسې تې جوند کلوئ، مرګ ته يې برابروئ.

يو سپينږيري غږ کړ:

– دا شی بېخي مه بيايئ!

بل ځواب ورکړ:

– نه کېږي کنه! لور دده ده غضب.

ګلابي مخي شاه محمد وويل:

– ملک صيب! چېرته وارخطا يو؟ سبا پورې وخت ډېر دی. پرېدئ چې دده کړتې ام واورو!

لالټي سر وګروه:

– کړتې ندي. ما ويلې هاشم زما اوښی دی. د کور سړی دی. د کور لانجه سړی په ټوپک نه حلئ يارو.

کلسري ځوان سر وخوځوه:

– دا لانجه نده. دوښمني ده. لور يې درنه وړې ده چرسولا خانه! ويښ شه!

– ډک يې که ـه ـه!

ځينو ځوانانو کړس کړس وخندل. ملک برګ برګ وکتل. هغوئ بېرته غلي شول. لالټي وويل:

– تاسې لمبې کمې کئ يارو! اول به په نرمه ورته ووايو. بيا که...

د ننوتو غومبرو وچ ځوان غږ کړ:

– ګورئ دا خو ټول پېجنو. که يې غيرت لرلی وخته به په لور پسې تلی و. ده نه يې ښځه ډېره غيرتي ده.

لالټي کاږه وکتل:

– وه ته لکه چې د زېږېدو په ورځ له کټه په سر ولېدلی وې.

ځوان پاڅېد چې ويې وهي. ملک پرېښنبود. ده ته يې تېره وکتل:

– ای نجسه! دا الکان ستا پرتوګ ټينګئ پرتوګ. که بيا دې دا خوسا خوله وخوځوله، پرېدم يې چې مردار دې کي.

∞∞∞∞

په کابل کې جيګ وزير ډک تالار ته د وزارت ډېر شوي عوايد بيانول. خلکو داسې چکچکې کولې ته وا په خپلو سترګو يې ليدلي او ورته خوشحاله دي. ځينو به لاسونه تر نورو جيګ ونيول چې وزير يې ووينې. داسې ګنګوسې وې چې هغه په راتلونکې کې د حکومت مشرۍ ته تر نورو غوره کانديد بلل کېږي. هېڅا د زياتو شويو عوايدو ثبوت نه غوښت. نه يې دا انديښنه لرله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

که وزیر دروغجن وي او په راتلونکي کې د حکومت مشر شي نو هرڅه به تباه کړي. د خلکو تشویق وزیر دومره په احساساتو راوست چې د دریځ له بې شمېره مایکونو څخه یې یو په لاس ولګېد. پر کانکرېټي ځمکه ولوېد. ټوټه ټوټه شو. هغه بښنه وغوښتله. له ډېرې کمینۍ یې په خپله د مایک ټوټې جمع کړې. تر هغو یې وینا ودروله چې ژورنالیست بل مایک لګولی نه و. وروسته یې د غوره خادمانو په لیست کې عبدالرشید هېوادیار ته هم ستاینلیک ورکړ. هېوادیار وویل:

– زما قدرمنو! افغانستان په نړۍ کې یو له هاغو هېوادونو دی چې د پرمختګ لوړ چانسونه لري. د نورو امکاناتو ترڅنګ مونږ په هر ولایت کې په لسګونه قیمتي کانونه لرو. که په بدخشان کې لاجورد دي، نو په غزني کې لیتیم لرو، په پنجشېر کې زمرد شته. همداسې هر ولایت درواخله. اولنی اټکل وایي چې زمونږ د کانونو قیمت تر یو ټریلیون ډالرو رسېږي. وروستۍ سپړنې ښیي چې کېدای شي تر دې ام واوړي. خبرې نه اوږدوم. زه له خپلو قدرمنو مشرانو، په تېره له محترم وزیر صاحب او ټول افغان مېړني ولس څخه مننه کوم. تاسې زما لږ کار په دومره قدر یاد کړ. دا ماته په راتلونکي کې د لا زیات خدمت همت راکوي. ژوندی دې وي افغانستان!

شور او چکچکې شوې. هغه خپل ځای ته لکه فاتح کېوت. دې کې د سباګل ټلېفون راغی. هېوادیار ووت. د دهلېز د پای کړکۍ ته ودرېد. په پښتونستان واټ کې دوه تنه شوخ ځوانان د فوارې د اوبو جیګو دارو ته لامده خیشته ولاړ وو. خندل یې. خلکو یې سیل کوه. د ترافیکو پولیس هڅه کوله چې بنده لاره موټرو ته خلاصه کړي. د ټلېفون د کرښې هاخوا سباګل د دکان دروازه بنده کړه چې بهر یې څوک وانه وري. په نري غږ یې وویل:

– وروره ګله! چې ما سره مشوره نه کوې دغه به مو حال وي.

د هېوادیار له ستوني دروند غږ ووت:

– نا نو، څه خبره شوې؟

– خبره مو خرابه کړه کنه.

– ګوره الکه! زه د مجلس نه راوتی یمه. اصله خبره کوه!

– وروره ګله! ما وویلې چې لور تښتول یې ښه ندي کړي.

– ښا پروفیسر صیب. خبره کی که ټلېفون بند کم؟

– خبره دا ده چې لور تې بېرته په زوره بیایي.

– څوک؟ چرسي؟

– نا، ټول کلیوال. دا خو د کلي شرم دی کنه.

– تاله چا وویل؟

– خپله لالټي ټلېفون کړی و.

– نا نو، کلیوال یې لور کله بیایي؟

– سبا د ټوپکو سره پسې ورځي.

– ښه ځا، غم مکوه! نه یې شي بیولی. تا اغه سړی پیدا کو؟

– کوم سړی؟

– نانو، تاله ما څه وظیفه سپارلې وه؟

– ښه ښا. ومې ویلې کنه د لالټي سره چا خبره کړې نده. تاسې خو زما نه منئ. د یاسین منئ. او اغه درله دروغ وایي.

– نانو، ته څه پوی شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وروره ګله! لالټي مې انډیوال کړی دی. ماله هره خبره کئ.
– چې انډیوال دې دی خو کار پې وکه کنه!
– څنګه یې وکم؟ ما ونه ویلې چې یاسین نه به تېر شو، مستقیم به لالټي سره وغږېږو؟ آ؟ تاسې ونه منله.
– ګوره! اول خو د چرسي په خوله کې خبره نه ټینګېږي. بل، بیا مجبور د یاسین خوله بنده کو. بل، مځکه تې څنګه اخلې؟
– په پیسو.
– نه کېږي. اغئ پردی سړی نه پرېدي چې په سالاو کې مځکه واخلي. یاسین یوازینی اپشن دی. چرسي باید مځکه ورکي.
– ویې ویلې کنه چې اغه مې نه خوښېږي. ښا نو بیا بل کس ورله مخته کئ!
– نا نو، مونږ د څه دپاره احتیاط کوو؟ چې خبره تیته نشي کنه. لالټي له چرس ورکئ هرڅه مني.
– نا کنه. ماله مالومه ده. دا بل ډول سړی دی. چرس وهي خو خپل غرور هم لري.
– صیبي ده. ته دې دا هوایي تحلیلونه ځان له وساته! کار وکه کار! که یې نشې کولی سم ووایه!
– نور څه وکمه؟ زه پوهېږمه. تاسې زما باسلو له لاره جوړوئ.
سباګل د وتیرین شاته لاړ. د ښیښې له سره یې د سروزرو ګوته واخېستله. ریس غاښونه وچیچل. خو لهجه یې اوس هم آرامه وه:
– فالتو مه غږېږه! تا څه کړي؟ تر اوسه خو زمونږ په کارونو کې خبرې کی بس. ما ستا عمل ونه لیدو.
د سباګل پړسېدلي غومبري او ګردې سرې تکې سرې شوې. د سروزرو ګوته یې د ویترین منځ ته واره کړه. ویې ویل:
– وروره ګله! ته بې غمه مجلسونه او مېلې کی. زما سالاو له په په تګ راتګ پښه پښه پښې وشلېدې.
– تګ راتګ موهم ندی. نتیجه موهمه ده.
هېوادیار ټلیفون بند کړ. سباګل موبایل ته ټېغ ټېغ کتل. خپل تندی یې په ګوتو کېکاږه. له جېبه یې ګولۍ وباسله. ویې خوړله.
∞∞∞∞
سهار ملک لکه سپاه سالار مخته شو. شاته یې ځوانانو په غټو ګامونو له سرکه دوړې باسلې. د شربت خېلو وړو او زړو دعا کوله چې په خیر بېرته راشي. د ښځو په سترګو کې اوبه ځلېدلې. د سړیو د غلطو فیصلو زور تل له دوئ وځي. دلته سړي په لړڅه یو دم په احساساتو راشي. وړه خبره په دښمنې واړوي. د ماشومانو په جنګ، په تشه کنځا، په یو لوښت ځمکه ښایسته قامتونه د خاورو خوراک کړي. وروسته بیا هم پښېمانه وي، هم ورڅخه لاره ورکه وي چې دښمنې څنګه ختمه کړي؟ مګر بیا هم د ښځو نېکې مشورې نه اوري. پر هاغه کس خاندي چې د خپلې مېرمنې خبرو ته غوږ نیسي. اوس لالټي تر ټولو شاته و. له هر قدم سره یې سر زانګېده. د زړه دربه هار یې د لسګونو پښو په دربه هار کې ورک کېده. له رسېدو سره یې ولیدل چې د هاشم د کور مخ ته ځوانان ټول دي. دده زړه پښو ته وښویېد. د ملک هم رنګ بدل شو:
– اوووی! جنګ ته ولاړ دي. د ټوپکو لټ ووهئ! غوټه مه ځئ! تیت شئ!
د څادرونو لاندې کړس کړس شو. یوازې د لالټي لاس تش و. هغه ځان د نورو شاته پناه کړ. دوئ ګوته په ماشه نژدې ورغلل. له حویلۍ څخه یې د ژړا غږ واورېد. لالټي وارخطا شو چې په لور یې څه شوي نه وي. په ځان پوه نه شو چې څه رنګه کور ته ننوت. د هاشم مېرمن په خاورو کې ناسته وه. د کلي ښځې پرې راتاوې وې. ده وپوښتل:
– چیشی دي؟ چیشی دي؟ مرو چېرته ده؟
نورو ښځو شاواړوله. د هاشم مېرمن په ژړا کې ځواب ورکړ:
– وی وروره! ملاذان خلق ټوپکو سره راغلل. یاسین او مروه یې په زوره بوتلل.
– چیشی، چیشی؟ چېرته یې بوتلل؟ دا څوک وو؟
– څه خبره یمه؟ خدای دې تبا کي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وه نو تاسې ورته کتل؟ هاشم چېرته دی؟
– اغه ورپسې لاړ کنه. اله خیر کې خدایه! اله په خیر یې راولې!
دباندې د موټر غږ شو. لالټي په منډه ووت. د منځ کلي ځوانان په هاشم پسې لاړل. لالټي شربت خپلیو ته وویل چې ماته به مو غږ کړی و. زه هم ورسره تللم. چا ځواب ورنه کړ. هغوئ غلي غلي غږېدل. هېڅوک نه پوهېده چې څه روان دي؟ د مروې موضوع لا کړکېچنه کېدله. حیران وو چې پردیو خلکو په سالاو کې څه کول؟ هلک او نجلۍ یې ولې بوتلل؟ هغوئ اصلن له دې لانجې څنګه خبر شول؟ ټولو فکر کوه چې ددې پوښتنو ځوابونه به له هاشم او یاسین سره وي. دوئ د کور مخامخ د انارو په باغچه کې منتظر شول. یخ سیوری و. د انارو د بوټو بوی یې دماغونه تازه کړل. ځای جیګ و. شمال لګېده. هاشم تر غرمې معلوم نه شو. منځ کلیوالو ډوډۍ راوړه. د ماسپښین لمونځونه هم وشول. ځوانانو په ټلیفون کې ویل چې لا یې هم هاشم موندلی نه دی. هغوئ ایله مازیګر بېرته ستانه شول. د هاشم په مخ، تندي، غاړې او لاسونو سپینې پټۍ لګېدلې وې. ویې ویل:
– زه لاړمه چې بچې تې راولمه. د بازار څنګ ته په الیخپلو کې مې ګیر کړل. سخت بې درېغه یې ووهلمه. ویلې که دې بل قدم راغستی و وجنو دې. پولیسو کتلې. اېڅ یې نه ویلې. ټول ځان مې درد کوه. وینې رانه تلې. دا ګرېوان مې ګوره! موبایل ام رانه پاټې و. بیا الیخپلیو د غونډۍ دپاسه شفاخانې ته بوتلمه. دا الکان راپسې سرګردانه ګرځېدل. اخېر یې التـه پیدا کړمه.
منځ کلیوال ورو ورو زیاتېدل. لالټي لکه خدایي چې سترې وي. سا یې سوزېدله. سترګې یې بې هدفه تاوېدلې. غږ یې کړ:
– دا د سپي زامن څوک دي؟ زما لور یې ولې وړې؟
– نه یې پېژنمه. ډېر ظالم خلق دي.
ټولو یو بل ته وکتل. هر یو ویل دا نو څنګه چل دی؟ اتکل دا شو چې د دولت کسان به وي. د شربت خپلو ملک هاشم ته کړ:
– الکه! تا ښه ونه کړل. زمنږه ماصومې جلۍ دې ډېر ظلم وکه.
دلته د لالټي تاوده ماغزه په ایشېدو شول. بیا په ځان پوه نه شو چې څه رنګه یې پر هاشم حمله وکړه. څو سپېړې یې ووهه. نورو ته قهر ورغی چې پردی کس یې پر زخمي کلیوال وارونه کوي. ډیکه یې ورکړه. لالټي شاته وار شو. په ځمکه ولګېد. منځکلیوال وراندې ورغلل چې ویې وهي. دده سترګې له وېرې رډې رډې وختلې. په ځکېدو شاته روان شو. شربت خپلیو له ځمکې جیګ کړ. شاه محمد په منځکلیوالو پسې ټوپک ووېست. هغوئ پښه ونیوله. ده هم ټوپک بېرته پټ کړ. لالټي چې د خپلو خلکو ملاتړ ولید، زړور شو. په هاشم پسې یې زورونه وهل «ولاکه دې جوندی پرېدمه! مه مې نیسئ! خوشې کئ!» کلیوالو یې کلک نیولی و. په پای کې ملک هاشم ته ګوته وځنډله:
– ای الکه! چې هر څنګه کېږي ته به زمنږه جلۍ پیدا کې!
لالټي غږ کړ:
– په قران چې په لور مې چیشي وشي کنه، جوندی دې په ځمکه منډمه جوندی!
هاشم غلی و. دوئ شربت خپلو ته روان شول. په چړایي نبغ ډاک ته وختل. د لالټي د تره غوټ زوی په ستړیا کې وویل:
– داخ، تا خو منږ ته ویلې جنګ مه کوئ! خپله مست شوې.
لالټي غمجنه موسکا وکړه. هغه به بل وخت خپلې دغسې زړورتیا ته ډېر زیات خوشحاله شوی وای. باټې به یې ویشتې وې. مګر اوس یې د لور د ورک کېدو خفګان پر ذهن لکه غر پروت و. زړه یې ډک شو. ستونی یې تنګ تنګ کېده. ملک تر نورو په عمر پوخ او چاغ و. ځکه یې سا ډېره سوزېدله. غږ یې کړ:
– نر کار یې وکه په خدای. دقه سې!
شاه محمد نارې کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– لالټې... تنا، لال مامد اکا زنده باد!

ټولو هررر وهل. د لالټي د دروغو موسکا هم په وس نه وه. دده د تره غوټ زوی ودرېد:

– ای ښه نه ویمه؟ که د کلي کور خبره وه منږورسره ولاړ وو. کنه؟ خبره چې دولت ته شوه نو دا پوپېږې کار يې! التـه دې چلیږ!

ځوانانو تایید کړه. ملک هم څه ونه ویل. خو لالټي لا خفه شو. هېڅا يې د زړه درد نه احساسوه. سر يې ښکته واچوه. غلی روان شو. ټوله لاره یې چورت وهه «دولت څنګه خبر شو؟ ولې يې مړو او یاسین بیولي؟ اغیږ خو اول تحقیق کیږ. ولې يې ونکه؟ هاشم يې ولې وهلی؟ دولت ولې د سپي وکي؟ که دا خلق دولتي نه وي نو څوک دي؟» سر يې ګنګس شو. دوږ ماښام قضا شربت خپلو ته ورسېدل. دی په کټ کې پرېوت. ترسبا يې سر جیګ نه کړ. سهار د ویالې تر څنګ ناست و. غټ چنار ته يې شا لګولې وه. مخامخ يې په پټیو کې د رېبل شوو غنمو سوارو ته کتل. خپل ژوند ورته همداسې رېبل شوی ښکارېده. سترګې يې ډنډ وې. ښځه يې راغله. دی نېغ کېناست. رټل کېدو ته تیار شو. مګر هغې په پسته ژبه وویل:

– ای سړیه! بېګا دې ام چیشی ندي خوړلي. وږی به يې. ما چای کړی. راځه چې اوس ته راته مریض نشې!

ده په غټو غټو وکتل. یودم سلګیو واخېست. هغې وړې نرۍ سترګې نورې هم تنګې کړې:

– ولې؟ ولې؟

– امدسې.

ښځه مخامخ په دوو پښو کېناستله. دده په زنګانه يې نرم لاس کېښود:

– خپلې ښځې ته ام نه وایې؟

لالټي له سلګیو سره موسکی شو:

– بس، زړه مې مرو پسې خفه و. بیا اول وار مې تا نه پسته خبره واورېدله. ځان مې ټینګ نه که!

– یام دې نشو؟ اول وار مې درته «ای سړیه» غږ که.

لالټي په اوښکو لوند مخ وخوځوه. ښځې وویل:

– ها و کنه. چې ته راته سړی شوې زه به خامخا ښځه کېږمه.

– ډک يې که ـه ـه!

– ما ویلې زما زړه دې په هاشم لالا یخ که.

– چیشی؟ چا درته وویلې؟

– په ټول کلي کې امدقه قیصې دي. کشکې زه التـه ولاړه ومه.

– خو ته هر کله نه ټینګېږې کنه. اله چې هاشم لالا کره ځمه، هاشم لالا کره ځمه. دغه دې لالا دی.

– هی لېونیه! ته مې وېرولې. ما ویلې چې چرس ونسکې. زه نو تا یوازې پرېدمه؟

دا خبره نه وه په لالټي يې سمې بغارې وباسلې. خلک راغلل. ښځې وویل:

– چیشی ندي. مروې پسې خپه دی.

مخ يې مېړه ته کړ:

– ځو؟ چای سوړ نشي.

لالټي په سلګیو روان شو. خلکو یو بل ته په وازو سترګو وکتل. هغوږ هېڅکله دا دواړه په سوله کې لیدلي نه وو. هرومرو به ښځه په کومه خبره په غصه وه. مېړه به قسمونه خوړل او د دروغو دلایل به يې راوړل. په کور کې لالټي د دېواله سیوري ته پر کټ کېناست. ښځې د کوچو قاب کېښود. خو لالټي هغې ته کتل. د تورو ګلانو په سور کمیس کې بل ډول جذابه ښکارېدله. ګرد مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پېرو شونډو يې دی هماغسې بې طاقته کړ لکه نوې چې يې کوژده کړې وه. کله کله به خوابښې له زامنو پټ دوئ د بوسو او لرګيو کوټې ته ننوېستل. چې مخکې تر واده له يو بل سره خبرې وکړي، يو بل ښه وپېژني. هغې ته تجربه وه. خپله يې د همدې تشې له امله سختې ورځې ليدلې وې. تر واده وروسته يې مېړه په خوی بلد نه و. ددې په هره خبره کې يې منفي هدف ليده. سمه خبره به هم بېرته دې ته غم شوه. وهل ټکول به يې وخوړل. وروسته بيا مېړه پوه شو. خو په هغې تېره وه. لالټې به د ښځې د ورونو له ډاره له هغې سره له ناستې خوند نه اخېست. خو بل ځل به بيا هم روان و. اوس د ښځې غږ له خيالونو وباسه:
– ماته ولې ګورې؟ وخوره کنه!
– ناء. اوله مړی ته وکه!
هغې سر وځنډه. ده په خپل لاس مړی په خوله کې ورکړه. ښځه له خوشحالۍ ويلې ويلې شوه. پر ګوتو د هغې د پستو شونډو لګېدو پر لالټې زلزله راوستله. بل ځل هغې دده لاس دده خولې ته تاو کړ. دی په رښتيا وړی و. کوچو بيا ښېل خوند کوه. تېزې تېزې مړی يې ووهلې. غوا او مېږې ورته کتل. کله کله به يې يو نيم غږ وکړ. معلومه نه وه چې واښه غواړي، که دوئ ته خوشحاله دي. په پای کې ښځې دسترخوان کوټې ته يوړ. په ټوکرۍ کې يې کېښود. بېرته راغله. د مېړه څنګ ته کېناستله. ويې ويل:
– ای سړيه! ما ويلې اوس به چيشی کوو؟
– اوس به هاشمټې زما مرو پيدا کئ. په خدای چې چې پيدا يې نکې کنه...
دې کې هاشم په دروازه ننوت. دده رنګ زېړ شو. وېرېده چې هغه به په قهر وي. وهل به ورکړي. هاشم سلام واچوه. ده له ډاره ژر وعليک کړ. هغه مخامخ کېناست. د کټ غړيچې وخوت. د ډېټول او دوا بوی ترې جيګېده. هاشم وويل:
– زه عذر ته راغلی يمه.
غږ يې نرم او مهربانه و. د پخواني هاشم نښې پکې وې. لالټې زړور شو. تندی يې تريو ونيو. مخ يې واړوه:
– ماسره مه غږېږه!
هاشم څلور کونجه مخ ښځې ته کړ:
– خورې! مانه ډېر بد شوي.
– بس که بس! دوه وارې دې په لوی غم کېنولو، دوه وارې. داسې دوښمن نکئ. ته څنګه ورور يې؟
ښځه په ژړا روانه شوه. د هغې په ژړا د لالټې ماغزه په خوټېدو شول. زړه يې غوښت هاشم په دا خوله خوله ووهي. مګر جرئت يې نه کوه. هغه غټ او زورور و. بېرته يې دی وهلی شو. د بېلولو لپاره هم څوک نه و. هاشم مخ ده ته کړ. لالټې د خپلې ښځې غوندې پاڅېد، له کوره ووت. د سرک په غاړه په غټه تيږه کېناست. شېبه پس ښځه راغله:
– ای سړيه! اغه ناست دی. راځه نو څنګه يې کې؟ اوس خو مېلمه دی.
– هاو کنه. ځکه مې ونه وهه. دا دې راووځي!
– اغه امدا وايي چې عذر ته راغلی يمه.
– ډک يې که ـه ـه! ته يې منې؟ ماته چې زما مروګۍ دلته رانه ولي، بيا مې په پښو کې ونه غورځېږي، نه يې منمه.
– نه پوېږمه! اغه خو دونه بد سړی نه و. چې اوس پې څه بلا ولګېدله؟
دې کې هاشم راووت. .ښځه مېړه ته وبنګېدله «پرېده! وار ونکې!» د هغې باور لالټې نور هم زړور کړ. هاشم يې ټېل وهه. ويې ليدل چې هغه عکس العمل نه ښيي. دا ځل يې سپېره واره کړه. ونه لګېدله. هاشم دی په خپله غېږه کې لکه ماشوم کلک ونيو:
– ته يو وار زما خبره واوره، بيا واورونه کوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

لالټي چې څومره د هغه په عاجزۍ مطمئن کېده، هغومره يې جرئت زياتېده. اوس يې په زنګنو او لغتو ګوزارونه کول. هاشم د ژوبلېدو له وېرې سملوه. ده له لاندې څخه وويل:

– تا ګيدړان ليدلي. د زمريانو سره مخامخ شوی نه يې بنا؟ په خدای که دې پرېدمه!

ماشومان او ځوانان راټول شول. بنځې د ورور لاس کش کړ:

– چيشی کې؟ پرې يې ده!

هاشم هم خوشې کړ. لالټي پاڅېد. بيا يې وارونه شروع کړل. هاشم بيا سملوه. ويې ويل:

– ويمه زه جنګ ته نه يمه راغلی. خبره کومه.

– ولاکه نه لور درکمه، نه ځمکه! او جوندی دې نه پرېدمه!

خلک ډېر شول. يو بل ته يې ويل چې زموږ کليوال يې سملولی، موږ ورته ګورو. هاشم ورو د لالټي په غوږ کې وپسپېد:

– ستا په پټي کې د قيمتي تيږو کان دی.

ده يو دم زور وهل پرېښودل:

– چيشی چيشی؟

هاشم غېږه سسته او خوله غوږ ته نژدې کړه:

– تورمالين پکې دي. ډېرې قيمتي تيږې دي.

هاشم پاڅېد. لالټي په ځمکه پروت و. سا يې سوزېدله. يو قرار يې کتل. په فکر کې يې تېرې پېښې راوستلې. اوس ورته هرڅه بدل وبرېښېدل «بنااااا! دا ټول چې زما پټي غواړي نو دقه خبره ده» چټک په پښو ودرېد. هاشم يې له لاسه کور ته کش کړ.

يوازې بنځه يې دننه پرېښودله. دروازه يې بنده کړه. دباندې خلکو له يوبل څخه پوښتل چې څه خبره ده؟ دننه په حويلۍ کې مېږې او غوا هم خپله اندېښنه په رمباړو وښودله. لالټي هاشم په کشولو کشولو په کوټه کې په سرو توشکو کېنوه. ويې ويل:

– تا چيشی ويلې؟ تا چيشی ويلې؟

– ما ويلې اغه ستا د ښکارځي پټي کې د تورمالينو کان دی. ياسيني چې الته سورنګان الوزول د الوبالو قدر تيږه يې پيدا کړې وه. لکه تکه شنه ښيښه. الک سړی دی. امقه سې يې ښار ته وړې وه. زرګر ته يې ښودلې وه. امدا سباګل ته.

لالټي غږ کړ:

– سباګل ته؟

– هاو. دونيا ډېره ورانه ده. مخ او شا يې نشې پېژندلی. بيا نو سباګل هېوادیار ته ټلېفون کړی و.

– ډک يې که‌ـه‌ـه! هېوادیار ته؟

– هاو، اغه په وزارت کې لوی سړی دی کنه. د کانونو سروې او تشخيص ورته وايي که څه بلا ده، الته عمومي ريس دی. اغه چې د تورمالين ټوټه ليدلې وه ويلې په دا ځمکه کې لوی کان دی. ستا په پټي کې بنا؟

– بنا؟

– پوهېږې؟ د شنو تورمالينو يو قيراط غمی د درې سوه نه نيولې تر اوو سوو ډالرو خرڅېږي. پوهېږې يو قيراط څونه دی؟ دوووونه پټه. پينځه قيراطه يو ګرام کېږي.

– نااااا.

– هاو کنه، نو ريس ويلې ايچاته مه وايه! ادې و ابا دې ام مه خبروه! منږه به دا ځمکه واخلو. دېوال به پې تاو کو. قرار به تورمالين باسو. درېواړه به بلا پيسې پيدا کو. ياسيني، زرګر او ريس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ډک یې کهـهـه! او زه نا؟

– نا، ته یې نه خبرولې کنه. د یاسیني نه یې اغه ټوټه ام په یو بلا پیسو اغستې وه. ویلې دا خو خامه تیره ده. خامه تیره توږل کېږي. ضایعات لري. که توږل شوی غمی دونه وزن ولري یو پنځه پیسې کېږي. زوی خو مې مانه خبره نه پټېږي. ویلې ابا دقه دقه سې چل دی. ما باور ونکه. ما ویلې الک سړی دی. دا پیسې یې چانه باسلې نه وي. ښکارځي ته ورسره لاړمه. پټی مو لټ په لټ که. ګورو چې د می ـ د دانې قدر د تورمالینو دوه ټوټې پرتې دي. ما ویلې بس رښتیا ده.

د لالټي ښځې کړ:

– تا بیا ام منږ ته نه ویلې.

– نا، ویلې مې. بیا چې مې چورت ووهه، ما ویلې لال مامد خو دقه سې سړی دی. ټول خلق به خبر کي. بس ما ویلې نه وایو.

– سم ولې نه وایې چې په تاسې مې پېرزو نه وه. ځان ته مې اغستله ځان ته.

– ښه ځا، ته قیصه واوره! نو منږ د زرګرا او ریس ټلېفونو ته جواب نه ورکوه. منږ ویلې پرېده چې بیا ټلېفون ونکي. خپله به لږ لږ تورمالین باسو. خرڅوو به یې. خو هېوادیار این د کابل نه یو بلا وسله والو سره زمنږ کره راغی. اغه خبر نه و چې زه خبر یمه. یاسیني یې ځانته که. ورته یې ویلې چې ته په خپل سر د کیندلو حق نلرې. جواز درسره نشته. که یې وغواړې ځوک یې درکئ ام نا. بیا ماشینانو ته ضرورت دی. اغه م تاسره نشته. خو شې به ام په ځان کار خراب کې، ام په منږ. بیا یاسیني ورسره منلې وه. ریس ویلې تاسې لال مامد ته ښه غټ پټی ورکئ، دا شاړه تې واخلئ! تاوان زه درکومه. امقه و چې منږ تاته وویلې. تا ونه منله.

– ښه ښه ښاااا! هېوادیار ځکه د پټي لیدو ته راغلی و؟

– هاو، بیا اغه یاسیني ته پیسې په سود ورکړې. چې پټی پې واخله! تا په پیسو امرانکه. منږ ویلې ورک یې که! ددې کار نه به تېر شو. خپله خور به پټه خبره کمه چې دقه سې چل دی. بیا به ګورو چې چیشی کېږي؟ ریس ته مو وویلې پیسې بېرته درکوو. اغه ویلې دوه برابره به راکوئ. یاسیني ویلې ولې؟ دا د سود خط خو ددې دپاره و چې ځوک ونه وایي چې پیسې دې د کمه کړې. ویلې نا، دا سم خط دی. دسې خبیث سړی دی دا ریس. منږ حیران شوو چې دونه پیسې د کومه کو؟ زور خو مو ورسره برابر نه و. یاسیني ویلې ښا نو څه وکمه؟ ریس ویلې لال مامد مړ که! لور یې واده که! پټی ستا کېږي. منږ خو په بلا ککړ وو. ککړې سم کار نه کوه. دا راته ښه ښکاره شوه. ما ویلې ځا، اسې مې ام خور ورسره پاذابه ده. څو شپې درپسې راغلو. منږ ویلې کور ته به در واوړو. خو د کلي سپیو به راپسې غپل. بېرته به وګرځېدلو. دا شپه ته خپله ووتلې. منږ درپسې شولو. اخېر په ماڼو کې په لاس راغلې.

– هاو نو. چې چغل دې د کوره وي، خانه به دې خپوره وي.

– بس چې خدای سړی قمقل کي نو څه به کی؟ چې ته پسته جوندی شوې، منږ بیا حیران وو چې چیشی وکو؟ ریس ویلې لور یې وتښتوئ! په زوره تې ځمکه واخلئ! منږ مجبور وو.

– ډک یې کهـهـه! چیشی مجبور وئ؟ ماته به مو ویلي وو. بیا به مو کتلي وو چې ما چیشی کول؟

– تا خو بېخي چیشی کوی نشو. نو منږ جلی ـ وتښتوله. اوس چې یې اغئ بیولي دي وېرېږمه …

د هاشم ستونی ډک شو:

– دوه زامن مې الته مړه شول. چې دا راته مړ نکي.

د هغه اوښکې وځلېدلې:

– په قران قسم چې ما ته پروانه او مروه د لور نه کمې نه وې. څه وکو نو؟ اغه په سهوه کې سخته ولګېدله. دا دسې شوه. ځینې کارونه د سړي په واک کې نه وي. اوس دقه سې جنجال دی. ما ویلې په بچیانو پسې به لاړ شو. څو پورې به ورته ګورو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– هاها، ای! ته خبیث ما تېرباسې؟ غواړې چېرته مې مړ کې؟ ماته دا ډرامې ټولې مالومې دي ښا؟ خپله ډرامې جوړومه. زه دونه ساده نه یمه چې ته خیال کی. وڅه د کوره مې، که نه دلته دې وجنمه! وځه!

هاشم زاری کولې چې په ما باور وکړئ. خو ریې په منځ کې پاتې وه، نه پوهېدله چې څه وایي. لالټې هاشم له کوره وباسه. اوس ورته د سباګل د دوستی هدف هم معلوم شو. سمدلاسه یې ټلیفون وکړ. ویې ویل:

– ښا نو، تا د سپي زوی ماته دا چرس د چل دپاره راوړل؟آ؟

– ورورہ ګله څه خبره ده؟ څنګه داسې په غوصه یې؟

– ډک یې که ـه ـه! ټوله دونیا ډرامه بازه ده. ای کندو! زه د تورمالینو د کان نه خبر یمه. ښا ولې؟

– څه څه؟ د کان نه خبر یې؟ چا درته وویلې؟

– هاشمټي. اوس تاسې زما د وجلو بل چل جوړ کړی آ؟

د سباګل غومبري او ګردې سږمې تکې سرې شوې:

– نا، په په په خدای که داسې وي. ما تاته ونه ویلې چې یاسین ته پټه پټه پټې مه ورکوه؟آ؟ د یاده دې ووتل؟ ما غوښتل یاسین د منځه وباسمه چې زه او ته او ریس معامله وکو. ریس نه منله.

– تا خو ماته ونه ویلې. پټې خو دې ځان ته اغسته.

– هاو، ما ویلې پټه پټه پټې به واخلمه، ریس به مجبور شي چې یاسین وباسي. ګوره دا ډېره خطرناکه مافیا ده. هرکار کولی شي.

– دروغ. تا حرامي غوښتل یاسینی هم وباسې ما هم. زه دې په چل پوېږمه ښا؟

– نا، په په په قسم که...

– چې سل قسمه وخورې نه یې منمه. تاسې د سپي زامن ټول دروغ وایئ. هی ستاسې په ...

د لالټې اروا نیمه ووتله. دی په قهر شو :

– او پرېده! چې کنځا ونکمه نو چیشی وکمه؟

ټلیفون یې بند کړ. ژوره سا یې اخېستله. تېز ووت. ښکارځي ته لاړ. ایله اوس یې په خلاصو سترګو خپل پټې ولید. په سورنګ الوتې تیږې هرچېرته پرتې وې. یوځای کې لویه کنده وه. په ټول پټي کې وګرځېد. یوه یوه تیږه یې واړوله. بالاخره د نوک د سر په اندازه شین بڅرکی یې وموند. ببرته کورته راغی. په کټ کې کېناست. ستونی یې وچ وچ کېده. سریې وګرځېد. ښځه یې څنګ ته کېناستله. ده ور وکتل. یودم یې زړه نری شو. ویې ژړل. د ښځې وړې سترګې غټې شوې:

– ولې سړیه، بیا ولې؟

– اسې. ما ویلې خبره ډېره ورانه ده.

– څنګه؟

– زمنږ مرو د مافیا سره ده.

– مافیا؟ دا څنګه سې ښځه ده؟

– ښځه نده. لویه ډله ده. ډېر بې رحمه ظالمان دي. دغه ګوره! دا یې وړه ذره ده. ددغې تیږې دپاره منږ په بلا او ښتي یو.

– وی، خدایه! نو چیشی وکو؟

– نه پوېږمه. سر مې درد کئ. په چرسو پسې مې زړه چوي.

– میراث یې کې! زمنږ خو یو غم ندی کنه.

– ښځې ورک یې که! ته غلې شه! خوله مې خرابه ده. کانګې مې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– مروه به څنګه شي؟
– ویمه چې دا هاشمټی مې دلته وجلی و، زړه به مې یخ شوی نه و.
لالټی په کټ کې غونج پرېوت. داسې تاوېده لکه په خېټې کې چې یې ماران وي. ښځې په ډکو سترګو کتل. په پای کې یې وویل:
– اوس په تا چیشی ونشي. څه چرس وسکه! څنګه وکو؟ چیشی چې مو قسمت کې دي.
– نه یې سکمه.
د ښځې ورې سترګې ټېغې شوې:
– چرس نه سکې؟
– ویمه نا کنه. پوېږې؟ ما هرکله سکلی شول. تاسره مې وعده نه ماتوله. کله چې به نشې ډېر زور وکه اغه بېله خبره وه. بیا ورته ټینګېدی نشومه. خو دې نه پس چې ورپسې مړام شمه نه یې سکمه.
– اوس چیشی شوي؟
– د پرو او مرو دپاره. ما د اغئ په جوند کې یو ارمان پوره نه که. دا ارمان خو یې پوره کومه. که خپله نشته. اروا خو به یې ګوري.
هغه یو دم په زوره زوره وژړل. د ښځې یې هم سلګۍ شوې. لالټي وویل:
– تاسې ټول په ما ګران وئ. خو زه غضب د چرسو په لاس کې ومه. د زړه کار مې کولی نشو.
– زه پوېږمه سړیه. ما ډېر زورونه ووهل چې د چرسو نه دې وباسمه، نه کېدله.
– کشکې دې دا خبرې راته مخکې کړې وې. ما ویلې څه ښځه په ما شرمېږي، نه یې خوښېږمه، د ناچارۍ نه راسره اوسېږي.
– وی خدایه! دادې لا بله.
– هاو کنه. که زه خبر ومه ځان مې بدلوه. چرس مې خوشې کول.
– نه دې شول.
– ستا په کومک مې کول. که تا د ورځې یو د مینې خبره کړې وه، ماته یې سبا پورې قوت راکوه.
– دا چیشی وایې؟ تیخور خو نه وې چې ما به مینه درکوله.
– غم دا دی کنه. منږ چې ماشوم په خبره پوه شو نور ناز نه ورکوو. چې بې لارې نشي. نا کنه. ام مینه ورکه، ام یې په مینه په خبره پوه که! زما پرو او مرو ته ګوره! خلق حیران وو چې د چرسي په کاله کې دونه ښې جینکۍ د کمه شوې؟ که زما ابا او ادې امدسې کړې وو زه به بل سړی ومه. ابا مې وهلمه. چې په لاره سم شمه. ادې مې خوشې کړی ومه چې یو زوی مې دی. ښه شی یې جوړ که. دې کې چا د کور په دروازه زور ووهه. چې خلاصه نه شوه نو ویې ټکوله. لالټي او ښکې د لاس په څټ پاکې کړې. په درندو قدمونو روان شو. هلته ګلټی و. دی یې له لاسه کش کړ. چرس یې پزې ته ورونیول. په کړس کړس یې وخندل. وپسېد:
– پیدا مې کړل باداره، پیدا مې کړل.
د چرسو بوی د لالټي رګ رګ ته ورسېد. لکه ورې ځناور چې غوښه ووینې، د بدن ټول غړي یې ورتاو شول. شونډې یې د سګرېټي په ګردوالي پسې ورېږدېدلې. ستونی یې د لوګي په تریخوالي پسې وتخنېد. سږو یې په لوګي د ډکېدو حسرت وخوړ. نشه بیا پر تخت کېناستله. ښځه او وعده پاتې شوه. د ګلټي ناځواني له یاده ووتله. دواړه پر سرک روان وو. لالټي په خندا وپوښتل:
– ای یارو! لور دې جبار ماما ته ورکړه؟
– نا، چې لس لکه رانکي کله یې منمه؟ زه اوس غټه وظیپه لرمه باداره. ویلې معاش کې پیسې غواړې که چرس؟ ما ویلې چرس.
– هاهاهاها! دا چیشی وایې؟ دا څنګه وظیفه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګلتهې سر ټيټ کړ. ويې خندل:
– هه‌ء هه‌ء هه‌ء چاته ونه ښکېږې! خبريال يمه بادا ره. هه‌ء هه‌ء هه‌ء د کلي قيصې راډيو ته ورکومه. هه‌ء هه‌ء هه‌ء ګوره زما او ستا خو وروري ده. خبرې به رانه پټې ښا؟ اې ښه پرېمانه چرس راکئ. اغه سندره څنګه وه؟ د خداى مهرباني ده. پرېماني ده...
– ډک يې که‌ـه‌ـه! د خداى مهرباني ده. پرېماني ده. مزې کوه خاني ده. هې مزې کوه خاني ده.
دواړو په ګډه زمزمه کوله. د لالتهې نشې ته بيږه وه. ځان يې ميږې ميږې کېده. هرې حجرې يې چرس چرس نارې وهلې. شاته ورپسې ښځې له خلاصې دروازې کتل. ده مخ واړوه. هغې سر ښکته واچوه. تور ټيکرى يې په ګرد مخ راکېوت. لکه سپوږمۍ چې تندر ونيسي. ده بيا قدمونه تېز کړل. مګر د ښځې د سر ښکته کولو تصوير يې په سترګو کې ونښت. سر يې وڅنډه چې هېر يې کړي. ونه شوه. يودم يې ګلتهې ته زارۍ پيل کړې:
– ننناا، خوشې که! نه کومه، نشه نه کومه.
– هاهاهابادا ره کومه دې؟ ما نيولى نه يې. تا نيولى يمه.
لالتهې خوله غوږ ته ورنژدې کړه!
– اې يارو! تېز څه چې ښځې نه پنا شمه کنه! ننناا خوشې که! نه سکمه...
– ښه ښا. وېرېږې؟ غم مکوه بادا ره! لررررررې دې بيايمه. چې اغه شيشکه دې ښخي ونه وينې.
– خبرې مه کوه! لاره وهه! ننناا، پرې مې ده! ما د لورګانو سره وعده کړې ده. نشه نه کومه...
لالتهې په جيګ غږ زارۍ کولې چې ښځه يې واورې. مګر تېز مخکې روان و. ګلتهې ورته خندل. د لالتهې په اوږه يې لاس واچوه:
– چرس وهه بادا ره! مزې کوه! لور څه کي؟ اغه به د کوم برېتور په غېږ کې خپلې مزې کئ.
د لالتهې په مغزو کې کړنګ شو «ګلتهې د سپي زوى په مرو پسې سپکه وويله، آ؟» يودم ودرېد. غاښونه يې وچيچل. د سپېږې وار يې وکړ. هغه ونه لګېد. ورمنډه يې کړه. ټېل يې وهه. هغه وخندل. په موټې کې يې چرس ونښودل:
– هه‌ء هه‌ء اى دا ګوره! تک تور، تخته تخته. اخ څنګه ښه بوى کئ. هټ، چرسيان سيګرېټيان شازلميان غيرتيان...
د لالتهې بدن په چرسو پسې ويلې يلې شو. مګر سترګو ته يې د ګلتهې سپکه خبره، مروه او ښځه هم ولاړه وه. هغوئ يوې خواته کشوه او چرسو بلې خواته. دى په منځ کې پاتې و. سا يې سوزېدله. لکه په غره چې ختلى وي. ټټر يې له تنګېدو په درد شو. کانګې يې راغلې. يودم يې په غوږو کې ګوتې کېښودلې. مخ په کور يې منډه واخېستله. ګلتهې ورپسې نارې وهلې. ده نه اورېدلې. په دروازه ننوت. لکه د کلونو مسافر جانان، ښځې کلک په غېږ کې ونيو. دده زړه تنګون ورو ورو کم شو. ګلتهې له سرک څخه کتل. چيغه يې کړه «بې شرمه ښځونک».

∞∞∞∞

ماسخوتن لالتهې په کټ کې پروت و. د لوښو ماشومتوب ورياد شو. يوه شپه هغوئ پوښتنه وکړه چې ستوري د څه لپاره دي؟ ده ويل ستوري د ماشومانو انډيوالان دي. رڼا کوي چې تاسې د شپې ونه وېرېږئ. چې په آرامه ويدې شئ. نجونې خوشحاله شوې. په خپلو منځو کې يې د ستورو وېشل شروع کړل. بيا يې پلار ته ويل ستا خو قد جيګ دى. موږ ته زموږ ستوري ونيسه! دى حيران شو چې اوس څه وکړي؟ دې کې تصادفن اوربلکى په هوا کې تېرېده. کله يې رڼا پيدا کېدله، کله ورک کېدله. لالتهې لاس واچوه. ويې نيو. لوښو يې حملې وکړې. هرې يوې ويل زما ستورى دى. ده ورغوى خلاص کړ. وړه حشره پکې وه. رڼا يې نه کوله. نجونې هکې حيرانې شوې. ده ويل هره رڼا چې قيده شي مړه کېږي. که ستاسې ستوري ونيسم په آسمان کې به هېڅ رڼا نه وي. دنيا به تپه تياره شي. لاره به نه وينو. خو ښه مو! که وايئ چې ويې نيسم؟ لورګانو يې په يو غږ وويل «نا، نا» لالتهې اوربلکى د ګوتې په سر ټېل وهه. هغه والوت. بيا يې پل او پول پيل کړ. نجونو له خوشحالۍ ټوپونه ووهل. اوس هوا هماغسې يخه لګېدله. آسمان له ستورو ډک و. خو لورګانې نه وې. دده سترګې نمجنې شوې. ښځې پخې بېنډۍ راوړې. ده وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– نه یې خورمه. زړه مې د سپ ډک دی ډک. ویمه چې پخوانې بېرته واړومه.
– ولېړه ده. ټوله ورځ دې چیشی ندي خوړلي. د زړه په زور یې وخوره!
– نه یې شمه.
هغې په خپل لاس ده ته مړی ونیوله. دا په ژوند کې اول ځل و. سره له ټولې بې اشتهایۍ یې هغه خفه کولی نه شوه. مړی یې وخوړله. ښځې خیال وکړ چې زما له لاسه خوند ورکوي. بله یې ورکړه. پسې بله، پسې بله. کله چې هغې دسترخان کوټې ته یووړ. دی په منډه له کوره ووت. په پټې کې یې کانګې وکړې. خوله یې په ویالې کې ومینځله. بېرته راغی. غلی په کټ کې پرېوت. مګر زړه یې نا ارامه و. لکه یو شی چې ترې ورک وي. ستوني یې خاربښت کوه. خوله یې بېرته وچه شوه. نه پوهېده چې د چرسو له منګولو به کله هم خلاص شي که نه؟ اندېښنه یې وه چې له لورګانو سره غیابې وعده به پوره نه کړي. ښځه یې ځنګ ته کېناستله. دواړه غلي وو. اخېر د هغې پېړې شونډې وخوځېدلې:
– ماته ځنګ کې ځای راکی؟
دی لکه موږی ټک وهل شو. نظر یې د ښځې په مخ کې ونښت. د مروې تر زېږېدو وروسته بیا یو ځای ویده شوي نه وو. ځکه یې نور اولادونه هم پیدا نه شول. خیال یې کوه چې په همدغه آرمان کې به مړ شي. مګر اوس لکه له آسمانه چې خوښې رانازله شوې وي. ځان یې ځنګ ته کړ. هغه سملاستله. مخ یې دده سینې ته تکیه کړ. ژوره سا یې اخېستله. لکه د ټول عمر ستړیا چې یې اوس احساس کړې وي. لالټې یې په چوټې شوي سر نرم نرم لاس ووهه. پر سور غومبري یې ښکل کړه. ورو ورو د هغې سا اخېستل برابر شول. خوب یوړه. خو په لالټې یې پوست بدن لکه ټکور لګېده. ښځینه خوشبویۍ یې دده حواس پارول. د هغې د مخ په سیل نه مړېده. ښځې شټ وهل. وبنګېدله «مروه، وی مر..» په خوب کې یې سلګۍ ووهلې. لالټې بیا ښکل کړه. ښځه آرامه شوه. دده فکر هم مروې ته لاړ «اته کلنه وه. دده په وېښتانو کې یې لکه غټه ښځه لاس وهه. ویې ویل:
– ابا ابا! پوپېړې زه به ډېییییره ډېره کله خوشاله شمه؟
– چې په یوه ورځ شل جوړې کالي وکې.
– ناء. چې ته چرس پرېدې.
ده ټېل وهله. مروه له کټه ولوېدله. بېرته پاڅېدله. غاړی یې واچوله. ویې ژړل. دی په خپل کار پښېمانه شو. په غېږ کې یې کلکه کړه» اوس د لالټې سترګې ډکې شوې. لاسونه یې په دعا لپه کړل «ای خدایه! زه به د مرو هره خبره ومنمه. یو وار یې راته صیي سلامته راوله. پوپېړمه. د حاجي چمن زوی دادو یې خوښېږي. ما چې یې مرکه وشړله پوه شومه چې خفه شوه. اغه وخت قار راغی. اوس ویمه ښه دی چې خوښېږي یې. د هرچا یو ځوک خوښېږي. نېکبخته اغه دی چې د امقه سره واده وکي. زه مې لور نېکبخته کومه. هاو، دادو ته یې ورکومه. خیر دی چې ابا یې د سپي زوی دی. زما پټې یې نیولی دی. د لور نه مې لس پټیه جار!» سترګې یې پاکې کړې. له ښځې څخه یې ورو ځان لېرې کړ چې ویښه نه شي. بل کټ ته لاړ. جېب ته یې لاس کړ. درب شو په کټ کې ولوېد. اروا یې هواته جیګه شوه. ده کاږه وکتل. مخ یې ترې واړوه. اروا برګه شوه:
– یو خو ته په ښه او بد پوه نه شوې. اول ځل مې زړه لږه دمه وکړه. کړپ بل کټ ته واوښتلې. چې هلته وې څه تندر به راپرېوتی و؟ ای دا جېب کې دې څه دي چې لاس وهې او لاس وهې؟
– تا پورې څه؟ زه په تا غرض نه لرمه. ته په ما غرض مه لره!
– اخله مه! ته وایه نو! زه دې پرېدم؟ د چرسو د څکولو خیال هم ونکې!
– ډېر د سپي زوی یې. د جېب نه مې موبایل باسه. د مرو تصویرونه مې کتل. ودې نه لیدل؟ د چرسو نه ونه تښتېدلمه؟
– په تا باور نشته. توبه ډرت شی یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– زه اوس پوه شومه. ته په ما خپل سات تېرى. زما د ځورولو نه خوند اخلې.
– وه ته څومره کم عقل يې. زه ستا د وجود برخه يم. ستا ځورېدل زما ځورېدل دي. باور وکه!
– ډک يې که ـه ـه! تا غوندې مکار سپينسترګى ما ايچېرته ليدلى ندى.
– مه يې منه!
– څه ورک يې که! پرې مې ده! لرې شه!
– ته نو څه کار لرې چې ما شړې؟ خو چورت وهې او ژاړې. چې څه چورت وهى؟
– لور مې يادېږي.
– هغه خو پوهېږم. وايم څه غواړې وکې؟
– پسې ورځمه. هرچيشى چې وشول.
– هاهاهاها دا ته وايې؟ ته ډارن؟
– ډېر خبيث يې. ښه وينې چې ډارن نه يمه، بيا ام پېغور راکى.
– آاااا! بالکل بالکل.
– اى! ته دسپي زوى ترا وسه پوه نشوې؟ زه د وهلو نه نه وېرېږمه. چې څوک وار وکې متيازې مې ځي. دقه شرم دى.
– هاهاهاها. ته هم شرم پېژنې؟
– داح! ښه ځه نو! پرې مې ده کنه!
– نه، که رښتيا په لور پسې ځې نو داسې مه ځه! مړ به دې کې.
– ستا څه غم دى؟ ته خو نه مرې.
– ستا لپاره وايم. ته داسې وکه! هاشم درسره بوځه! بيا يو کار کېږي.
– نا، په اغه باور نشته.
– ژړل خو يې د زړه.
– نا، ټوله دونيا ډرامه بازه ده.
– هوښيار انسان د ډرامې او حقيقت فرق کولى شي. ته ملامت نه يې. ستا ماغزه چرسو وهلي.
– داح! ودې ليدل؟ ما خو وويلې ته زما دښمن يې. مانه درته هاشمتى ښه ښکاري.
– اخله ـه ـه!! ته لور پسې څومره خفه يې؟ همداسې هغه زوى پسې خفه دى.
– خداى دې ورپسې مړ کې! رنګ يې ورک که! يوازې ځمه.
– ستا نو څه په وس دي؟ د خپلې ښځې زور نلرې. ځې د مافيا سره جنګېږې.
– په دا خبره خو دې پچې وکړپولې. ته څه خبر يې؟ ښځې ته ناز ورکول کمزوري نده، نارينتوب دى.
– هاهاها ته په سترګو مه راننو ځه! زه دې وينم.
– نا، اسې خو په نشه کې سړى د ماشوم زور ام نه لري.
– ښه، نو ودې منله؟
– ما نشه پرېښودله. اوس بېرته نارينه يمه.
– بالکل. تا وويلې ما ومنله. اوس به ووايې سپورټ کوم. پهلوان د زمانې جوړېږم.
– آاااا! شابسې شابسې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

– څه شی؟ د باټو او دباپو موضوع پیدا شوه؟
– دباپې ستا کار دی. چېرته مې لوستي وو چې سړی سپوټ وکي مریضېږي نا، د نشې پې زور نه رسېږي، او خوب ښه کېږ.
– اخله ـه ـه!
– نا، په خدای چې سپوټ کومه.
– ته؟ هاهاها.
– ته د سپي زوی پېغور پرېده! امدا اوس راننوځه! بیا ګوره!
– ډېر رذیل یې. چې مجبور یې هسې زاري کې. اوس ګوره! ځان باسې. زه دې نه خوښېږم. خفه دې کړم.
اروا شا واړوله. لالټي غږ کړ:
– ډک یې که ـه ـه! ته خو داسې نازونه کې لکه شپاړس کلنه پېغله.
– خبره مه اړوه! خوښېږم دې که نه؟
– ناء.
– اح، ودې لیدل؟ زما هم بد ایسې. ځه ورک شه!
اروا ور ننوتله. لالټي کېناست. ژوره سا یې اخېستله. چې لږ آرام شو، پاڅېد. په حویلۍ کې یې منډې ووهلې. سر، اوږې، لاسونه یې شل شل واره وخرخول. مات رامات شو. شل ځله کېناست پاڅېد. ښه ډېره سینه کشي یې وکړه. په سالاو کې چا د بدن د جوړلو لپاره سپورټ نه کوه. ضرورت نه و. په کمرونو ختل، ځمکه کرل، له غرونو لرګي راوړل، پټیو ته پارو چلول، لو کول، حیواناتو ته واښه راوړل، درمند ته د غنمو ګېډي چلول په خپله سپورټ دی. مګر لالټي خو دا نه کول. هاغه بېله خبره وه چې کله کله به ښځې مجبور کړ. نور نو ټول کارونه د هغې په غاړه وو. یا یې په خپلوانو کول. اوس لالټي په توره شپه کې ښه ځان ستړی کړ. د منګي اوبه یې وڅښلې. وچه ډوډۍ یې وخوړله. په بل کټ کې پرېوت. شېبه پس ویده و. سهار یې اندامونو درد کوه. مګر ده ورسره ځان تازه احساسوه. موسکی شو. په خړو جامو یې خړ واسکټ واچوه. په غونډۍ وخوت. کله چې له ماښو تېرېده د وژلو صحنه وریاده شوه. سوړ اسویلی یې وکړ. په تړو او شېلو د غره تر نیمایي پورته شو. سا یې وسوزېدله. خپلې کمزورۍ ته یې سر وښوروه. د سباګل ټلېفون راغی. دی په هواره تړه کېناست. ویې پوښتل:
– چیشی وایې؟
– وروره ګله! سودا مې وه. ما ویلې د تورمالینو د کان خبره چاله ونکې. ځان له غم مه ګوره!
– ډک یې که ـه ـه! د ځان دپاره وایې که زما دپاره؟
– ستا دپاره. زما څه کار دی؟
– زه ویمه ته به چورت وهې چې څنګه خنډونه د مخ نه لرې کې؟ غټ خنډ به زه یمه.
– نا مړه! ته زما د نشې انډیوال یې. خیر دی که اوس خمار نه یې. د چرسیانو غوندې په پوزه کې نه غړېږې.
– هح، ما د نشې د انډیوال غیرت ولیده.
– خبر یمه. ته نو ګلټي ما سره مه برابروه! زما کار د یوې ورځې ندی. امدا اوس مې درله ساتلي.
– په کار مې ندي.
– چرس یادومه.
– ته نو ما ته بل چیشی لرې؟
– نا نو، دونه بې اتباري ام ښه نده. څه درله وکمه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– کومک.
– څه چې مې په وس وي.
– لور مې چېرته ده؟
– الک او جینۍ دواړه په یو کور کې دي.
– ستا په کور کې؟
– نا، د لغمان د کانونو او پطرولیم مدیر هېوادیار صیب ته په کرایه نیولی دی.
– هېوادیار چېرته دی؟
– همدلته.
– لور مې تې راوباسه؟
– نه کېږي.
– دروغ نو ولې وایې چې کومک کومه.
– وروره ګله! التهیو بلا وسله وال دي. ناممکنه ده.
– ریس خو دې انډیوال دی کنه.
– د سې انډیوال ندی نو. ته ورپسې راشه! هاشم هم راوله! ستاسې خو اولادونه دي. زړه به یې وسوزېږي.
– که منړ ام ونیسي؟
– دونه بد به نکئ.
– دوه تومانچې راته پیدا که!
– څه څه؟ تومانچې؟ دا څه کی؟
– په کارېږي.
– ګوره د لغمان ټول پولیس او ملي امنیت د ریس په خدمت کې دی.
– ته یې څه کی؟
– وروره ګله! په لانجه اوړمه کنه.
– مه وېرېږه! زه او ته خبر یو. بل څوک نه خبرومه.
– هاهاهاها، ستا په خوله کې به خبره ټینګه شي. ما ویلې تومانچې په سالاو کې نشته؟
– نا، دلته ټول ټوپک لري. که وي ام ماته یې نه راکئ.
– څه وخت دې په کار دي؟
– نن.
– ته لېږ ودرېږه! زه پوښتنه وکمه چې کېږي که نا؟
لالټی منتظر شو. پینځه دقیقې پس زنګ راغی. سباګل تومانچې پیدا کړې وې. اوس دده سینه له هوا ډکېدله او تشېدله. له غره څخه زیاتره کلي ښکارېدل. په ټولو یې نظر واچوه. لکه وروستی ځل چې یې ګوري. هغه پوهېده چې وسله ژوند سرچپه کوي. که دې څوک وواژه یا بندي کېږي، یا له وطنه فرارېږې. او که یې ووژلې نو بیا معلومه نه وي چې په مړي دې څه کانې کوي؟
واسکټ او کمیس یې وباسه. په سپینه انګیا کې څوځله په غره کوز او برلاړ. دوه برابر غونډاري یې په دواړو لاسونو ټیټول او جیګول. وروسته په تړه سمه تخته وغځېد. څټ یې په ورغوو کې ونیو. څوځله کېناست، پرېوت. بدن یې خولې خولې شو. له

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکانه یې یو ځلیزه شامپو او صابون واخیست. سیند ته کښوت. په ډنډ کې یې ولامبل. په پاتې صابون یې جامې ومینځلې.
همدا سې لمدې یې په تن کړې. څو کور ته رسېده وچې شوې وې. ښځې یې په شک وکتل. ویې پوښتل:

– چېرته وې؟

– لکه لېونی په غرونو گرځېدلمه. سباناری شته؟

– اوس یې راوړمه.

هغې په اېښېدلو شیدو کې ډوډۍ وره کړې وه. دسترخوان یې سیوري ته په پلاستیکي فرش وغوړه. بیا یې وپوښتل:

– په غره کې دې چیشی کول؟

– سپوږ.

– چیشی؟

– سپوږ سپوږ. تنسازي.

ښځه چورتي شوه. لالتهي غلی و. هغې ته یې دم په دم کتل. لکه په لیدو چې یې نه مړېږي. تر ډوډۍ وروسته پاڅېد. ژور اسوېلی یې وکړ:

– ما ویلې چې ته خبره اوسې. زما مالومه نده چې جوندی راځمه که نا.

هغې یو دم په خوله لاس کېښود:

– وۍ ی ی! چېرته ځې؟

– په مرو پسې.

– چې دسې ده مه ځا!

– مرو نه غواړې؟

ښځه په ژړا شوه:

– وه خدایه! ولې نا؟ خو ستا زور کله برابر دی؟ ځان به بایلې بس. مه ځا!

– گوره جلۍ! کله کله دسې شی وي چې په پیسو ورکولو ارزي. په ځینو شیانو بیا سړی بې ایزتي مني. او کله بیا دسې شی وي چې جوند به پې ورکی. چې مرو نه وي نو زما او ستا جوند چیشی شو؟

– زه ام درسره ځمه.

– ته به چیشی وکې؟

– یو خو به پکې بلې دونیا ته ولېږمه. زړه خو به یخ کمه. که بیا مړه شمه مړه به یمه.

لالتهي موسکی شو:

– نا، ته به راته بل پېتهی شې. خیر دی، که په ما چیشی وشول بل مېړه به وکې! نور بچې به دې وشي. الکان به وي.

هغه تېزه پاڅېدله. کلکه سپېره یې ورکړه:

– د سپي زو! ته اېځکله سړی نه شوې.

لالتهي په غېږ کې ونیوله. کوټې ته یې کشه کړه. شپېه پس له تشنا به لوند خېشت راووت. ښځه په کټ کې ناسته وه. سر یې ټیټ و. ده وویل:

– دعا راته کوه!

هغې سترگې جگې نه کړې. سلگۍ یې ووهلې. ده په سر ښکل کړه. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ابېچا د جوند اوبه ندي سکلي. زه نېکبخته یمه چې تا غوندې مرګرې لرمه. تا زما ټول بار په اوږو اغستی دی.
د لالټي نور ستونی تنګ شو. نه یې غو ښتل وژاړي. خو په ذهن یې فشار و. لکه چا چې ورباندې له وسې پورته بار ایښی وي.
هغه نوې د ښځې مینه ولیدله. ایله یې ځان او جهان وپېژندل. نوی د ژوند په خوند پوه شو. مګر بېرته یې خدای پاماني کوله. هغه
روان شو. ښځې ورپسې منډه کړه. له لاسه یې ونیو. په ډک ستوني وبنګېدله:
– ما بښلې یې. ته ام بخچش کوه!
– ډک یې که‌ـه‌ـه! ته لېونۍ کېږه ما! زما مالو مه نده. کېدی شي جوندی ری شمه.
– پو پیږمه! زه به تر اغو درته ناسته یمه.
– ګوره ګوره د سپي لورې! که تا په ځان چیشی وکړل ببنلې مې نه یې. پوه شوې؟
– ظلم مکوه!
– بس ما درته وویلې.
د ښځې لاس یې کېکاږه روان شو. ټوله لار یې شاته کتل. لکه وروستی دیدن چې یې آرمان وي. منځ کلي ته ورسېد. د هاشم
دروازه یې وټکوله. هغه وویل:
– ولې د ننه نه راځې؟ تانه خو څوک ستر ندي.
– ستا په کور کې دا...
اروا ورڅخه هوا ته کشه شوه. بېرته ننوتله. د لالټي زړه لاړ او راغی. ژر یې وویل:
– کنځا نه کومه.
هاشم فکر وکړ چې ماته وایي. سر یې وخوځوه:
– خیر ویسې! نو چیشی دې ویلې؟
– ما ویلې راځه چې اغه د سپي زوی او مرو پسې لاړ شو!
هاشم په شنو سترګو نېغ وکتل. سوړ اسویلی یې وکړ:
– ډېر کچه سړی یې. امدا اوس دې ویلې کنځا نه کومه.
– دا مې ستا د زوی صیفت وکه. چې راغی بیا به یې په سر کېنومه.
هاشم سر وخنډه. کور ته له ننوتو سره یې وویل:
– زه اوس راځمه.
شېبه پس یې موټر راوباسه. ښځې یې له دروازې سلام واچوه. لالټي تش سر وخوځوه. په موټر کې کېناست. په لاره کې دواړه
غلي وو. موټر د ترنګ له پله واوښت. بالاخره هاشم دا چوپتیا ختمه کړه:
– منمه. منږ په تا ملامت یو.
لالټي ورته کاږه وکتل:
– منې که نه منې، منې به یې.
– لږ خو ته ام ملامت یې.
– ډک یې که‌ـه‌ـه!
– هاو کنه. ته ام سم سړی نه یې.
– ماته ستا د تندې په ښیښه کې خو شایي ښکاري یارو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– چیشی ؟
– بیا پسته پو ېږي. ښا ، دا یې زه سم سړی نا . تا وان یې تا ته دی ؟ نا . بل چاته دی ؟ نا . که تا وان دی ځان ته مې دی. تا غوندې خلق خو لکه لېوني سپي، د ځانه بغیر هرڅوک داړي.
موټر له خوړه تېرېده. هاشم له اسویلي سره شترینګ تاو کړ. ویې ویل:
– کوه کنځا ! کوه! زه یې لایق یمه.
– ته د بل شي لایق یې. خو څه وکمه، که مې نه وای د کولمو ، رنګ دې نه و د کتو .
– وایه وایه! خو یوه خبره واوره! هر شی چې و تېر شو . اوس یاسینی او مروه ګۍ سلامت غواړمه. که مې سر ځي ام پې لپ نه یمه.
لالتي یې ډکو شنو سترګو ته وکتل. نور یې څه ونه ویل. په ښار کې جم او جوش و . موټر سست شو . خلک هرچېرته په سرک تېرېدل راتېرېدل. دوئ هارنونه کول. خو چا یې پروا نه ساتله. یو کس لا په دوئ برګ شو . بالاخره موټر د زرګریو څنګ ته ودرېد.
سبا ګل کله د دکان یو کونج، کله بل کونج ته قدم اخېست. لالتي یې ولید . ژر ژر یې لاس وښوروه چې دننه راځه! ویې ویل:
– وروره ګله! ناوخته دې نه کو ؟
– ډک یې که ـه ـه! ما خو ویلي نه وو چې څو بجې راځمه.
– هاو هاو . چرته دی؟ اوښې دې چرته...
په راروان هاشم یې سترګې ولګېدې. د هوسایۍ سا یې واخېستله. لالتي ته د هغه وارخطایي غیر معمولي وبرېښېدله:
– ای چیشی شوي دي یارو ؟
– نه نا ، نه نا ، ابڅ ام ندي شوي. ابڅ ام ندي شوي. وسله مې تیاره کړې ده.
دې کې هاشم هم ننوت. روغبړ یې وکړ. سبا ګل کڅوړه له جعبې راوباسله. تومانچې په دسمال کې تاو وې. شاخوا یې وکتل چې دکانداران یې ونه ویني. په ټیټ غږ یې وویل:
– سړي ته مې ویلې چاته یې ښایمه. که یې واغستلې پیسې راوړمه. که نه، تومانچې. په پنځوس زره مې خبره کړې.
لالتي په کڅوړې کې دننه دسمال ته لاس کړ :
– ما سره خو اوس نشته. بل وخت به یې ورکمه.
– ورور دې درله ولاړ دی. د پیسو غمه مه کوه!
سبا ګل ژر د لالتي له لاسه دسمال واخېست. بېرته یې په کڅوړه ننوېست:
– دا څه کی؟ شاوخوا خلک دي.
– خلقو ته یې نه ښیمه. ګورمه چې کار کئ که نا ؟
– لېونی یې؟ ډز کی؟
– نا .
– نو څنګه یې ګورې؟ غم مکوه! ما خپله شا جورونه ډک کړي. ته تش ما شه کشه که! ای زه پوه نشومه. په دغو څه کی؟
– په ریس یې نیسمه. وایمه چې بچیان مې خوشې نکې وجنمه دې.
– ته وایې دا چل به وچلېږي؟
– منږ خپل کوشش کوو یارو .
– وروره ګله! غټ زړه مو کړی. ځئ چې ځو ! زه به ګاډی وباسمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هاشم سر وخنډه:
– نا، زمنږ متېر شته. ما ویلي هېوادیار خو یو بلا وسله وال لري. تومانچې به رانه وانخلي؟
– ننا، غم مکوه! ماسره چې څۍ جېبونه مو نه ګوري. خو یو کار به کوئ! التبه به نه وایئ چې وسلې ما درکړي. زه به لا په تاسې په قار شمه چې ما خو ددې دپاره راوستي نه وئ چې وسله په ریس صیب ونیسئ. تاسې به وایئ چې ته مو وغولولې.
– ډک یې که ـه ـه! څه پرتوګ مه لمدوه! نه وایو.
دوئ د ریس درې منزله سپین کور ته ورسېدل. په جیګري دروازه کې وسله وال ولاړ وو. هاشم وپسېد:
– امدقه الکان زمنږ کره راغلي وو.
لالتېي بېخي وانه ورېدل. دېوالونو ته یې کتل. جیګ جیګ وو. پر سر یې حلقوي اغزن سیم ښکارېده. دده سودا شوه چې له دغه ځایه به وځي څنګه؟ سباګل خپل چاغ لاس وسله والو ته جیګ کړ. دروازه یې ټېل وهله. مخ یې شاته واړوه:
– وروره ګله! څه له ولاړ یئ؟ راځئ کنه!
دوئ په کانکرېټې حویلۍ کې تر تورو لنډکروزرونو تېر شول. د زینې په درېو پلګیو وختل. په اول منزل کې سالون ته ننوتل. کوچونه، الماري، سرې پردې، هرڅه نوي ښکارېدل. ناست نه وو چې وسله وال راغلل. غبرګ قوماندان امر وکړ:
– د ټولو لاسونه وتړه!
سباګل برګ شو:
– ستاسې مازغزه خراب دي. زما لاسونه ولې تړئ؟ وروره ګله! خیریت دی؟
– امداسې امر شوی.
– کوم کمقل امر کړی؟ تاسې ما نه پېجنئ؟ ریس صیب چرته دی؟
– لاسونه شاته که! ریس صیب اوس کېږ ځي.
سباګل ورڅخه لېرې شو:
– لاس مه راوړه!
دې کې لالتېي تومانچه د قوماندان سر ته ونیوله:
– د سپي زامنو! په سباګل کار مه لرئ! وسلې کېدئ!
هاشم هم تومانچه وسله والو ته سیخه کړه. هغوئ هررر وخندل. قواماندان مخامخ ودرېد:
– چرسولاخانه! که امر دې ونه منمه ولې مې؟
– ډک یې که ـه ـه! زه ټوقې نه کومه یارو.
– ښه، نر شه په دا تندي مې ووله!
– ولمه دې.
سباګل لاس ونبوروه. غو ښتل یې څه ووایي. خو غلی شو. قوماندان بیا په زوره وخندل:
– ښه څه! په ما خو ډز نشې کولی. په اغه ښیښنه ډز وکه!
– په تا یې کومه.
– اول ته په ښیښنه ډز وکه چې کېږي که نه؟
لالتېي ته شک پیدا شو. د تومانچې خوله یې ښیښې ته ونیوله. ماشه یې کشه کړه. ټس شو. قوماندان بیا وخندل:
– دا تومانچې موږ درکړي. ډز نکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دربواړه یې لاس تړلي دننه کوټې ته بوتلل. پرمخې یې په وچ کانکریټ وغورځول. سباګل لکه خټکی په خېټه پروت و. لالټې شاوخوا وکتل. نه فرش و، نه الماري، نه کړکۍ. سباګل ته یې سترګې برګې کړې:

– تا د سپي زوی بیا وغولولمه.

پر هغه خولې راغلې وې. ویې ویل:

– ننـا، ته صبر وکه! دسې نده.

لالټې چیغه کړه:

– د سپي زو! دسې نده څنګه سې ده؟ په لاس دې ورکړو، دسې نده.

د سباګل له سترګو تاوېدلو معلومېدله چې سر یې ګنګس دی. له ستوني یې نری غږ ووت:

– ته غلی! ودرېږه چې مالومه خو شي کنه!

هاشم په آرامه وپوښتل:

– چیشی مالوم شي؟ اغه وایي هېوادیار امدقه سې امر کړی دی.

دا خبرې سباګل لا ناآرامه کړ. په نسبتن جیګ غږ یې وویل:

– دروغ وایي. اغه ولې دسې وکي؟

دې کې هېوادیار په دروازه ننوت. سباګل غږ کړ:

– ریس صیب! دا ګوره! زه یې ام وتړلمه. ورله ووایه چې خوشې مې کي!

هېوادیار موسکی شو. موبایل یې ور وښود:

– دا د لالټې دی. د یاسین سره و. دده نه پوه شوم چې تا مځکه ځان له اغستله. ځان مې غلی کو. په تا مې لالټی او هاشم راوستل.

د سباګل سترګې له خپلو دایرو راووتلې. لالټې غږ کړ:

– نوم سم اخله! زه لال مامد خان یمه.

ریس وخندل. مخ یې بېرته سباګل ته کړ:

– وینې؟ دا سخا بوین د خپل نوم سره خیانت نکیٔ. تا مونږ غونډې غټو غټو اینسانانو سره وکو.

– نا وروره ګله. په په په خدای چې ما د ټولو خیر غوښتو.

– راشه نو! مونږ د وکه کی، که ځان؟ نانو، تا د بیت المال په چور کې د ټولو خیر غوښتو، هه؟ هاهاهاها

دې کې یې یاسین هم لاس تړلی راوست. نور هم وچ شوی او وړوکی شوی ښکارېده. د لالټې سودا وه چې په مړوې څه شوي نه وي؟ د بدخبر د اورېدو له وېرې یې پوښتنه نه کوله. یاسین پلار ته وکتل. ویې پوښتل:

– چیشی دي؟

د هاشم ایله اوس ستونی ډک شو:

– ته غلی! ای ریس صیب! دا زوی مې پرېده! الک دی. وبال لري.

هېوادیار د واسکټ له دنني جېبه د اوږد میل والا تومانچه وباسله. ویې ویل:

– نانو، تاسې کله کار سم وکو؟ مونږ ویل راز وساتئ! راز وساتئ! مګر تاسې خبره رسوایی له ورسوله. مونږ له مو کار وکتو. اوس مجبور یو اغه کسان ووجنو چې د کان نه خبر دي. چې خبره تیته نشي.

– په قسم چې منږ چاته ویلي ندي. پس ددې به ام زما زوی د کان نوم په خوله وانخلي. یاسینیه! امدسې ده کنه زویه؟

یاسین د هېوادیار تومانچې ته رډ رډ کتل. نه یې هو ویل نه نه. پلار یې چیغه کړه:

– ای د نجس زو! ووایه چې نه ویمه!

یاسین شټ وهل. ژر ژر یې سر وښوره:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– نا نا، ولاچې نه ویمه.
– ریس صیب خدای ته وګوره! ته به ام اولاد لرې. خدای دې پې څه نکځ! ډېر درد لري. زما دوه زامن امدا لږ مخکې مړه شول. ماته د اولاد درد مالوم دی.
– نانو، که تاله د اولاد درد مالوم وای د لالټې لور به دې نه تښتوله.
– نه مې تښتوله. تا مجبور کړمه.
– ناء. خپلې کمقلۍ مجبور کړې. ګوره! شخصن ماله ستاسې مرګ ګټه نلري. د شرکت اصول دي. زه څه کوی شمه؟
– ویمه ما مړ که کنه! زوی مې پرېده!
ریس اوس په چورت کې کتل. په سترګو کې یې هېڅ ډول احساس نه ښکارېده. یاسین په ژړا کې وپسېد:
– ولاچې بخچش کوه ابا! دا ټوله زما غلطي ده.
دې کې ټس ټس شو. سباګل اخ کړ. سوړ پرېوت. بیا د بې غېره تومانچې ټسونه تکرار شول. دا ځل هاشم او یاسین سر کېښود. لالټې په خپل کار سخت پښېمانه و. ولې یې دلته د راتګ بې عقلي وکړه؟ ولې یې دا تغیرات ونه شول سنجولی؟ مګر خوشحاله و چې ښځه یې له ځان سره رانه وستله. سترګې یې پټې کړې. تندی یې په ځمکه ولګوه. پرله پسې یې کلمه ویله. هېوادیار قوماندان ته سر وښوروه. هغه لالټې ته په ملا کلکه سپېړه ورکړه. له واسکټه یې ونیو. جیګ یې کړ. ده خپلې لمنې ته وکتل. ځمکه او جامې په متیازو لمدې وې. هېوادیار پزه ونیوله. مخ یې واړوه:
– امممممم. دا دې څه مرداری وکو مړه؟
وسله والو هررر وهل. دده سر ټیټ و. هېوادیار وویل:
– ته ما پسې راځه! ګوره چې بره دسې ونکې!
لالټې نه پوهېده چې چېرته یې بیایي؟ څه ورسره کوي؟ ممکن داسې څه وکړي چې تر هغې په مرګ خوشحاله وي. دی په ریس پسې دویم منزل ته وخوت. لاسونه یې شاته تړلي وو. په دهلېز کې څوک نه ښکارېدل. دواړه یوې کوټې ته ننوتل. کوټه پاکه او منظمه وه. هېوادیار دروازه بنده کړه. د بوی د ورک کولو لپاره یې عطر وشیندل. لالټې ته یې اشاره وکړه چې د کار د مېز څنګ ته ودرېږي. خپله له پیسته یې کوچونو تېر شو. د طلایي لیکو سپینه پرده یې کشه کړه چې له بهره معلوم نه شي. بېرته راغی. د کار مېز ته کېناست. لپټاپ یې پرانیست. فلش میموري یې پکې چوخ کړ. ویې ویل:
– اوس یو شی در ښایمه. په قار به شې. روستو چې زما خبرې واورې سر به دې خلاص شي. پوه شوې؟
ویډیو چالانه شوه. لڅ لپړ ځوان له لڅې مروې سره غېږ په غېږ و. کله یې شونډې ښکلولې، کله غاړه. کله به یو دپاسه شو، کله بل. په دمه کې به یې د شرابو بوتلونه په سر واړول. بیا به سره ونښتل. د لالټې رنګ پک الوتی و. ټول ځان یې رېږدېده. هېوادیار فلش بېرته جېب ته کړ. ویې ویل:
– څنګه وه؟ هاهاهاها، مه سورېږه! دا ویډیو مې جوړه کړې. ښځه خدای خبر څوک ده. څېره مې ستا د لور وراچولې. ماله پته ده چې اوس ام په مروې پسې خبرې کېږي. چې یاسین به ورسره ملاست وي؟ چې مونږ به پې تجاوز کړی وي. کېږي که نا؟ وینې؟ که دا ویډیو په نېټ کې واچومه، او ولیکمه چې جینی د کوم ځی ده، د چا لور ده؟ نو څه به وشي؟ آ؟ هاهاهاها. مګر نا، زه نه غوارم چې داسې وشي. زه وایم بې شور و شره قواله راکه! زما حوصله مه امتحانوه! که نه، بیا به زما کسان داسې کار ستا په کور کې، ستا په مخ کې وکي چې ته یې خیال ام نکی. اغه درې مړي خو دې ولیدل کنه؟ پوه شوی به یې چې زه ګپ نه لګومه. که غواړې د لور جوند او ابزت بچ کې نو څه چې درله ویمه امغه سې به کی! که لږ اخوا دېخوا شوې خانه دې خرابه ده. پوی شوې؟ د لالټې سر ګنګس و. لکه په خوب کې چې خبرې اوري. ککره یې وښنډله چې پوه نه شوم. هېوادیار دومره په زوره وخندل چې په اول منزل کې ساتونکو واورېدل. هغه وویل:
– نانو ستا جواب مې خوښ شو. اوس به دې پوی کمه. دې نه خو به خبر یې چې ستا په مځکه کې د تورمالینو لوی کان دی؟ ډېر ښه! مځکه خو دې د لاسه وتې ښا؟ یا به یې ماله راکی، یا دولت له. چې ماله یې راکې ګټه دې ده. نن کومه ورځ ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– دوشنبه

– هی خیر ویسې! ته به ماله بلې دوشنبې پورې، یانې په هفته کې دننه دننه قواله کابل له راوړې! وایه ښا! بیا به ګوته ولګی چې مځکه دې راباندې خرڅه کړې ده. بیا به زه دا ویډیو ستا په مخ کې پاکه کمه! یوازې په امدغه فلش میموري کې ده. ټیک شو؟

لالټې سر وخوځوه. هېوادیار هغه په شا وټپوه:

–آو شابه! زمنږ د معاملې نه به چاله نه وایې! زه به ښکارځي کې ستا په نامه لویه کلاآباده کمه. تورمالین به غلي باسمه. تاله به ام په کونج کې کور جوړ کمه. پکې اوسېږه! که کار کی که نکی څو چې جوندی یې معاش به اخلې. نور څه غواړې؟

لالټې سر وخوځوه. درون‍د و. پکې څریکه شوه. مغزیې کار نه کوه چې څه کول ښه دي او څه بد؟ هسې یې هوایي د ریس هره خبره تاییدوله. هېوادیار په خندا مخ ته شو. له کوټې ووت. غلې غلې یې زمزمه کوله. دواړه اول منزل ته کېوتل. هلته مروه ولاړه وه. د پلار په لیدو یې ور منډه کړه. ده په غېږ کې ونیوله. مخ ته یې ځیر و. لکه تغیرات چې پکې لټوي. ویې ویل:

– بس، بس مه جاړه! اوس کاله ته ځو. ریس صیب! ماویلې دا مړي خو به ښنولو ته پرېدې کنه؟

–آو، آو. زما کسان به یې الته د تیرګړو پله ته نزدې د سین په غاړه وغورځيځ. نور ستا خوښه چې چرته یې وړې.

وسله والو دواړه جسده په موټرو کې له کوره وباسل. لالټې او مروه پلې روان شول. دده سودا وه. پوښتنې یې کولې. هغې ویل په ځانته کوټه کې یې اچولې وم. ډوډۍ یې راکوله. نور نو چا په ما کار نه لره. خو پلار د لور په څېرې او غږ کې تغیر لیده. هغې له مخامخ کتلو هم ډډه کوله. دی نه پوهېده چې د بندي کېدو تاثیر دی، دده شک نا راحته کړې ده، که کومه خبره پټوي؟ مګر مخکې یې ترې هېڅکله دروغ اورېدلي نه وو. کله کله به یې د مور او پلار تر منځ د جګړې د ختمولو لپاره وویل. هغه هم ټول پوهېدل چې دروغ دي. اوس لالټې نه پوهېده چې په څه شي باور وکړي؟ هره شېبه یې د لور مخ ته کتل. د هغې په خاورې شویو هیلو او ځورېدلو یې زړه ټوټه ټوټه کېده. همدلته یې له ځان سره فیصله وکړه «په هر قیمت چې کېږي زه مې لور بدنامۍ او مرګ ته نه پرېدمه» څو دوځ د تیرګړو پله ته رسېدل خلک په مړو راتاو وو. لالټې د منځ کلي ملک او په کابل کې د سبا ګل زوی ډاکټر خوشال ته ټلیفون وکړ. د سباګل خپلوان تر سالاویانو مخکې ورسېدل. جنازې جیګې شوې. لالټې په منځ کلي کې له موټره سم کېوتی نه و چې خلکو کلک ونیو. بېلې کوټې ته یې بوت. یو سپینږیري سمدلاسه وپوښت:

– الکه چرسي! ولې دې دا خواران ووجل؟

– ډک یې که ـه ـه! ما؟ ستا ماغزه په ځای دي زوړا؟

د دروازې څنګ ته د ګډې وډې ږیرې سړی د هاشم تروزي و. غاښونه یې وچیچل:

– وه دا خبیث لا زمنږ مشرانو ته نېغ نېغ ام کېږي ای.

ورپسې منډه یې کړه. لالټې شاته په دېوال پسې جوخت شو. د کلي ملک په نیمه لاره کې سړی کلک ونیو. سپینه لونګۍ یې په سور ایراني فرش ولوېدله. بېرته یې جیګه کړه. پر سړي برګ شو:

– کېنه قمقله! مشران ولاړ دي ته منډې وهې. چې وخت راغی بیا یې تاته درکوو. سر تې غوځ که! اوس غلی شه!

لالټې ملک ته سور شو:

– وه وه وه! دا ته چیشی وایې؟ غرمه ده. ویښ شه! زه ولې خپل اوښی ووجنمه؟

– ته ډېر مه چرېږه! خلق وړانده او کاڼه ندي ښا؟ اغځ ستا لور تښتولې وه، تا ووجل. دې کې شک ته ځای شته؟

– ښا؟ ښه اوښیار یې. یاسینی او مروا ام ما بیولي وو؟ وایه هاو.

– هاو، چاته به دې پیسې ورکړې وي.

– ډک یې که ـه ـه! ښا نو چېرته مې بیولي وو بزرګ صیب؟

د هاشم تروزي غږ کړ:

– تاته به مالومه وي. وایه! چېرته دې بیولي وو؟ آ؟ خلاصیدی نشې ښا؟

– ښاااا؟ دا یې ستا خبره صیي. نو په یوازې ځان مې درې کسه ووجل. ستا د مچ عقل امدقه وایي. کنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– مچ دې اغه ابا و. د ټوپک زور سل کسه نه لرې چرسولا. ستا اوستاذ زما شاګرد دی.
– وه قمقله! ما ټوپک د کومه که؟
– ای ای ای! دا مرداره خوله دې وتړه ویمه! وتړه! ته او لور دې څنګه جوندي راغلئ؟آ؟آ؟
د هاشم تروورزی بیا وړاندې راغی. سترګې یې تکې سرې وې. لالتې ترې وډار شو. د خبرو لهجه یې بدله کړه:
– ای تاسې نه ملامتومه یارو. که زه ومه، ما به ام امدقه سې ویلې.
چاغ کس ده ته ډیکه ورکړه. سپینږیرو ته یې وویل:
– تاسې چاته غوږ ایښې. دا کله د سړي زوی دی. راځئ په ښکارځي کې یې په ځمکه ومنډو! ختم!
– چیشی؟ دسې اسانه ده. تاسې دا خبرې پرېدئ! اول زما خبره واورئ! بیا که...
خلک ورباندې رابرګ شول. ملک یې مخې ته ودرېد:
– څه خبره ده؟ ګورئ! که چرسې دی که هره بلا ده، تاسې خو یې پرېدئ چې چیشی وایي؟
ملک لالتې ته سر وخوځوه. ده ژوره سا واخېستله. ویې ویل:
– ما ویلې هاشم او یاسین د پېې دپاره زما لور تښتولې وه. خو په بلې بلا واوښتل. بیا پښېمانه وو. ځکه خو هاشم ماسره لاړ چې بچې راولو. دا وایي منږ یې ولې ونه وجلو؟ دلته بله لویه خبره ده. تاسې به حیران شئ! زه تښتمه نا. بیا به کېنو. دا ټول درته یو ویمه. اوس پرېدئ چې دا جنازې خښې کو! بیا که زه ملامت ومه خپله درته سلمه، حلال مې کئ! نور چیشی غواړئ یارو؟
بیا د خلکو شور شو. ویل یې مه یې منئ چې دا ونه تښتي. ملک مخ وراړوه:
– غم مه کوئ! منږ به یې د کلیوالو نه ضمانت واخلو. که وتښتېده بیا اغئ زمنږ مدعیان دي.
هغه مو بایل راواخېست. مګر د شربت خپلو ملک له ضمانته ځان باسه. د لالتې د تره زامنو هم ونه منله. فیصله دا شوه چې سړی به تر هغو دلته ساتي څو خبره معلومه شوې نه وي. لالتې ډېر مخالفت وکړ. ویل یې ضروري کار لرم. که یې ونه کړم په لوی مصیبت اوړم. مګر هغوئ پسخانې ته ټېل وهه. ده د دروازې د خلاصولو کوشش وکړ. خو هغه له چوکاټ سره جوخته وه. د نیولو ځای یې نه درلود. لغتې یې ورکړې. لکه دېوال چې وهې. پښه یې په درد شوه. د دېوال په دریڅې یې سر ننوېست. اوږې یې نه تېرېدلې. نهیلی شو. د دریڅې رڼا پسخانه روښانوله. هغه تشته وه. لکه ده ته چې یې چمتو کړې وي. خو په کونج کې زړه برستنه ښکارېدله. هغه یې لکه توشکه واچوله. سملاست. د مروې ویډیو او د هېوادیار د مرګ ګواښ یې له سترګو نه وتل. په دې کې د سباګل زوی ډاکټر خوشال ټلیفون وکړ:
– ای ماما! ته خو ما ونه لیدلې. لاړې ورک شوې. دا څنګه چل و؟
– ډاکټره ګله! قیصه اوږده ده ښا؟ په ټلیفون نه کېږي. دا شور د چیشي دی؟ غږ دې سم نه اورمه.
– په موټر کې یم. په کامه کې. جنازه مو هدیرې ته راوړه. ما ویل ته څنګه خبر شوې؟ ته څوک یې؟ زما پلار څه پېژنې؟
– زه بیا درځمه یارو. ته لږ پښه ونیسه!
موټر د لویې هدیرې په منځ کې ودرېد. منتظرو کلیوالو د سباګل جنازه کېباسله. په کوزېدو کې د ډاکټر سر ولګېد. ګرد مخ یې له لنډې ږیرې سره ګونجې شو. په لنډو، شاته اړول شوو وېښتانو یې لاس تېر کړ چې د سر درد یې آرام شي:
– ای ماما! ته چرته یې؟ ځای دې وښیه! پته راکه!
– ویمه خوشال ډاکټر صیب! ضرورت نشته یارو. ومې ویلې خپله درځمه.
– ته دسې غږېږې لکه ځان چې باسې. خبرې دې ام دسې بل ډول دي.
– ډک یې که ـه ـه! خیر دی شکونه به دې لرې شي ښا؟ مه خوتېږه!
– ای ماما! غولول به نکې! زه د پلار قاتل پیدا کومه. داسې یې نه پرېدمه.
– چا دې مخه نیولې؟ اسې ګډ یې.
– غوږ کېده! زه چې جنازه خاورو ته وسپارم مخامخ لغمان ته درځم. ما ښام رسېږم. ته ام بازار ته راشه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ما ښام؟ نه کېږي. منږ کلي ته نوي ورسېدلو. سبا درځمه.
– سبا ولې؟ ښه ځا، سبا څو بجې؟
– هر وخت چې درغلم.
– هر وخت چې درغلم څه مانا؟ ښه ځا، صبي ده. فرق نکئ. که رانغلې زما مدعي ته يې.

هغه ټلېفون بند کړ. لالټی سمدلاسه په خپله ژمنه پښېمان شو. معلومه نه وه چې له دغه بنده به کله وځي؟ که خلک ومني چې قتل ده کړی دی خو ژوندی يې نه پرېږدي. په کور کې ژړا وه. ده دروازه په زوره زوره وډبوله. يو کس راغی. ده ويل ما پرېږدئ! قسمونه يې خوړل چې سبا ماسپښینه پورې بېرته راځم. سرې ګواښ وکړ چې که بیا دې دروازه وډبوله نو ځوانان به ښه وهل درکړي. هغه بېرته ورک شو. دی سست کېناست. خوله يې وچه وچه کېدله. ستونی يې وتخنېد. بېرته پاڅېد. واسکټ او کمیس يې وباسل. د چرسو د هېرولو لپاره يې سپورټ شروع کړ. ورسره يې غاښونه چیچل «زما ښو ته ګوره! د یاسین د بچولو دپاره مرګ ته لاړم. دوئ د سپي زامن دا نه ويني، زما چرسیتوب ته ګوري؟ ښه ځا، زما ښځه او لور خو چرسيان ندي کنه. اغئ ته ولې جزا ورکوئ؟» ځای په ځای يې پښې ودربولې، لکه منډه چې وهي. ځان يې مات رامات کړ. سینه کشي يې وکړه. خولې خولې شو. ژبه يې نوره هم وچه شوه. هرڅو مره چې يې اوبه اوبه چیغې کړې، چا را نه وړې.

∞∞∞∞∞

لالټی تر سهاره پر برستنه اوښت را اوښت. کله چې يې سبا ناري په دريڅې کې ولید، سمدلاسه يې پر چای حمله وکړه. سور سور يې وڅښه. غږ يې کړ چې صحرا ګشت ته ځم. چا نه اورېدل. ده هم تشې متيازې په پسخانه کې وکړې. ایله خوب ورغی. په غرمه کې د ډاکټر خوشال ټلېفون ويښ کړ. هغه پوښتنه کوله چې څه وخت راځې؟ ده ويل هر کله چې مې وخت پیدا کړ. ډاکټر کلک ټینګ شو چې همدا اوس راشه! ده موبایل بند کړ. هغه بیا بیا زنګونه وهل. ده ځواب نه ورکوه. ځان ته حیران و. د ريس د ضرب الاجل له اوو ورځو يوه واوښتله. ورسره د ويډيو خپرولو او د مروې مرګ ته يوه ورځ نژدې شوه. دروازه يې بیا وډبوله. څوک ګواښلو ته هم رانغی. ماسپښين يو دم شور شو. شپېبه پس ارامه ارامي وه. په دروازه کې يې د چا ټيټ غږ واورېد. ژړل يې. دی نژدې ورغی. ويې پوښتل:

– د پرو ادې يې؟
– هاو، ما ويلي دا څنګه چل دی؟ لالا او وراره مې چا ووجل؟
– ريس خبيث. ستا کليوال د سپي زامن په خبره نه پوهېږي. تا ته خو مالومه ده. زه نو سړی وجلی شمه؟
– وی، خدای دې دا ريس د اولاد په غم کېنئ! خدای دې په لاس سرطان ور وخېجئ!
– ته ښېرا پرېده! دا شور د چيشي و؟ جنازې يې هديرې ته يوړې؟
– هاو. زه تا ته راغلمه. ما ويلي پوښتنه وکمه.
– شابسې! شابسې! ته يو کار وکه! ما ددې ځايه وباسه! زه به په تورو تږو کې پټ کېنمه. ته لاړه شه د کور نه اغه قواله او پیسې راوړه!
– دا چيشي وايې؟ څنګه دې وباسمه؟ دروازه قلفه ده. او په قوالې چيشي کې؟
– ريس ته يې ورکومه. کشکې يوه تومانچه ام وه.
– چيشي چيشي؟
– اسې ما ويلې په کاره نشي. اوس دا پرېده! اول د قلف کيلي پیدا که! ځه ځا! زرکوه!
– کيلي د ملک جېب کې ده. چېرته يې پیدا کمه؟
– ويمه يو کار وکه نو! که نا، لوی موصيبت دی.
– تا وجني؟
– نا، مرو ته تاوان رسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– مروه مې شربت خېلو ته ولېږله.
– منځکليوال نه يادومه، ريس ورته تاوان رسئ. هرچېرته چې وي نه خلاصېږي.
– ته چيشي وايې؟ زه نه پوهېږمه.
– اغه وايي که قواله رانه وړې ام دې لور ته بدنامي رسومه، ام يې مړه کومه.
– وی، ناااااا!
د ښځې ژړا په زوره شوه. لالتي غاښونه وچيچل:
– د سپي لورې! جړا ته راغلې يې که کومک ته؟
– زه چيشی وکمه وا؟
– اوهووووو! څه نو ورکه شه، ځا!
لالتي بېرته لاړ په برستنه کېناست. دده هم زړه ډک شو. شېبه پس ښځه بيا راغله. د موټر د هنډل پايې سر يې د دروازې په کونډه کې ننباسه. دی چوست پاڅېد. هغې زور کړ. ګرز شو. کونډه والوتله. لالتي راووت. ښځې تومانچه هم ورکړه. ويې ويل کله چې مې وربندار راته نوې جامې ښودلې. دا مې بکس کې وليدلې وه. دواړه تېز ووتل. ښځه پر سرک او دی په وچ خوړ کې روان شو. په تورو تړو کې ډېر وخت ناست و. ښځې قباله، پيسې او سپينه ټوپۍ راوړه. دی د ښکارځي له لارې د اليشنګ د ولسوالۍ بازار ته روان شو. په بازار کې په کورياېي مېرسيډيز کې کېناست. د ښار خواته يې حرکت وکړ. په لاره کې د ډاکټر خوشال زنګونه راتلل. ده ټلېفون بېخي بند کړ. په ښار کې يې د هېواديار جيګري دروازه وټکوله. چا خلاصه نه کړه. په کوڅه کې ماشومانو خوسی کوه. هغوئ ووېل چې په کور کې يوازې دوه چوکيداران دي. هغوئ چکرې وهي. ناوخته راځي. ده موبايل راواخېست چې هېواديار ته ټلېفون وکړي. مګر د کور په ټلېفون کې د هغه شمېره نه وه. دلته د سباکل خبره وريادہ شوه. هغه ويل دا کور ورته د لغمان ولايت د کانونو او پطروليم مدير په کرايه نيولی. لالتي د مدير دفتر ته روان شو. هلته ساتونکي ودروه. ده وويل:
– د کانونو او پطروليم مدير صيب مې په کار دی يارو.
ساتونکي کټ کټ وخندل:
– نا، نيمه شپه به راغلی وې. ماښام دی ماما. دفترونه تړلي دي. حماس صيب کور ته تلی. سبا ری شه!
– حماس مې د تورې زوی دی. زه د بادغيس نه راغلی يمه. کور مې ندی ليدلی.
– ښه ښه ښا! ټلېفون ورته وکه کنه!
– بند دی يارو.
– ښه ښه ښا. ته ودرېږه انډيوال ته غږ کمه. عاشق الله! عاشق الله! ته ری شه! دغه ماما ته د حماس صيب کور وښيه!
لالتي ادرس واخېست، روان شو. د شنو پټيو په منځ کې يې د دايروي چتونو والا دوه منزله نخودي کور پيدا کړ. سړی ترې راووت. لالتي کروپ شو. په دواړو لاسو يې د هغه ښی لاس ونيو. ويې ويل:
– وبښنه مدير صيب! زيامت مې درکه. زما نوم لال مامد خان دی.
مدير ترتور واسکټ لاندې له سپينو جامو عينکې راووېستلې. په سترګو يې کړې:
– لال مامد خان؟ کوم لال مامد خان؟
دی پوهېده چې که خپل عام نوم واخلي هرومرو يې پېژني. خو په خوله يې راوړلی نه شو. اوس نو مجبور و. ويې ويل:
– اغه دددد سپي زامن چې لالتي راته وايي.
– هاهاهاها، ښه ښه. صيي شو. امر وکئ!
– ما ويلي قواله مې هېواديار صيب ته راوړې. د ځمکې خط ام وليکئ، چې ګوته ولګومه!
لالتي کاغذونه وړاندې کړل. مدير وکتل. خپله لنډه سپينه ږيره يې وګروله:
– چې دا هېواديار ته ورکې اغه بيا تاته څه درکئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– خو نور بیا په منږ غرض نه لري کنه. لور مې بچېږي.
– اوووو ښه ښه ښه. لور درباندې دونه ګرانه ده؟
– هاو. ددې نه ام ډېره. اغه بل ډول ښه جلۍ ده.
– که په قوالې دې ام لور بچه نشي بیا؟
– چیشی؟ نا، ماته یې امدا یوه قواله وویله. ای مدیر صیب قربان دې شمه! ظلم مه کوئ! امدقه یوه لور لرمه. بل ایڅ شی نشته. چې جوندۍ وي تاسې ته څه تاوان دی؟
– ځمکه دې ډېره ده؟
– نا، ده نو. د غریبۍ ګوزاره کېږي.
– د اغې نه تېر یې، مقصد چې لور دې بچه شي؟
– هاو. ولې؟ ټوله ځمکه؟ مه کوئ مدیر صیب! منږ چیشی وخورو؟ د ولږې نه به مړه شو.
مدیر په چورت کې کتل. لالټې فکر وکړ چې په قهر شو. ژړېږې وویل:
– صیبي ده. صیبي ده. نورې قوالې ام راوړمه. خیر دی. په لور مې غرض مه لرئ! خدای ته وګورئ!
لالټې په ژړا شو. حماس شاوخوا وکتل. هغه یې غلي کېدو ته وبله. په کړکۍ کې یې خپل ځوان زوی ته لاس وښوروه چې خیر او خیریت دی. لالټې ته یې لویه فلزي دروازه وښودله:
– ته راځه! دغه زما باغ دی. التبه وغږېږو.
باغ له بهره وړوکی ښکارېده. مګر دننه ډېر لوی و. لالټې په تیارې کې لوکاټ، املوک او انار وپېژندل. نورې نو داسې ونې وې چې ده هېڅکله لیدلې نه وې. دوئ د تاک تر چېلې لاندې پر پلاستیکي فرش کېناستل. لالټې وویل:
– مدیر صیب! زه نور په خدای که چیشی لرمه. پوښتنه وکئ! هاو یوه غوا او مېږه ام شته. که وایئ راوړمه یې.
– راز ساتلی شې؟
– چیشی؟ راز؟ هاو هاو. هېوادیار صیب راته وویلې چې چاته مه وایه! په خدای که مې ایچا ته ویلي وي. بس چې زما لور بچه شي دا به ستاسې په ما احسان وي. د کان خبره به تر مرګه په خوله رانه وړمه. په خدای او په رسول درته قسم خورمه.
– ته دا قواله بېرته واخله!
– ولې؟ راوړمه. نورې ام راوړمه. دا دې درسره وي. چې بیا ونه وایئ په یوه هفته کې دې نده راوړې.
– نه روکی. ته زما په خبره پوه نشوې. زه وایمه قواله بېخي مه ورکوه!
لالټې یې اوس بالکل په خبره پوه نه شو. ځیر ځیر یې کتل. حماس خبره وغځوله:
– دا ښه دی چې ته ماته راغلې. که هېوادیار ته ورغلی وې هر څه دې د لاسه ورکړي وو.
– مدیر صیب! ته پوه نشوې. زه د مال او جایداد نه تېریمه. ماته لور موهمه ده. ځمکه دې واخلي. بلا ورپسې!
حماس موسکی شو:
– پوېږې؟ ما ستا په هکله ډېرې بدې خبرې اورېدلې وې. چې چرسي، بې ادبه، دروغجن، او دادی او اغه دی. اوس چې ګورم ته ښه انسان یې. زما خوښ شوې. ځکه خو ستا او ستا د لور دپاره لوی ریسک اخلمه. که هېوادیار خبر شي وژني مې. زه وایمه قواله مه ورکوه! ښه غوږ کېده! هېوادیار چې دی وزیر صیب ته کار کئ. وزیر صیب زما ام ملګری دی. پخوا دونه بد سړی نه و. هو، غل دی. وایي په افغانستان کې د (۱۴۰۰) نه ډېر کانونه دي. چې نیم یې ونه خورمه نه یې پرېدم. بس پیسې ډېرول یې خوښېږي. خو چې هېوادیار راغی ورو ورو یې د خلکو ځورول او وژل شرو کړل. ما چې دا ظلمونه ولیدل اعتراض مې وکه. پوېږې زما د ډارولو دپاره یې څه وکړل؟ زما د مشر زوی موټر یې په ماهیپر کې د جیګ سر نه لاندې وغورځوه. پس د اغې مې خوله بنده کړه. دا مې ام ونه ښودله چې د زوی قاتلان پېژنم. بیا خو یې ټوله کورنۍ راته وژله. خو نور مې د دوئ سره د کار نه توبه ووېستله. ځان مې مریض که. اوس تش اداري کارونه کومه بس. که بېخي تې لاړ شمه بیا راباندې پوېږي. جزا راکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وه دا چیشی وایې؟ اغه په خپلو کسانو باندې ام ظلم کئ؟
– خپل او پردي نه پېژني. یوازې پیسې پېژني.
– نو زه چې قواله ورنکمه خو بیا خبره لا خرابېږي.
– کېدی شي. مګر که قواله ورکې بیا دې نو سل په سلو کې ټوله کورنۍ وژني؟
– ډک یې که ـه ـه!
– هو! ته ودرې چې د سره درته کیسه وکمه. دسې چل دی چې هېوادیار اول په پېښور کې و. د افغانستان د تاریخي اثارو قاچاق یې کوه. او وزیرصیب دلته د کان کیندلو شرکت لره. زه ام پکې ومه. بیا وزیرصیب اغه ام شرکت ته راوسته. خپل معاون یې که. امغه وخت زمونږه ام اشنایي وشوه. بیا خو نو د دوئ نه یو په دولت کې وزیر شو، بل ریس. اصلن هېوادیار وزیر ته مشوره ورکړه چې دا چوکۍ واخلي.
– ښه ښا! نو ولې یې ځان ته نا غستله؟
– د وزیر پلار جهادي مشر و کنه. هېوادیار اغسې قوي پایه نه لرله. نو چې اغه وزیر شو، دا یې ریس که. ده بیا په ټولو ولایتونو کې زرګرانو او د قیمتي تیږو کاروباریانو ته خپله شمېره ورکړه. ویلې که چا کان پیدا که، غلی دې ماته ووایي. زه یې په ګټه کې شریکوم. د دوئ کانونه دوه ډوله دي. یو په دولت کې ثبت دي. ډېره کمه مالیه ورکئ. بل چې نه دولت پې خبر دی، نه خلک. غټ د بوال تې تاو کي. په پټه یې استخراجئ. که ځمکه د چا وه، نو قواله تې واخلي. بیا یې په چل ټوله کورنۍ ختمه کي، چې څوک د کان نه خبر نشي. ستا د ځمکې کان ته امد غسې پلان لري. نور دې خپله خو ښه!
د لالټي سترګې او خوله وازه پاتې وه. حماس قباله بېرته په لاس ورکړه. ویې ویل:
– که شپه را سره کی پاتې شه! که نه ځه وروره! لوی لاس ځان او بچي مرګ ته مه ورکوه! او ګوره! ما او تا بېخی سره لیدلي ندي.
لالټی سر وخوځوه، ووت. په تیارې کې روان و. ده چې هر څو مره په دغه موضوع کې مخکې تګ کوه هغو مره ورته خبره لویه ښکارېدله. او هماغو مره یې ستونزې زیاتېدلې. اوس پوه شو چې آن وزیر هم پکې دخیل دی. شک یې نه درلود چې د حکومت مشر هم پکې برخه ولري. ده یوځل د کانونو او پطرولیم د وزیر خبرې په راډیو کې اورېدلې وې. هوښیار او په کار پوه ښکارېده. دا به یې هېڅکله هیر نه شي چې هغه ویل «قدرمنو! افغانستان د کانونو په استخراج کې تر ټولو زړه سابقه لري. موږ لس زره کاله پخوا په بدخشان کې د لاجوردو استخراج پیل کړی دی» اوس لالټی پوهېده چې هغه اصلن د وطن د آبادۍ نه، د جېبونو د ډکولو پلانونه لرل. موبایل یې چالان کړ. شمېره یې ووهله. ویې ویل:
– خوشال ډاکټرصیب! تا څنګه یوازې وګورمه؟ که اوس کولی شې اوس، که نه، سبا.
ډاکټر په ډکې خونې کې ټولو ته لاس جیګ کړ. کله چې خلک غلي شول، موبایل یې خولې ته ونیو:
– ته چېرته یې ماما؟ ولې پټېږې؟ ټلیفون کوه، ټلیفون کوه، بېخي جواب نه وایې. داسې خو نه کېږي.
– ته ګیلې پرېده. دادی اوس د لغمان بازار کې یمه.
– ګوره دروغ به نه وایې! زه درځمه. څنګه دې وپېژنمه؟
– خړ کالي مې دي، خړ واسکټ، سپینه خوله، ببره ږیره. او توري څپلۍ.
– ښه نو د جامع جومات په دروازه کې ودرېږه! چېرته لاړ نشې!
لالټی د برق د څراغ رڼا ته ولاړ و. ژوره سا یې اخېستله. نه پوهېده چې اوس له هېوادیار سره څه وکړي؟ دې کې یې د ګرد مخ او لنډې ږیرې ځوان ولید. لنډ وېښتان یې شاته اړولي وو. له لېرې یې تېره تېره کتل. پوه شو چې ډاکټر خوشال دی. د ټلیفون د خبرو څخه قهرجن سړی برېښېده. لالټی وېرېده چې په بله لانجه وانه وړي. هغه راغی. دواړه څنګ ته شول. ډاکټر وویل:
– وه ماما! دا وخت سړی راځي؟ مخکې به راغلی وې!
– ډاکټره ګله! خبرې ډېرې سرې یو دی. راز ساتلی شې که نا؟
– پوه نشومه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ما ولیدلې. تاسره نور کسان ام وو. الته پناه ولاړ دي. ما ویلې زه چې درته چیشی ویمه اېچا ته به نه وایې. کېږي؟
– وګورمه چې ته څه وایې.
– بس صیبي شو یارو. څوک چې په سختۍ وعده کئ اغه پې درېږي.
لالټي تر نن ماښامه ټوله کیسه وکړه. د ډاکټر څېره اوس بدله وه. په سترګو کې یې نم وځلېد. ویې ویل:
– زما پلار سرزوری و. هره سختي یې تېروله خو مونږ یې نه په تکلیفولو. پرون خبر شومه چې چا غولولی. سل لکه قرضداره دی. ښه پوېیده چې ماسره پیسې شته. نه یې غوښتلې. اوس پوه شومه چې دغه کان ته یې امید و. مګر په چا یې مرګ پېرزو نه و.
– ماته ام امدقه سې ښکارېده. خدای دې وبښي!
– ای ماما! په یو شي پوه نشومه. ته اوس څه غواړې؟
– زه؟ چې ام لور بچه کمه، ام ځمکه.
– دا خو ډېر زورور خلک دي. ستا به وس ونه رسېږي.
– خو که ځمکه ورکمه بیا مې ټوله کورنۍ وجني. ته ووایه چیشی وکمه یارو؟
ډاکټر چورت یوړ. وروسته یې د ماشین شوې رېرې زنه وخوځېدله:
– ته راځه شپه خو مونږ کره تېره که! تر سبا به چورت ووهو.
ډاکټر خوشال خپلو خپلوانو ته لاس وښوروه. هغوئ راغلل. لالټي ته ځیر وو. ډاکټر وویل:
– دا ماما اغسې سړی ندی چې مونږ فکر کوه. ای ماما! دا سورکی مې ورور دی. دا نور مې د تره او ماما زامن دي.
لالټي هریو ته لاس ورکړ. ورسره روان شو. سهار دواړه د ډاکټر په جیګري ټوډ ي کې شربت څېلو ته لاړل. د کلي ملک او خلک راټول شول. پوښتنه یې کوله چې څنګه له منځکلیوالو وتښتېد؟ دا سړی ورسره څوک دی؟ لالټي ملک ته کړ:
– دا ډاکټر صیب خوشال دی. د شهید سباګل زوی. نورې خبرې به پسته کوو یارو. اوس په سالاو کې چې څونه ملکان دي ټول راوغواړه! ډېره موهمه خبره ورته لرمه.
– وه الکه! هرکله سړی ډوزې نه ولي. غلی شه!
– ملک ګله! زه لا څه نه ویمه. الته دې زما ضمانت ام ونکه. ته نو ملک په څه شوې؟ آ؟
– هاها، ډاکټر صیب! دا امدسې خبرې کئ. وه الکه! ضمانت سړی د یو چا کئ چې پې ایتبار لري. په تا کله ایتبار شته؟
– چیشی؟ ما غوندې سړی دې په ټول کلي کې نشته. ښه ځا، ته اوس خلق راوغواړه!
– غلی کېنه! ځان ته ګوره، ملکانو ته ګوره! او که د منځ کلي ملک ولیدلې لانجه به تې جوړه شي.
– ډک یې که ـه ـه! که لانجه جوړېږي ما ته به جوړېږي. ته یې څه کی؟
– وه الکه! دا ډاکټر صیب مېلمه دی. غلی شه کنه! ته په دې خبرو نه پوېږې.
ډاکټر خوشال وویل:
– ملک صیب! زه درته وعده کوم چې اسې خبره نده. ته کسان راوغواړه!
– دا چیشی وایې؟
– هاو کنه. لکه لال مامد خان ماما چې وویل خبره ډېره موهمه ده.
ځینو ځوانکیانو د لال محمد خان په نوم پخ وهل. یو تن مخ بلې خواته ونیو لکه چا ته چې په لوډسپیکر کې غږ کوي:
– لالټی دروغجن!
نورو هرررر وهل. لالټي بې له ځنډه ځواب ورکړ:
– څوک غاپي؟ د سپي زامن!
ټولو بیا وخندل. ډاکټر خوشال حیران حیران وکتل. لالټی تک سور شو. ملک هلکانو ته کړ:
– یاره ډېر قمقله یئ. سړی ځای پېجني. ولې یې دا سپکه خوله سپړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ټلفونونه وکړل. د منځ کلي له ملک سره وسله وال کسان هم راروان شول. لالټي په کوټه کې ښځې ته کځوړه وښودله:
– په دې کې کېک او چاکلېټ دي. خوشال ډاکټر صیب منږ ته واغستل. چای دم که! مرو چېرته ده؟
– ابله کوټه کې پرته ده. خبرې نه کئ. جاړي او جاړي.
– ولې؟
– خو پرون ستا د تره زوی لورګانو ته ویلي دي جلې نه لرې ګرځئ. مخکې چا ورپسې تیږه واره کړې وه. اوس کم الک په دېوال ختلی. چیشی یې ورته ویلي دي.
– څوک؟ ته راوښیه! ولا که یې جوندی پرېږدمه!
– ټول کلی دی. ته به چا پسې منډې وهې؟
د لالټي ستوني له قهره وچ شو. سر یې وپړسېد. بدن یې بیا مرې مرې کېده. ګنګس په ځمکه کېناست. په سالاو کې نه حکومتي قانون و، نه لکه د خوست او پکتیا قبایلي قانون. بس یوازینی قانون د زور دپاسه زور و. خلک ځکه د هلکانو زېږېدو ته خوشحالېدل چې د چا ورونه او زامن ډېر وای شخړه هغه ګټله. او که لانجه د ورونو او زامنو له وسه پورته وه بیا ورسره خپلوان درېدل. مګر لالټی له دغو ټولو محروم و. او ښکې یې وځلېدلې. کله چې د کور مخ ته شور شو، په منډه ووت. پر سرک خلک راغونډ وو. د منځ کلي ملک په جیګ غږ ویل چې موږ په لالټي پسې راغلي یو. د شربت خېلو ملک مخالفت کوه. ده غږ کړ:
– زه دغه یمه. خیر دی اوس راځه دننه کېنه! ما چې ویلي ډېره موهمه خبره ده اغه واوره! بیا خپله درسره ځمه.
د منځ کلي ملک ومنله. مګر دده چرسي انډیوال ګلټي نارې کړې:
– ای ای ای! موهمه خبره دې امدلته وکه! منږ نه یې ولې پټې؟ دسې نه کېږي باداره، نا.
لالټي لاندینۍ شونډه په ګوتو کې ونیوله. ددوئ ترمنځ ځانته اشارې وې. ګلټي چیغه کړه:
– څه ایشارې کې چې غلی شه؟ منږ ته اصله خبره وکه! سرې سرې نه یې وربوز دې جیګ نیولی.
لالټي لیدل چې په راډیو کې له وظیفې سره هغه بدل شوی دی. سپینسترګي کوي، د هېڅا خیال نه ساتي. نه پوهېده چې څرنګه یې خوله بنده کړي؟ د شربت خېلو د ملک غږ یې واورېد:
– الکه ګلټیه! غلی شه! که نه، بیا دې ترمه! دده خبره نده. د کابله لوی ډاکټر راغلی دی.
ګلټي بله خبره ونه کړه. ملکان په لویې کوټې کې له ډاکټر خوشال سره کېناستل. هریو داسې سترګې کرځولې لکه موزیم ته چې راغلي وي. ددوئ په کورو کې به معمولن د دېوال په قطارو مېخونو کې د سریو جامې ځړېدې. د هغو دپاسه به سپینه ګلداره پرده داسې خوره وه لکه څو کسه چې ترې لاندې پټ وي. کړکۍ به اکثرن پرده نه لرله. د ټولو به سرې ګلداره توشکې وې. په کونج کې به تر رنګارنګ ټوکر لاندې د بړستنو پنډ ښکارېده. مګر دلته هر څه ساده او په سلیقه وو. په کړکۍ کې نخودي پرده او د دېوال په منځ کې په یوازیني مېخ د پروانې د واده کاغذي ګلان ځړېدل. ښځې او مېړه به کله ناکله پزې ته نیول چې د لور بوی پکې پیدا کړي. په ځمکه سور ایراني فرش او نخودي توشکې وې. د هرچا مخ ته د چاکلېټو او کېک قاب د تور چای له ګیلاس سره کېښنودل شوی و. پکولي ملک د کېک ټوټه خولې ته کړه. وښنګېد «لالټي خو دونه بد امندی. خلق خوشې غږېږي. ما خو تر اوسه په سالاو کې داسې پاک کور لیدلی ندی» د څنګ ملک په لوګي زېږه رېږه وخوځوله «شنډ شی دی. بچې نلري. خود به پاک وي» بیا یې مخامخ دېوال ته لاس ونیو. په جیګ غږ یې وپوښتل:
– الکه! دا دې د مړې لور د واده ګلان دي کنه؟
لالټي سر وخوځوه. ملک نورو ته وکتل. لکه د کم عقلۍ ثبوت چې یې وړاندې کړی وي. مګر لالټي په تحقیر کې پوخ و. سر یې نه پسې ګرځوه. د ډاکټر خوشال په مرسته یې د کان کیسه وکړه. د منځ کلي د ملک خوله وازه شوه:
– آآآآآآ! دونه مسلې شوي، منږ خبر ام نا؟
د شربت خېلو ملک غږ کړ:
– هاو کنه. ښه دا پرېدئ! اوس چیشي وکو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زېړې ږيرې ملک سر وخنډه:

– چيشي کولی شو؟ ايڅ.

لالټي مخ ټولو ته واړوه:

– که زهيره کېږئ نا، د هر کلي نه يو يو تکړه ځوان راوغواړئ! ورسره به وغږېږو. بيا به وګورو چې چيشي کوی شو؟

ډاکټر خوشال وويل زموږ د غونډې اصلي مقصد همدا دی. يو ساعت پس ځوانان د کور مخ ته ولاړ وو. ډاکټر ملکانو ته کړ:

– ښا نو، لال مامد ماما چې وي ماته ضرورت نشته. په کامې کې زمونږ خيرات دی. که راسره ځئ خوښ به شمه.

ځوانانو ته د لالټي په مهم والي خندا ورتلله. ملکانو د خيرات د قبلېدو دعا وکړه. لالټي ډاکټر ته کلکه غېږه ورکړه:

– خير ويسې يارو! په تماس کې به يو.

ډاکټر په خپل موټر کې لاړ. لالټي ملکان او ځوانان د ماټو څنګ ته بوتلل. د ځوانانو له بنګېدو او ښورېدو معلومېدله چې په لمر کې له درېدو خوښ نه دي. ماشومانو له لېرې کتل. لالټی د خلکو مخ ته ودرېد. په زړه کې يې وېره وه چې د ډاکټر له مرستې پرته به قناعت ور نه کړای شي. مګر بله چاره نه وه. اول يې د کان کيسه وکړه. په پای کې يې وويل:

– ګورئ! منږ په سختو لارو ايران، ترکيې، اروپا ته ځو. رټل، کنځلې، وهل، اين مرګ پکې شته. شته که نشته؟ اوس اروپا دلته راغلې ده يارو. راځئ اغه خطر چې الته تېروو دلته تېر کو! په خپله منطقه کې اروپا جوړه کو!

ګلټي د غټې تيږې شاته غوږ نيولی و. د ځوانانو له منځه ګلابي مخي شاه محمد غږ کړ:

– دا چيشي وايې؟ پټی ستا دی، سر به يې منږ ورکوو. تاته لکه چې منږه لېونيان ښکارو.

– نا کنه. په قانون کې چې هرچېرته کان پيدا شي د دولت کېږي. اين که د چا په کوټه کې دننه ام وي. خو زه د ځمکې خاوند يمه. کولی شمه د کان کيندنې جواز واخلمه. بيا به زما لاس کې شي. دلته به ماشينان وي، ماموران، دفترونه، متړان به وي. اين خارج ته به تورمالين وړو. زه نو دا يوازې کولی شمه؟ آ؟ زه بل څوک لرمه؟ نه مې زوی شته، نه ورور. ای وعده ده، يوازې اغه کار به بل چاته ورکومه چې سالاويان يې نشي کولی. انشاالله د هرکور نه به يو کس پکې معاش اخلي. نور چيشي غواړئ؟

هغوئ يو بل ته وکتل. شور شو. په خپلو منځو کې سره نه جوړېدل. لالټي غږ جيګ کړ:

– هاو. امکان لري زمنږ ځيني مرګري پکې شهيدان شي. هاو کنه. خوشې خبره خو نده. د حق دپاره جنګېږي. حق د خدای نوم دی. مګر که پسته کاميابه شولو نو اول به د امدقو کورنيو ته کار ورکوو.

د زېړې ږيرې ملک سر وخنډه:

– دا وړی شړی نه بولمه. ښه ځا، دا ته يې کامياب. تاته کله جواز درکئ؟

– نا کنه. په قانون کې د ځای خاوند ته جواز ورکول شته. ما ولوستل. که دولت کان واخلي بيا به ام زمنږ څه کسان کار ته نيسي. ام به معاش اخلو، ام به په خپل کلي کې اوسېږو. مګر که د مافيا ګوتو ته ورغی الته نو بېخي لاس ومينځئ.

زېږ ږيري بيا غوښتل مخالفت وکړي. د منځ کلي ملک خبره مخکې کړه:

– ياره! زما په خيال ښه خبره کئ.

نورو ملکانو او ځوانانو هم د «صيبي ده، صيبي ده» نارې وکړې. لالټي د سترګو نم وچ کړ:

– خير ويسئ! ما ويلې څوک زما چرسي خبره مني. خدای شته د خوشالی نه جړا راځي. هاها، ای پام کوئ! منږ او تاسې نه غېر بل اېڅوک خبر نشي. که خبره تيته شوه نو ځوانان به ام مړه شي، ناکامه به ام شو.

د شربت خېلو ملک مخ ته شو:

– رښتيا وايي. پورته کئ لاسونه! په قران قسم وکئ چې منږ نه غير بل بنده ذات نه خبروو.

دلته ګولټي ټليفون راواخېست. هېواديار ته يې زنګ ووهه. ويې ويل چې لالټي خلک راټول کړي دي. هغه وپوښتل چې څه وايي؟ ګلټي وخندل:

– هه‌ء هه‌ء، داسې ډوزې ولي باداره. زما عقل پکې انتن نه ورکئ. ګوره په راډيو کې امدقه سې ووايه! لالټی ډوزې ولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– سمه ده. څه شی یادوي؟
– کابل ډیر یادئ، ماشینان یادئ. وایي تورماشین به خارج ته وړو. هغه هغه، دسې غرونه چپه کړئ. ای دا تورماشین څنګه وي؟
– تورمالین. خوشې تیږې دي. دا پرېده! ټول څوتنه دي؟
– شل الکان، لس ملکان. ای باداره! تنخا مې راکه نو! چرس مې ختم دي. په قران نینې نینې یمه.
– پسته بیا لاړ شه! وایې خله!
– اخ قوربان دې شمه! ویمه سل کاله دې غلام یمه باداره. په قران په ما ډیر ګران یې. زه...
– ښا ټیک شو. د دغو دېرشو کسانو نومونه او پتې ووایه! چې معاش حلال شي.
ګولټې لګیا شو. د هریو نوم د پلار نوم او کلی یې یادوه.
لالټې تر ټول سخت کار چې د خلکو راضي کول وو، وکړ. نور نو کابل ته د تګ په چمتو والي اخته شو. کار ښه روان و. وسلې ځوانانو خپلې لرلې او پیسې ډاکټر خوشال ورکړې. له حماس سره هم موافقې ته ورسېدل. هغه هم موقع لټوله چې د زوی غچ واخلي. پلان دا و چې هغه به د هېوادیار د کور په لوی سالون کې د لغمانیو مېوو مېله جوړوي. حماس ویل دا سې مېلو ته د وزیر په شمول د کانونو په چور کې ټول د خیل مشران راځي. بله دا چې هغوئ د هېوادیار کور امن ګڼي. باډیګاردان د ننه نه بیایي. نو د حملې په ورځ به حماس سهار وختي مېلې ته د چمتو والي په پلمه ورځي. د لالټې ملګري به نږدې منتظر وي. حماس به دوئ خپلوان معرفي کوي. ور څخه به غواړي چې مېوې د ننه ور وړي. د کرېټونو په بېخ کې به وسلې وي. دوئ به ټول ساتونکې په تاکاوۍ کې بندي کوي. پر ځای به یې خپل کسان دروي. حماس به رسنۍ هم د مېلې د پوښښ لپاره راغوښتې وي. دوئ به ټول مشران نیسي. رسنیو ته به د کانونو د چور مافیایي کړۍ ورپېژني. د هرې ادعا ثبوت به د هغوئ په خپله خوله وړاندې کوي. پلان ټولو ته فوق العاده ښکارېده. احتمال پر ته له مرګ ژوبلې کامیابېدی شو. دعا یې پرې وکړه.

∞∞∞∞

تر مېلې یوه ورځ مخکې لالټې له ځوانانو سره مهترلام ته راغی. د هاشم ډبه شکله موټر یې د حماس باغ ته ننوېست. هلته د تازه او وچو مېوو کرېټونه سر په سر اېښې وو. دا یې نه وو کتلې چې د کوم ولایت او کوم موسم مېوه ده. لوکاټ، وچ او تازه توت، انار، املوک، مڼې، شفتالو، زردالو، خټکې، هندوانې هرڅه پکې وو. موټر یې په کرېټونو ډک کړ. درې تنه خندانه هلکان پکې کېناستل. څو وکولی شي د تلاشۍ کسان غافله کړي. څوارلسو ځوانانو ټونس موټر دربست ونیو. لالټې، ګلابي مخي شاه محمد، په دسمال کې تاو سردار او د حاجي چمن زوی دادو، په سپینې سراچې کې ورپسې حرکت وکړ. قسمت ته ګوره چې د دوئ موټر د سروبي په چړایي کې ګرم او ګل شو. ډرایور غوښتل بېرته وګرځي. موټر مستري ته وښیي. خو د لالټې بیړه وه:
– منږ درنه ځو یارو. ته پوېږې مټر دې.
موټروان غږ کړ:
– چېرته ځئ؟ دستي جوړېږي.
– منږ وخت نه لرو.
– څه ریس جمهور یې. دا خبرې پرېده! دونه مې راوستي یئ. پیسې وباسئ بیا ځئ!
– ډک یې که ـه ـه! په نیمه لاره کې مو خوشې کی. پیسې ام اخلې؟
– څوک؟ دا تاسې ما خوشې کوئ. زه خو مو رسومه.
– په دغه کباړ کې؟
– ته خو دا ام نه لرې.
لالټې خپلو کسانو ته لاس وښوروه:
– راځئ بل مټر نیسو یارو! دا خوشې چټې لګیا دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوئ مخ په ځوړ د دکانونو په لور وخوځېدل. موټروان یې چټک مخ ته ودرېد. ټول یې شاته ټېل وهل. زورونه او وارونه شول. په یوه شېبه کې په لسګونه موټر ودرېدل. خلک بېلولو ته کېوتل. جم و جوش شو. بالاخره نورو موټروانانو لانجه حل کړه. هغوئ ویل د سراچې والا دې تر کابله بل موټر ونیسي، او دوئ دې پیسې ورکړي. سړي له سروبې څخه کرولا راوغوښتله. دوئ پکې کېناستل. په پُلې چرخي کې یې ولیدل چې پولیسو د میوو موټر او ټونس راګرځولی. د دوئ ځوانان پکې نه ښکارېدل. پولیسو هره سپینه سراچه تلاشي کوله. لالټي وپسېد:
– ځانونه ناګاره ونیسئ! منږ پسې ګرځي.
د ټولو رنګ والوت. کله چې تېر شول سردار د دسمال چېچل بند کړل. ویې پوښتل:
– دا څنګه چل دی؟ څنګه پوی شول؟
لالټي وویل:
– زه ام نه پوهېږمه یارو. لکه چې چا ورښودلي یو.
دادو پیکي ته څنډ ورکړ. وپسېد:
– چا؟ یو ګلټي ولیدلو خلاص.
د لالټي تندی راټول شو:
– ډک یې که ـه ـه!
– هاو، منږ چې ښار کې متړان برابرول اغه د لرې نه کتل. ما ویلې ستا دپاره به راغلی وي.
– امقه حرامي دا کار کړی دی.
شاه محمد ګلابي مخ نژدې کړ:
– د متړ خرابېدل زمنږ په خیر وو.
– خیر چېرته دی یارو. هر څه تبا شول.
شاته پولیسو بله سپینه سراچه ودروله. تر تلاشي وروسته قوماندان هېوادیار ته ټلېفون وکړ:
– صیب! ستاسې خبره صیي وه. اوه لس کسان مو د وسلو سره ونیول. خو د لالټي په شمول څلور ورک دي.
– نا نو، څلور څه شول؟
– نه پوهېږمه. اغه سپینه سراچه رانغله. د نورو د نیولو نه به خبر شوي وي. بېرته به ګرځېدلې وي.
– نا نو، اصل سړی لالټي دی. ممکن په لته بند راغلي وي.
– الته ام زما نفران دي. وایي تراوسه ندي راغلي.
ریس له کمپیوټره پاڅېد. د خپلو ساتونکو قوماندان ته یې په مخابره کې وویل:
– خبر شوې؟ اوه لس کسه یې وسلو سره نیولي. ښکاري چې په ربښتیا یې حمله کوله. لالټي او درې نور ورک دي.
– ریس صیب! که وایئ لغمان ته به پسې ورشو. ښځه او لور به یې راولو.
– نا نو، دوشنبه بل سبا ده. که مې راوستل په پولیسو یې راولم. تاسې خپل کار له پام وکئ! هر څه له تیار اوسئ!
– موږ پینځه لس کسه په سنګر کې یو. د سلو جواب وایو. ته احتیاط کوه ته! تر اغو د کوره مه وځه!
لالټي او ملګري یې په تایمني کې د ډاکټر خوشال دوه منزله سپین کور ته لاړل. په تکې شنې او پاکې حویلۍ کې د انګورو تر چېلې، ګلانو او تک شین چمن تېر شول. دویم منزل مېلمنو ته خوشې و. په دوو کوټو کې ماشې او فولادي توشکې او په دریمې کې آسماني کوچونه وو. لالټي د کوچونو والا خوښه کړه. چا مخالفت ونه کړ. ده سمدلاسه موبایل راواخېست. د لغمان د کانونو او پطرولیم مدیر حماس ته یې ټلېفون وکړ. د هغه شمېره بنده وه. ډاکټر عمیقه سا واخېستله:
– اغه به یې ام نیولی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول غلي وو. له سترګو يې معلومېدله چې ذهنونه يې نا آرامه دي. دې کې سردار او شاه محمد کلک ونښتل چې بېرته لغمان ته ځو. هغوئ ويل په پينځو کسو هېڅ کولی نه شو. دادو او ډاکټر څه نه ويل. له لالټي سره د لور او د اوه لسو ځوانانو غم و. خو سردار او شاه محمد د هغوئ خلاصول ناممکن ګڼل. ويل خوشې ولې ځانونه مرګ ته ورکوو؟ د لالټي زغم ختم شو:

– نو چې د مرګه وېرېدلئ د سره به نه راتلئ يارو!

ډاکټر خوشال سترګې جيګې کړې:

– دوئ ملامت ندي ماما. زمونږ پلان ګډوډ شو. په ټپو سترګو حمله په رښتيا ځان وژنه ده.

لالټي غلی شو. خو د سينې له ډکېدو او تشېدو يې د ننني نا آرامي ښکارېدله. ډاکټر ته يې ورې لور غږ کړ. هغه ووت. دوئ ستړي وو. خو په کوچونو کې هاغسې په طبعه غځېدل نه کېدل. دادو وويل:

– ورک يې که! ځئ چې بلې کوټې ته لاړ شو!

لکه ټول چې همدې ته منتظر وو. پاڅېدل. د فولادي توشکو په کوټه کې اوږده پرېوتل. يوازې سردار ناست و. له کړکۍ څخه يې بهر کوڅې ته کتل. ويې ويل:

– راځئ چې امدا اوس لاړ شو! که پوليسان زمنږ الکان کېکاږي دا ځای ورښيي.

لالټي غږ کړ:

– نا، دا کور مانه غير ايچا ته مالوم ندی. چې پوليسان راپسې راځي خو سالاو ته ام راځي نو.

په غرمنۍ کې وريجې، کباب، چرګ او منتو راوړل شول. خو د دوئ اشتها نه وه. تر ډوډۍ وروسته لالټي پاڅېد:

– تاسې کېنئ! زه راځمه.

هغه تر چنار لاندې د ځان غوندې بېر سري نايي ته کېناست. د بياتۍ غريچې وخوت. وېښتان يې قوده قوده مخ ته ولوېدل. خپله تنکۍ ځواني ورياده شوه. نايي ته يې کيسه وکړه چې اول ځل يې د اوږدو وېښتانو شوق کړی و. فکر يې کوه چې نجونې همداسې ځوانان خوښوي. مګر د پلار په ذوق هېڅکله نه پوهېده. د هغه به يو وخت يو کار خوښېده. بل وخت به يې په هماغه کار وهل ورکول. دا ځل يې د بېرسر له امله سپېرې ورکړې. له غوږه يې ونيو. په باغچه کې يې ډم ته کېنوه. سر يې ور کل کړ. نايي د خپل پلار له قوله وويل چې پخوا شامپو نه وه. مشرانو د سپږو د مخنيوي لپاره د بچيانو سرونه کلول. لالټی تک سور شو. په هنداره کې يې تېره تېره وکتل. نايي ويل د ظاهر شاه په وخت کې په کابل کې رسمي کمپاين وشو. د مکتبيانو په سرونو کې به يې ملتاين پوډر وهل چې سپږې ووژني. لالټی پوه شو چې هدف يې دده توهين نه و. قهر يې سوړ شو. هغه له نايي څخه راسن په کارتې پروان کې د هېوادیار د کور ليدو ته لاړ. بلغمي رنګ يې و. پينځه منزله يې لرل. څو حلقې اغزن سيم ترې تاو و. د کانکرېټي غرفې مخ ته څلور ساتونکي ښکارېدل. دی باغ بالا ته وخوت. له پاسه يې وکتل. په بام باندې لمريزې تختې او دېش انتن لګېدلی و. لمر د غرونو شاته پټ و چې دی د ډاکټر خوشال کور ته ستون شو. کليوالو اول بېخي ونه پېژند. شاه محمد نورو ته وبنګېد «ای! د اغه بېرمېر نه څنګه ښايسته سړی جوړ شو؟» خو د لالټي زړه نا آرامه و. بلې کوټې ته لاړ. څراغ يې ولګوه. دروازه يې وتړله. د آسماني کوچونو مخ ته وګرځېد. په زړه کې يې اوه لس ځوانان ګرځېدل. نه پوهېده چې هغوئ به اوس ژوندي وي که مړه؟ څومره به يې ځورولي او وهلي وي؟ بيا يې د لور ويډيو فکر ته راغله. دا څنګه کېدای شي؟ څېره بالکل د مروې وه. هسې نه چې د نشې دوا يې ورکړې وي. په نشه کې انسان هرڅه کولی شي. مګر ولې يې نو بيا رنګ زېړ و؟ وروسته يې د هېوادیار له ملنډو ډک مخ سترګو ته ودرېد. لالټي غاښونه وچيچل «د سپي زو!» زړه يې له درده پړسېدلی و. خو څه يې کړي وای؟ ټول ځوانان يې ونيول شول، حماس ورک و، ډاکټر او درې نور له خپله کاره نهيلي ښکارېدل. ده بيا غاښونه وچيچل. په غږ يې وويل «زه خو دې په قران که پرېږدمه!» پر اوږد کوچ وغځېد. خپل ټټر ته يې وويل:

– ای يارو اورې؟ ته دسې وکه! دا د هېوادیار حرامي کور ته لاړ شه! وګوره چې چېرته کېني؟ چېرته سملي؟ څو کسه ساتونکي لري؟ کوم کوم ځای کې دي؟ د کومې خوانه سړی کور ته ننوتلی شي؟ دا ټول.

هغه منتظر شو. اروا ونه وتله. دی بيا وپسېد:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وځه کنه!
هېڅ پېښې نه شول. ده اسویلي وکړ:
– ای یارو! ته مې ام یوازې پرېدې؟
اروا ځواب ورنه کړ. دی برګ شو:
– ای لوېشتینکه! چې کار نه وي دسې ډېتې ولې. د غیرت او نرتوب خبرې کې. ونیسه! دغه یې ځای دی.
بیا هم د اروا پته ونه لګېدله. دی یو دم پاڅېد:
– هي ستا دددد...
اروا دفعتن ووتله. لالټې د ښیښې د ټیټ مېز څنګ ته په ځمکه ولګېد. درب شو. په بلې کوټې کې یې ملګرو ویل څه خبره ده؟
خو بل درب رانغی. دلته لالټې اروا ته کړ:
– ډېر د سپي زوی یې. ښا، که مې سر د میز په څوکه لګېدلی و؟
– بدبوټې بلا نه وهي. ای ته ډېر سپینسترګی نه یې؟ هلته دې ویل جاسوسان مې نه خوښېږي. دلته بیا ما جاسوسۍ ته لېږې.
– ننا، اغه خو په قار ومه. په دونیا کې ګوره سراسر بد او سراسر ښه نشته ښا؟ هرشی هم ګټه لري، هم تاوان. نه ګورې په امقه اذان چې روجه نیسو په امقه یې ماتوو ام. ای خیر دی کنه! اوس خو مجبور یو یارو. دونه ځوانان مري.
– اول به دې فکر کړی و. د ټولو ګناه ستا په غاړه ده.
– زه ام امدقه ویمه کنه! تا نه ویلې چې زما ځورېدل ستا ځورېدل دي؟ اوس شوی کار دی نو. تاته خو سخته نده. تش مالومات راوړه یارو! خدای مېربانه دی که کمه لاره پیدا شي. ام به مرو بچه شي، ام ځوانان.
– راشه نو! معلومات خو تاته وسلې او عسکر نه درکوي.
– راکوي راکوي. ګوره! مال–و–مات. یانې دا مال چې درسره وي هرڅوک ماتولی شي.
– اخله‌ه‌ه! هاهاهاها، ته چې کله څه شی غواړې، داسې احمقانه دلایل ورته پیدا کې.
– خیر دی کنه نو! دقه لېږ زیامت وباسه بس! چیشی به دې کم شي؟ تا کې خو د کمېدو ځای ام نشته.
– سخت بې ادبه یې. هم دروېزه کې، هم کنځه. ځه ورک شه!
– لاحول ولا! ای د شادوګۍ بچیه! دروغ دې ویل چې مرو ستا لور ام ده، آ؟آ؟
– هاهاهاها، ودې منله؟ هاهاهاها
– چیشی؟ زه خو یې ولاکه ومنمه. ستا خبره کومه.
– ښه ځه، همدومره دې هم بس ده. زه لاړم.
اروا په هوا کې لکه الوتکه روانه وه. سترګې یې تکې سرې او ښتې وې. د څېرې له جدیت څخه یې په سینه کې د درد پته لګېدله. هغې ته د اوه لسو ځوانانو او د کانونو خبرې لکه د فلم صحنې ښکارېدلې. اصلن د زړه پر ماڼۍ یې د مروې د اندېښنو لمبې بلې وې. سره له دې چې اوس په لالټې کې فرق لیدل کېده. بدن یې تکړه او له لوګې پاک و. فکر یې سم کار کوه. حوصله یې زیاته شوې وه. مګر اروا یې پر ورتیا او رښتینولۍ شک درلود. بیا په یوازې ځان یې له مافیا سره څه کولی شول؟ اروا په کارتې پروان کې د هېوادیار کورته ورسېدله. تشه کوټه څراغونو روښانه کړې وه. یو وسله وال ساتونکی د غرفې مخ ته په چوکۍ ناست و. د ننه درې تنو پر مېز باندې موبایل ایښی و. لوبه یې کوله. وسلې یې دېوال ته درولې وې. اروا هوا ته جیګه شوه. لویې حویلۍ ته یې وکتل. د دروازې څنګ ته برخه په دېوال بېله شوې وه. د دېوال دواړو خواوو ته لویې کوټې ښکارېدلې. دوه ساتونکي د لویې دروازې شا ته پر چوکیو ناست وو. په وړوکتوب کې له باغونو د غلا کیسې یې کولې. اروا کوټې ته ننوتله. هلته اته دوه منزله چپرکټونه وو. اتو ساتونکو پر پلاستیکي فرش قطعې کولې. یو تن په موبایل کې د نجلۍ ګڼا کتله. د دروازې څنګ ته تلوېزون خبرونه ښودل. اروا ووتله. تر دېوال هاخوا کوټې ته ننوتله. فاطمه خاله نیمه په ایراني فرش او نیمه په توشکه ویده وه. دوو کمکیو لمسیانو یې پر وړوکي مېز په تلوېزیون کې کارټوني کوت. مګر غټکۍ نجلۍ د جامو د فلزي بکس څنګ ته ناسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه. په البم کې یې د پلار او مور د واده تصویرونه اړول. په اخېر کې د اخبار پاڼه وه. سترګو ته یې جیګه کړه. د بم د چاودنې د تور لوګي تصویر و. نجلۍ په ډکو سترګو هوا ته په الوتو ټوټو کې د خپل مور او پلار اندامونه لټول. د اروا سترګې لا سرې شوې. له کوټې ووتله. د جیګې ودانۍ اول منزل ته لاړه. د لوی سالون د پړسېدلو ترکي قالینو او شتري کوچونو د لوی سیټ له پاسه تېره شوه. په ډېزاین شوي چت کې یې قیمتي قندیلانو او له سترګو پټو اوږدو څراغونو ته وکتل. د حویلۍ خوا ته د دېوال سرتر پایه ښیښه وه. اروا په بلې خوا کې مخ وازې پخلنځي ته لاړه. وروسته د څنګ په دروازې ننوتله. لوی تشناب یې وکوت. ووتله. د فرش شوې زینې له پاسه تا کاوی ته کښېوتله. په لوی سالون کې له وطني قالینو او برګو پړسېدلو توشکو تېره شوه. په درېو دروازو ننوتله. دوه یې تشنابونه وو. په دریمې کې د جامو او لوښو مینځلو اتومات ماشینونه وو. اروا په دویم منزل کې نسبتن وړو کي سالون ته وختله. د جیګرې کوچونو د پاسه ودرېدله. په سورې سورې زینتي دېوال کې د ننه د هېوادیار د برېتور پلار نېکتایي داره تصویر یې ولید. څراغونو روښانه کړی و. اروا مخ د څلورو کوټو دروازو ته واړوه. وررننوتله. په دوو کې یوه یوه ښځه په قیمتي تخت ناسته وه. په ټلیفون کې غږېدله. څنګ ته په وړو تختونو کې یو یو تیخور ماشوم ویده و. هرې کوټې د سونا والا لوی تشناب درلود. په دریمې کې هم تخت و. مګر هېوادیار پر میز باندې په لپټاپ کې لیکنې او جدولونه کتل. اروا هم تر ډېره وخته په لوستلو بوخته شوه. وروسته یې څلورمه کوټه وکتله. برابر پخلنځی و. اروا دریم منزل ته وختله. په شپږو کوټو کې پر تخت یو یو ماشوم پروت و. چا په کمپیوټر، چا په موبایل کې ګېم وهه. په څلورم منزل کې هم شپږ کوټې وې. په اولې کې د چکۍ وېښتانو پیغلې د هنداري مخ ته ګډا کوله. په دویمې کې د کمڅۍ والا پیغلې په غټ موبایل کې ټیکټاکونو ته خندل. څلور کوټې تشې وې. د پینځم منزل په لوی سالون کې د سنوکر او پینګ پانګ مېزونه او په کونج کې د سپینو کوچونو سیټ و. اروا بام ته جیګه شوه. د اوبو د کانکرېټي ډیګۍ تر څنګ لوی د ډش انتن او لمریزې تختې یې ولیدلې. د کور دوو خواوو ته د ګاونډیانو حویلۍ او دوو خواوو ته کوڅې وې. اصلن د غه کور ته د پټ ننوتلو هېڅ لاره نه وه. د اروا زړه خفه او څېره مړاوې شوه. هغه بېرته د ډاکټر خوشال کور ته راغله. موسکا یې په مخ راوستله. لالټې ته لاس په نامه ودرېدله:

– ښاغلی قوماندان صیب! عسکر حاضر دی.
– ډک یې که ـه ـه! په دا نیم ځان؟
– راشه نو! خدمت په تا ښېخي معلوم ندی.
– چیشی وکمه؟ پښې ام شکر دی نه لرې چې مچو یې کمه.
– اخله ـه ـه! وه بې ادبه! سړی خو مننه وایي.
– کومه مننه؟ ماته خو دې چیشی راکړې ندی. ښه ځا، مخکې تر مخکې مننه د سپي زو!
– داه! ځه ورک یې که! د چرسي نه ګیله نشته.
– بل پیغور پیدا که! دا کارتوس مرمۍ نلرې. ما چرس پرېښودل.
– سوچ دروغ. په ژوند به یې ونه منم.
– ښه ځا. ستا منل موهم ندي. قیصه وکه!
– چې زما منل مهم ندي خپل کار هم خپله کوه ځه!
– اووو خدای ته وګوره! ناز و نخرې پرېده! اوصیله نشته. په ما څه حال دی او ته...

د لالټې سترګې ډکې شوې. اروا نور ټوکې پرېښودلې. د هېوادیار په کور کې د سترګو لیدلی حال یې ووایه. د غو معلوماتو د لالټې زړه هم خفه کړ. سر یې کار نه کوه چې څنګه کور ته ورننوځي. ویې پوښتل:
– ای دا د وړو وړو شیانو شمېر دې سم دی، که اسې ځانښودنه دې وکړه؟
– یعنې په ځان شک لرې.
– څنګه؟
– له یاده دې ووتل؟ په مکتب کې ستا څنګه حافظه وه؟ درس دې نه وایه نو مرې دې اخېستلې. زه خو هم ستا اروا یم کنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– یو خو ته لوېشتینک بل تربور جوړ شوی یې. په هره پوله پټې کې ځان شریک ګڼې. ته ماغزه د کومه کې؟ اغه زما دي.
دې کې کړپ کړپ شو. چا زور ووهه چې دروازه خلاصه کړي. لالټې وویل:
– اله اله اله. راننوځه! ډاکټر دی. زرکوه!
– نه. لوېشتینک دې چاته وویل؟
– ری شه ورک شه! په ځمکه ښکارې نه، دبدبې ته دې ګوره!
– ښه؟ هله هله! توبه وباسه! هله هله!
– او پرېده! توبه وباسه! ته چیشی یې؟
– ښه؟ زه څه شی یم؟ اوس به وګورو! تر سبا به همدا سې مردار پروت یې.
– وه دا څه خبیث... ښه ځا. خبره مې بېرته واغستله.
– نه. توبه وباسه!
– او ففف چې ته په لاس ری شې کنه. سخت غوبل به درباندې وکمه. ښه ځا، توبه!
له دې سره اروا په خندا بدن ته ورننوتله. لالټې تېز لاړ دروازه یې خلاصه کړه. ډاکټر خوشال وویل:
– ای ماما! ویده وې څنګه؟ ما ویلې چې وغړېږو.
لالټي هم غوښتل له ملګرو سره معلومات شریک کړي. سره له ټولې مایوسۍ د زړه په لېرې کونج کې یې وړه هېله لرله «کېدی شي په ګډه یوه لاره وباسو» ډاکټر پر کوچ کېناست. ده ورته د هېوادیار د کور یوه یوه نښه وویله. د ډاکټر سترګې رډې وختلې:
– ته دننه ننوتی وې؟
– نا. د سې ده ډاکټره ګله! چې زه بزرګ یمه. خو خلق یې نه مني. زور ورکئ.
– نا رښتیا؟ ما ستا د ژوندي کېدو اورېدلي وو. که دا اوسني مالومات رښتیا وي نو ته بیا موجیزه یې.
– سل په سلو کې رښتیا دي. بیا به یې خپله وګورې یارو. ښا، دا پرېده! خپله خبره کوه!
د ډاکټر په شونډو کې موسکا ورکه شوه. په شاته اړول شویو لنډو وېښتانو یې ورغوی کش کړ. ویې ویل:
– چې رښتیا شي ماما، ما ویلې داسې ام نه کېږي نو چې هرڅه پرېږدو، کرار کېنو. زه خو دا هېوادیار خبیث ژوندی نه پرېږدمه.
– زه ام امدقه غواړمه یارو. خو ویمه چیشی کولی شو؟
– راځه فیکر وکو! ستا د خبرو نه کور ته ننوتل ناممکنه ښکاري. مګر ریس خو به بهر ام راوځي که نا؟ زه وایمه ماسک به واچوو. د کوڅې په خوله کې به پې حمله وکو؟ مړ به یې کو. په موټر کې به وتښتو. سردار او شامامد به ام دا ومني.
– نو ګټه به یې څه وي؟ زمنږ ځوانان به بچ شي؟ زما د لورکۍ ویډیو به پاکه شي؟ د کانونو چور به ختم شي؟
– نه ولا. خو بله لاره ام نشته. که کور ته ورشو مونږ ام وژل کېږو. الکان یې ام درسره نه مني.
ډاکټر د لالټي څېرې ته کتل چې څه عکس العمل ښیي. خو هغه سر ټیټ اچولی و. ده بیا وویل:
– ای ماما! که رښتیا شي زه نه پوهېږمه چې زمونږ اصلي هدف څه دی؟
– ډاکټره ګله! خبره ګډه وډه ده. ما ته لور موهمه ده. کلیوالو ته کان. او تاته غچ. ستا دا نقشه ام یوازې امدقه غچ ته جوړه ده.
په ډاکټر ښه ونه لګېدله. ځکه یې لهجه لږه زیږه شوه:
– ښا نو ته ووایه، څه وکو؟
– کاش چې ما تا غوندې عالي تحصیلات کړي وای. په منږ کې اوښیار ته یې.
– نو زه چې څه وایم مني یې نا. خپله څه لرې نا. ای ماما! داسې کارونه ښه پلان سنجول غواړي. میاشتې نیسي.
– منږ یوه ورځ وخت نه لرو یارو. اوه لس ځوانان راته وجني. که یې تر اوسه وجلي نه وي.
– ښه بله کولی شو. کوشش به وکو چې په کوڅه کې هېوادیار ژوندی ونیسو.
– دقه! دقه زه ام ویمه. که جوندی یې ونیسو ټولو هدفونو ته رسېږو. خو خبره دا ده چې په کوڅه کې یې جوندی نیولی شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– نه پوهېږم. اغه به اوس له تاسې خبر شوی وي. ځان سره به ساتونکي امډېر ګرځوي.
– اح، ستا د نقشې دقه کمزوري ده یارو.
– د منډې کتغ خو خام وي نو.
– ډاکټره ګله! د مرو او د ځوانانو جوند، زمنږ ایزت، ستا د ابا غېچ، د چور نه د کانونو بچول، دا ټول تاته ګوري. خیر دی. ته لږ ډېر فیکر وکه یارو! خدای مهربانه دی چې یوه ښه لاره وباسې. زه به ام د مغزو ګنګس چرګان وجنګومه. بیا به وغږېږو.
ډاکټر ته لکه د هغه په سادګې چې خندا ورغلې وي. مره موسکا یې وکړه:
– ګنګسو چرګانو ته ابېځ زیامت مه ورکوه ماما! بله لاره نشته.
لالټې سوړ اسویلی وکړ:
– ښا؟ سړی خفه شي. اغه دی. ما بله ویله. ما ویلې که مو د حملې فیصله وکړه، ته راسره مه ځه!
د ډاکټر خوشال سترګې تنګې او تندی ګونجې شو:
– ولې؟
– په منږ کې یو ازې ستا واړه بچي پاتې کېږي.
– نه ماما. ما ډېر فیکر کړی. بچو ته مې هرڅه شته. یو ازې به یې پلار نه وي. اخېر به عادت شي. مګر که لاړ نشمه ټول عمر به د پلار دپاره ځورېږمه. هره ورځ به مرمه. په خدای! پرون مې دوه ځله بچي وهلي. که داسې وي نو اغو ته ام دې نه مړ ښه یمه.
– خو ښه دې نو! زه خو چاره نه لرمه. چې یو بلا ځوانان زما د لاسه مري، او لور مې بدنامېږي زه په جوند چیشی وکمه؟
– ټول چاره نه لرو. ای ماما! ته خفه کېږه مه! زه وایمه کاش چې ستا لور پدې بچېدله.
– خدای مهربانه دی. اغه نه وایې چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي ...
– چټې وایې. چې په دریاب کې ګوهر بېخې نه وي بیا؟ دا خلک په ابېځ شي لپ ندي ماما. نه د چا په مرګ، نه په ایزت.
– نا، اغه خو یې خپله وویلې چې جوړه شوې ویډیو ده. لور مې وایې نوره ابېځ خبره نه وه.
– اغه بېچاره نو حال وایې؟
د لالټې سر وګرځېد. سا یې تنګه شوه. ورپېډېد:
– ښه ځا دا ستا خبره صیي. ته راته دا ووایه! په کوم قانون کې چې یو څوک په چا ظلم وکي مظلوم ملامت بلل کېږي؟
– نا، آخو ده. خو د خلکو خوله څنګه بندی؟
– د خلقو په... لاحولو ولا! خلق سپي دي، غاپي به. زه او ته خو پوهېږو. که زما په لور هر چیشی شوي وي په زور پې شوي دي. نو د اغې ګونا څه ده؟
– نه پوهېږمه ماما. دې وطن کې سخته ده.
– چیشی؟ نو چې تا غوندې اوښیار دونه قمقل غږېږي نور څه ملامت دي؟
– ته مه په قارېږه ماما! ما له خواخوږیه وویل.
لالټې بد بد کتل. ماغزه یې په خوټېدو شول. ښه و، ډاکټر ووت. دده زړه بې حده تنګ و. سلګۍ یې ووهلې. پاڅېد. په کوټه کې مخ ته او شاته لاړ. اصلن دومره ډاکټر ته په قهر نه و لکه خپلې بې وسۍ ته چې و. نه پوهېده چې څه وکړي؟ کاش چې چا د حملې ښه پلان جوړ کړی وای. عملي کولو ته دی د سر په بدل تیار و. یو وخت یې لوستي وو چې کمونېزم په دې ناکام شو چې تر انجنیر یې کارګر ته ډېر معاش ورکوه. ایله اوس پوه شو چې دا څه معنا؟ نقشه او پلان جوړول څومره مشکل او مهم دي؟ تکړه او روزل شوی ماغزه غواړي. د عملي کولو لپاره لاسونه هرڅوک لري. مشران په همدې مشران وي چې ښه پلان سنجولی شي. هغه چې په پلان جوړولو نه پوهېږي د مشرۍ وړتیا هم نه لري. لالټې بیا په کوټه کې تېز تېز وګرځېد. سا یې هم تېزه تېزه اخېستله. فکر یې کوه چې د سردار او شاه محمد خبره بالکل په ځای ده. که د هېوادیار په کور ورځي دوئ به هم مړه شي. هېڅ به حاصل هم نه کړي.
دې کې د دروازې ګړز شو. ده شټ وهل. دادو دننه ولاړ و. پېکي ته یې څنډ ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– اکا! تږی یمه.
– اوووو د سپي زو! زه دې وارخطا کړمه. چې سړی تږی وي او به سکي. پوی شوې؟
لالټی له قهره د کوچ مخ ته په ځمکه کېناست. ستونی یې اوس هم ډک و. مګر نه یې غوښتل دادو پوه شي. دا به د هغه روحیه ېښخي وځپي. که سم پلان هم پیدا شي زړه به ورته نه ښه کوي. ځکه یې مخ بلې خواته واړوه. دادو وویل:
– ته ریشخند پرېده! څنګه یې وسکمه؟
لالټي په جیګ غږ وویل:
– په خوله.
– اوهو! په قار ولې یې؟ سمه خبره وکه!
– ای وحشي! اغه فیلتر یې چا ته وښوده؟ پام دې چېرته و؟ نل غوندې شیردان دې ونه لیده؟
– آخو پوېږمه. ګیلاس نشته.
– ډک یې که ـه ـه! وه عقله چېرته یې؟ دلته ستا کمی دی. ای الکه ځا! څنګ ته انواری د ګیلاسونو نه ډکه ده.
– منږ زور ووهه. دروازه یې نه کشېږي. ماته نشي.
– کشوه یې ما! په څنګ یې ټېل ووهه! ځا ورک شه!
دادو په بنګېدو روان شو. د لالټي په زړه کې یوه خبره وګرځېدله. چیغه یې کړه:
– ای دادو! دادو! دادو!
هغه ژر بېرته کوټې ته ننوت. ویې ویل:
– ورو اکا! ورو! د پردي کور دی. چیغې ولې وهې؟ شاوخوا خلق به څه وایي؟
– څه ددئ... خلق پرېده! دلته نزدې ری شه! قول راکه! رښتیا ووایه! کلي کې ولې پاتې نه شوې؟ ابا دې ولې خفه که؟
دادو پېکی په منګوله واړوه. ده ته یې له پاسه کتل:
– کلي کې؟ بده وه. که پاتې شوی ومه بیا الکانو راته بې غیرته ویه.
– تا دې قران ووهي چې امدقه خبره وه؟
– نا، خو دا ام وه، او دا خلقو زمنږ ناموس ته ام سپک کتلي دي.
– دروغ مه وایه! زمنږ او ستاسې خو بدي ده.
– زما د چا سره بدي نشته. چې زور مې ورسېږي د ابا بدي ام ختمومه.
– اغه نه ختمېږي.
– پټی بېرته درکومه.
– دا خو دې سوچ دروغ وویلې.
دادو غلي غلي کتل. لالټي ته اوس ځمکه مهمه نه وه. ځکه یې سر وخوځوه:
– ښه ځا، ما بله خبره کوله. ما ویلې ته خو کلي کې ګرځې راګرځې. خبرې اورې. څه خیال کی مرو څنګه جلۍ ده؟
– څنګه جلۍ ده؟ ښه جلۍ ده.
– نا، خو د پردیو خلقو سره بندي وه کنه.
– هاو بېچاره. ببو مې ویلې زه یې ګورمه. ډېره ځورېږي.
– امدقه خبره ده کنه. څه سپینه به وویمه. اغې سره به ددې نه پس ځوک واده وکي؟
– دا چیشی وایې؟ ولې نا؟
– خو خلق د سپي زامن هر ډول خبرې کئ.
– اغئ بد کئ! مروه ګۍ نه پاکه جلۍ په دونیا کې نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ننا، صبر صبر! زه بل شی ویمه. ته. ته خپله ورسره واده کی؟
په سالاو کې هېڅکله د نجلۍ پلار چا ته داسې خبره نه کوله. په شرمونو به شرمېدلی و. دادو غلي غلي کتل. لکه چې وايي ما فکر نه کوه چې ته دې دومره پرېوتی اوسې. شونډې يې وخوځېدلې:
– ای اکا! زه نه پوېږمه. ته چیشی وایې؟
– ننا، فیکر وکه چې زه د مرو ابا نه یمه. بېخي پردی سړی یمه. د زړه خبره وکه! واده ورسره کی؟
– زما خوله لټی څنګه؟
– نا رښتیا ویمه. مه وېرېږه! ایڅ خبره نده. قسم درته خورمه چې ایڅ درته نه ویمه.
– زه نه وېرېږمه. ویمه ته خفه نشې. ابا ته مې مخامخ وویلې چې مروه ګۍ دپاره ځمه. چا چې ځورولې ده جوندی يې نه پرېدمه.
د لالټي سترګې ډنډ شوې. ژور اسويلی يې وکړ. لکه د ګور په غاړه کس چې خپلې مريضۍ ته د نجات دوا پيدا کړي. ويې ويل:
– بس ما امدقه اورېدل غوښتل. ګوره بچی! مالومه نده چې په منږ به چیشی کېږي؟ خو وعده کومه. که جوندي وو د اغې واده به تاسره کېږي. که مړ ومه، زما جپ وګوره! خط تې وباسه! امدا به مې لیکلي وي.
دادو اوس په ملا شخ او نېغ ولاړ و. په ټېغو ټېغو سترګو يې کتل. لکه د داسې تغير توقع چې يې هېڅ نه لرله. يودم راکړوپ شو. د لالټي لاسو نه يې ښکل کړل:
– اکا! ته غم مه کو! دا زړه مې وايي مروه ګۍ به بېرته په ايزت شي. که نا، چېرته لرررې بل وطن ته يې بيايمه. چې د ايچا خبرې وانه وري.
لالټي پاڅېد. هغه يې په غېږ کې ونيو. په موسکا يې سلګۍ وهلې. دادو خپلې کوټې ته لاړ. او به څښل يې هېر شول.

∞∞∞∞

سهار لالټی په کوچ کې په چيغه پاڅېد. مروه يې مړه ليدلې وه. سا يې سوزېدله. بلې کوټې ته يې سر ښکاره کړ. هلته دربواړه ويده وو. ده ټوخی وکړ. څوک پا نه څېد. اول منزل ته کېوت. د ډاکټر خوشال غږ هم نه اورېدل کېده. په ټول کور کې بس دده د پښو ترپه هار و. هلته هم وټوخېد. وروسته سرک ته ووت. ټکسي يې ونيو. په يو ازې ځان د هېوادیار د کور په مخ کې غرفې ته ودرېد. غوټ ساتونکی راووت. غږ يې کړ:
– څوک دې په کار دی وروره؟
– ته دسې وکه يارو! ريس صيب ته ووايه چې لال مامدخان راغلی دی.
ساتونکي مخابره خولې ته ونيوله:
– ريس صيب! يو کس راغلی دی. لال مامد خان نومېږي. وايي تاسې سره يې کار دی. پرې يې دم؟
ريس په خپلې کوټې کې د تخت په ژۍ ناست و. ويښتان يې په ماشين وچول. شنګس و. ماشين يې بند کړ چې خبره واوري. د کمپيوټر په سکرين کې يې وکتل. په خندا شو:
– پرېده چې راشي! لالټی دی کنه. سر او ږيره يې کم کړي دي. په لغمان کې دې په ياد ندی؟ اغه متيازن.
ساتونکي کټ کټ وخندل. ده هم واورېدل. هېڅ ډول عکس العمل يې ونه ښود. ساتونکي تلاشي کړ. دروازه يې خلاصه ونيوله. دننه په حويلۍ کې دوه کسه ورسره ملګري شول. دربواړه ودانۍ ته روان وو. لالټي جېب ته لاس کړ. د موبايل تنۍ يې کېکاږله. له هر زنګ تېرېدو سره په جېب کې رڼا کېدله. خو غږ يې نه و. ريس غلي غلي زمزمه کوله. په زينو کېوت. د سالون په منځ کې ودرېد. ساتونکي په دروازه کې پاتې شول. لالټی دننه لاړ. د قيمتي عطرو خوږ بوی پرې ولګېد. ريس دده په لاس کې کاغذونو ته کتل. طبعه يې جوړه وه. په خندا يې وويل:
– په خيرونه په خيرونه لال مامد خانه! ای تخلص لرې که نا؟ چې په فلاني صيب درله غږ کو.
– نا ريس ګله. تخلص خلق د نامه د درندولو دپاره ږدي. زما نوم خدايي دروند دی.
– آهاهاهاها ډېر وران يې. ښا، څه سکې؟ چای، کافي، جوس، شوده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– شړومبې شته؟
–آهاهاها، نا نو، په هر شي کې ستا ځان له ذوق دی. په سهار کې شړومبې. هاهاهاها
لالټې غو ښتل ريس په قهر کړي. لوی کريستالي قنديل ته يې پاس وکتل. ويې ويل:
– ماته څوک رسېدلی نشي يارو. زه ويلی شم چې همدا اوس ستا په کور کې څوک دي؟ او چېرته دي؟
– ښا؟ نا مړه.
– دوه پېغلې لورګانې دې په څلورم منزل کې ځانته ځانته کوټو کې دي.
د ريس تندی راټول شو. سر ته يې لاس کړ. پکول يې نه و. عميقه سا يې واخېستله:
– چا درله ويلي؟
– بزرګ يمه.
– غلی خيرنه! پلار دې بزرګ و؟ نيکه دې بزرګ و؟
– هيله کومه! پلار او نيکه ته خوله ماچوه! منږ ته خپل مړي ګران دي. بله به درته وويمه. زما د لورکۍ د ويډيو په باره کې دې دروغ وويلې. اغه يو ازې په فلش ميموري کې نده، ستا په مېز په لپټاپ کې ام شته.
د ريس مخ تک سور شو:
– ګپ بس دی نور! قواله چرته ده؟
لالټې په لاس کې کاغذونه وښودل. ريس وويل:
– ته دې پلو که! اله شابه اله!
– ډک يې که ـه ـه! ته داسې نېغ نېغ مه کېږه، ښا؟ ما ويډيو کړې. يو چا ته مې سپارلې ده. پوېږې چيشی پکې دي؟ ټولې خبرې مې پکې کړي، ښا؟ چې تا څنګه اغه درې کسه زما مخ کې ووجل؟ ستا د کانونوليست هم پکې دی. دا يې ښنبه چې په نيمروز کې پينځه کانه دي. په کونړ کې اته، په بغلان کې شپږ.
د ريس سترګې ټېغې ټېغې وختلې. لالټې دوام ورکړ:
– دا مې ام پکې ويلي چې تا د وزيرصيب بانکي حسابونه په خپل لاس کې اغستي دي. اغه د ځانه خبر ام ندی. که زما ويډيو وګوري ستا خبره ګلجانۍ ده.
ريس غاښونه وچيچل، لکه مار تاو شو:
– زما په کور کې ماله اخطار راکی، هه؟
لالټې يې کلکه سپېره ووهه. هغه په ترکي فرش ولوېد. ريس کاغذونه واخېستل. په دروازه کې دوو ساتونکو ته يې وويل:
– الکه! دده يو يو نوک تراغو وباسئ څو يې د ويډيو والا نوم او پته درکړې نه وي. خبيث!
ساتونکي وراندې راغلل. دا مهال د لالټې اروا ووتله. ساتونکو له لاسه ونيو. د پروت حيوان په شان يې پر فرش کش کړ. ريس کاغذونه وکتل. سترګې يې وازې شوې. غږ يې کړ:
– ودرېږئ ودرېږئ! دا خو خوشې شيان دي. قواله نده.
يو ساتونکي وويل:
– صيب! سړی ام مړ دی.
– څه څه؟ څنګه مړ دی؟ ما خو کلک وهلی ام ندی. ښه ښا! بيا يې د دروغو ځان مړ اچولی. ورکه، لغتې ورکه!
ساتونکی په دوو پښو کېناست. د لالټې ولاړې سترګې يې وکتلې. د هغه مخ يې يوې او بلې خوا ته ټېل وهه. ويې ويل:
– نه صيب! رښتيا مړ دی. سا پکې نشته.
ريس په منډه تږدې ورغی. خپله يې وکوت. چيغه يې کړه:
– اله زړه يې درېدلی! ډاکټر له آواز که! اله اله زرکوه! چې ويډيو نېټ له ونه وځي. څه له ګورې؟ ورک شه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا وخت امبولانس د کور مخ ته ودرېد. ډاکټر خوشال ترې په سپینه چپنه کې کېوت. ګوشکي یې په غوږو کې وو. ویې پوښتل:
– مریض چرته دی؟
ساتونکي په خندا ځواب ورکړ:
– نه ډاکټر اغا، ادرس دې غلط کړی. دلته مریض نشته.
– دا د ریس صیب هېوادیار کور دی که نا؟
– هو، دی.
– امدا ځای یې ښودلی.
– درته مې وویلې چې مریض نشته.
دې کې دوه ساتونکي تېز راووتل. د امبولانس په لیدو یې ژر ژر لاس وښوروه:
– اله اله ډاکټر صیب! راځئ راځئ! دننه مریض وګورئ! اله زر کوئ!
د دروازې د ساتونکي خوله وازه شوه. ویې پوښتل:
– څوک مریض دی؟ ریس صیب؟
– نه، ته پرېده! ډاکټر صیب! تېز راځئ!
ډاکټر موبایل ته وکتل. تنهې یې ووهله. له لالتهي سره اړیکه یې پرې کړه. ګوشکي یې هم په جېب کې کېښودله. ویې ویل:
– امبولانس کې زما نرسان او وسایل دي. پرېدئ چې ننوځي!
– صیبي ده صیبي ده! زر کوئ!
سردار د درملو له بکس سره له امبولانسه کیوت. شاه محمد او دادو هم په سپینو چپنو کې په ډاکټر پسې روان شول. دننه ریس لالتهي ته مصنوعي تنفس ورکوه. په سینه یې د ورغوو زور وهه. د ډاکټر په لیدو یې غږ کړ:
– شابه شابه شابه! ضوف یې کړی. زر کوه زر!
دې کې اروا غوښتل ورننوځي. لالتهي لاس جیګ کړ:
– صبر صبر! وخت یې نه دی.
– دا څه کې؟ تا خو ماته همداسې ویلي وو. پرېده چې څو هېوادیار پوهېږي کار وشي!
– غلی شه ورک شه! لوېشتینکه! زما پلان دی که ستا؟ زه پوهېږمه کار مې.
اروا تروه شوه. مخ یې واړوه. لالتهي ولیدل چې ډاکټرانو په ساتونکو او ریس وسلې ونیولې. ژر یې وویل:
– اله راننوځه! امدقه یې وخت دی. اله زر کوه!
– نه ننوځم.
– وه د سپي زو! خدای ته وګوره کنه! د نخرو وخت نه دی کنه.
اروا هم ژر ننوتله. لالتهي نېغ کېناست. اول یې خپل پرتوګ ته وکتل. وچ و. موسکی شو. د ریس ایله اوس سر کار وکړ. ویې ویل:
– وه ستا بېخ شین شه ستا موجیزې!
لالتهي وخندل:
– ډک یې که ـه ـه! دادو بچی! اله دروازه بنده که!
دې کې څوتنه اندېښمن ساتونکي د مرستې لپاره دروازې سالون ته راغلل. خپل دوه ملګري یې جیګ لاسونه ولیدل. حیران شول. ریس امر وکړ:
– ولئ یې!
هغوئ هم سمدلاسه وسلې ور واړولې. خو د لالتهي کسانو وار مخکې کړ. یو ساتونکی ولګېد. نور یې د دروازې شاته پټ شول. بېرته یې لاسونه او وسلې ښکاره شوې. دننه یې ړندې ضربې وکړې. خپل کسان یې وویشتل. ریس ځان د مخ وازې پخلنځي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټيټ دېوال شاته ورسوه. د لالټي ملګرو د مړو ساتونکو وسلې واخېستلې. په دروازه يې ډزې وکړې. وسله وال له هغه ځايه لېرې شول. د لالټي له قهره سرې مې وپړسېدلې. دوئ د پلان خلاف دروازه بنده نه کړای شوه او د تود جنګ مخه يې هم ونه نيوله. اوس نو د ساتونکو لاس بر و. هم يې يو کوټ پر مختللې وسلې لرې، هم ښه ډېر کسان. په تود جنګ کې درې لارې وې: يا به کاميابېږې، يا به تسليمېږې، يا به مړ کېږې. لالټي لا د تسليمېدو پلان نه درلود. هغه په ريس پسې ځان پخلنځي ته ورسوه. سمدلاسه يې په خېټه کې لغته وخوړله. دی وار شو. په دېوال ولګېد. پر ځمکه ولوېد. بېرته جيګ شو. سر يې لکه غوا يه مخامخ ونيو. په منډه يې ريس په سينه کې ووهه. هغه په شا ولوېد. د حويلۍ ساتونکو د لويې کړکۍ له لارې په سالون ضربې وکړې. يو قيامت جوړ شو. ټولې ښيښې دانه دانه تويې شوې. ځينې مرمۍ د کړکۍ په اوسپنيزو پنجرو ولګېدلې. ټنګس يې وخوت. ضربو هم په دروازه کې ساتونکي، هم د لالټي کسان يوه شېبه غلي کړل. لالټي ته همدا ښه موقع ښکاره شوه. د پخلنځي د ټيټ دېوال له شا څخه يې خپلو کسانو ته چيغه کړه:

– دروازه بنده کئ! دروازه بنده کئ!

خو ملګرو ته يې مرميو وخت نه ورکوه. ريس د دروازې شاته ساتونکو ته غږ کړ:

– الکه! راننوځئ! دوئ کم دي.

هغوئ بيا له دروازې څخه ضربې وکړې. خو د دوئ ډزو بيا په شا کړل. ريس لالټي په دوا ړو لاسونو ټېل وهه. دی د پخلنځي په مېز ولګېد. ملا يې کلکه ژوبله شوه. لاس ته يې د ريس وېښتان ورغلي وو. هغه بې وېښتانو ګنجی، زوړ او ټيټکی ښکارېده. لالټي وېښتان وغورځول. د ريس پام شو. ژر يې پر خپل سر لاس ونيو چې پټ يې کړي. داسې وارخطا و لکه ستره ښځه چې له پردي سړي سره بې حجابه مخامخه شي. منډه يې کړه چې خپل وېښتان له ځمکې واخلي. لالټي د مېز پر سر هرکارې ته لاس کړ. ريس يې په ګنجي سر ووهه. هغه کوږ کوږ تر الماری لاړ. لالټي بيا هرکاره په سر ورکړه. دا ځل ريس سوړ پرېوت. ده د لېوني غوندې په مرميو کې دروازې ته وځغاستل. هغه يې پورې کړه. اوسپينيزه او درنده وه. له هغې خوا په دروازې د مرميو د لګېدو دربه هار شو. د کړکۍ له خوا هم ضربې وې. لالټي کړوپ کړوپ بېرته روان شو. د کوچونو شاته ملګرو ته يې پخلنځی وښود:

– راځئ! د هغه ټيټ دېوال پنا کېنئ! دا ځای ښه ندی.

په ګډه يې منډه واخېستله. نابېره لالټي او دادو په چيغه پړمخې پرېوتل. شاه محمد او سردار دواړه د دېوال شاته کش کړل. لالټي ورون او دادو د تشي لاندې ځای نيولی و. د منګولو له منځه يې وينې څڅېدلې. ډاکټر زخميان سمه تخته سملول. له دادو څخه يې سپينه چپنه وباسله. د درملو بکس يې خلاص کړ. د دواړو زخمونه يې وتړل. لالټي ستړی و. عميقه سا يې اخېستله. روغو ملګرو ته يې وکتل. رنګونه يې تښتېدلي وو. لکه په خپلې ناکامۍ او مرګ چې سل په سلو کې باوري وي. ده زګېروي ودرول. په بيداره غږ يې وويل:

– اېڅ خبره نده. د دروازې او کړکۍ د لارې څوک راتلی نشي. زينې ته ګورئ! چې د بام د لارې رى نشي!

شاه محمد زينې ته مخامخ کېناست. ټوپک يې سيده ونيو. په ګلابي مخ يې خولې روانې وې. په سپين دسمال يې وچ کړ. لکه انار سور شو. سردار وويل:

– کشکې مو ويډيو کړې وه. ريس څه شو؟

لالټي ورته پروت ګنجي وښود. ټولو ته په هماغه حالت کې هم خندا ورغله. لالټي په ناستو هرکاره پاس نل ته ونيوله. نيمې او به ده او دادو وڅښلې، پاتې يې د ريس په ګنجي سر واچولې. هغه بيدار شو. سر يې وڅنډه. سترګې يې خلاصې کړې. سردار يې تندي ته تومانچه ونيوله. پرته له دادو ټولو موبايلونه راوباسل. لالټي وويل:

– ته د ګنجي زوی به اوس خپل ټول جرمونه ووايې!

ريس بيا سر ته لاس کړ. رنګ يې تک سور شو. ژر يې پر ځمکه پراته وېښتان پر سر کش کړل. بېرته پخوانی ريس شو. پزه يې جيګه ونيوله:

– که يې ونه وايمه څه به وکې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– مړ کومه دې.
– مړ مې که!
لالټې سپېره ورکړه. په سوک یې ووهه. له پزې یې وینې روانې شوې. ورباندې یې چیغه کړه:
– وایه د سپي زو!
– هاهاهاها نا نو، ته اوس دونه نه پوهېږې؟ مونږ چې دا دونه غټې غټې کارونه کوو، دا خبرې مو په ځان منلي دي.
لالټي ته ریس په سوکالۍ کې لوی شوی، نازدانه ښکارېده. د دومره مقاومت توقع یې نه لرله. اوس دا سې معلومېده چې زیات فشار ته اړتیا ده. غاښونه یې وچیچل. ډاکټر خوشال ته یې اشاره وکړه. هغه څو لغتې ورکړې. ریس په ځمکه وغځېد. بېرته په خندا جیګ شو:
– نانو، په دې پلاستیکي پټکو مې یرولی نشئ ښا؟ ای! بهر به اوس د ملي امنیت کسان او پولیس راغلي وي. تا سې ټول پینځه کسه یئ! ښه خبره دا ده چې تسلیم شئ!
هلته په رښتیا د پولیسو قوماندان د ملي امنیت له مشر سره کورته د ننوتلو په پلان غږېده. چورلکه یې را وغوښتله چې سرتېري پر بام کوز کړي. د ریس ساتونکو له کړکیو ټوپکان دننه کړي وو. ټول سالون یې سم لیده. که د لالټي کسانو د پخلنځي له ټیټ دېوال سر ښکاره کړی وای وژل کېدل. د ساتونکو قوماندان غږ کړ:
– ریس صیب! چېرته یې؟
ده په موسکا ځواب ورکړ:
– اشپزخانه کې. روغ او جوړ یمه. دوئ اوس تسلیمېږي. بلهلار نه لري. که نه د لور عشق به یې ټول جهان ووینې.
هغه کړس کړس وخندل. د لالټي سترګې غټې غټې راووتلې. ملګرو ته یې کړ:
– د سپي د زوی خوله بنده کئ!
سردار د ریس خوله په دسمال وتړله. د لالټي زړه تښتېده. خو فکر یې دادو ته و. هغه چې په تشي کې لګېدلی دی څه حال به یې وي؟ ډاکټر لالټي ته پېچکاري ولګوله. دده زړه ورسره ښه شو. دادو ته یې سیروم چالان کړ. ویې ویل:
– جیګ شه، کېنه!
– کېناستلی نشمه.
– ته کوشش وکه!
دادو نه منله. لالټي وپوښتل:
– زړه دې تښتي؟
– هاو.
– ځان ماچوه! فیکر وکه چې چیشي ته راغلی یې؟ او تا ته په کلي کې څوک انتظار کئ؟
دادو ځیر شو. سمدم نېغ کېناست. نورو ته عجیبه وه. په غټو غټو یې وکتل. ډاکټر مخ لالټي ته کړ:
– ای ماما! دسې به وکو، وبه وایو چې مونږ ته لاره راکئ. که نا، ریس وژنو. دا به ام د ځانه سره واخلو چې څوک راباندې ډز ونکي. امدسې به وتښتو.
– چېرته به وتښتو یارو؟
– د سالاو غرونو ته. ریس د ځان سره ورو. الته به یې په آرامه مجبور کو چې اقرار وکي.
– نا، نه کېږي.
– نو چیشي کی؟ زما دې ونه منله. ستا پلان غلط و. دا رذیل اقرار نکئ.
لالټي ترې مخ واړوه. ویې ویل:
– ګوره یارو! ډاکټر ام یې. دونه نه پوییږي چې په دغو خبرو دا نجس زړورېږي. بیا نو بېخي اقرار نکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریس د ملنډو موسکا وکړه. ډاکټر وویل:
– په هرڅه پوهېږم. په دادو کې مرمۍ بنده ده. داخلي خونرېزي لري. سودا مې ورته ده.
لالټې دادو ته وکتل. تندي یې ګونجې وکړې. په زړه کې خو ده هم منلې وه چې هرڅه له لاسه وتلي. مګر ظاهرن یې نه ښودله. دې کې یو کېوونکی ګرز شو. بم وچوېد. د سالون دروازه دننه ولوېدله. پر دوئ ګرد ونه او د باروتو بوی راغی. د ټولو رنګ پک والوت. لالټې تریوې شېبې څه نه اورېدل. په همدا حالت کې یې د ریس سر ته تومانچه ونیوله. هغه په بنده خوله خندل. لالټې وویل:
– ای د سپي زو! وایې که نا؟
خپل غړېې په سختۍ واورېد. ریس په خندا سر وخنډه. لالټې غوښتل په دا ککره یې وولي. خو په وروستۍ شیبه کې یې تومانچه اوږې ته برابره کړه. ډز شو. ریس په ځمکه ولوېد. لکه مار تاو راتاو شو. له درده یې په پزه کې عمممم عمممم کوه. په جامو یې وینې لارې وکړې. د لالټې اورېدل ورو ورو ښه شول. دسمال یې د ریس له خولې ښکته کړ. ویې ویل:
– اوس وایې که نا؟
ریس د درد له زګېرویو سره ککره وښنډله:
– چې مړ مې کئ هدف ته به ونه رسېږئ.
پولیس په دروازه کې ودرېدل. لالټې د ریس خوله بېرته په دسمال بنده کړه. په چیغه یې وویل:
– پاسې د سپي زو! که نا، دا بله اوږه دې ام ولمه. جیګ شه!
ریس له زګېرویو سره پاڅېد. لالټې یې شاته شو. له اوږې یې ونیو. په څټ یې د تومانچې خوله کېښودله. ملګرو ته یې کړ:
– تاسې زما شاته شئ!
د سردار په اوږه ټوپک ځړېده. په یو لاس یې سیروم جیګ ونیو. بل د تومانچ والا لاس یې د دادو ترملا تاو کړ. لالټې ریس ټېل وهه:
– ځه ځاااااا!
هغه روان شو. دوئ ورپسې وو. د لالټې زخمي پښې زور نه اخېست. کله کله به یې د چندرو ټوپونه وهل. پولیسو ته یې کړ:
– ای ای! که چا ډز وکه دا وجنو.
قوماندان له ویجاړې دروازې سر ښکاره کړی و. غړېې کړ:
– ګوره الکه! په دغو کارونو تاسې ځان ته مشکل زیاتوئ! په آرامه تسلیم شئ! ستاسې په ګټه ده.
– ډک یې که ـه ـه! دا نصیت دې ادې ته وکه!
دوئ اوس شاته شاته د زینې په لور روان وو. ریس یې هم کشوه. دویم منزل ته وختل. په سالون کې یې سردار لاندېنۍ زینې ته ودروه. شاه محمد یې ولېږه چې له دریم او څلورم منزل څخه د ریس بچې راولي. ډاکټر خوشال ته یې وکتل:
– په دغه کوټه کې په مېز باندې لیټاپ دی. اغه راواخله. او په دغو دوو کوټو کې یې تې خواره بچې دي. اغه امرا وباسه!
لالټې پوهېده چې دا یې وروستې زور دی. که ریس اقرار ونه کړ نور نو هېڅ انتخاب نه لري. هرڅه ختم دي. په لاندېنۍ زینه کې د پولیس سر ښکاره شو. سردار پرې ډز وکړ. هغه بېرته په منډه سالون ته کېوت. دلته ډاکټر د کوټو دروازې په لغتو ووهلې. اول یې لیټاپ راوړ. وروسته یې د غبرېږې بچې راوباسل. هغوئ ژړل. دواړه میندې هم په چیغو راووتلې. شاه محمد دوه پېغلې او شپږ ماشومان مخ ته کړي وو. په زینه راکېوت. لالټې د ریس کورنۍ مخامخ ودروله. دده خوله یې خلاصه کړه. ویې ویل:
– د سپي زو! وایې که یو یو بچی دې مخ کې مردار کمه؟
ښځې سونګېدلې. ماشومانو ژړل. ریس د تل په شان په آرامه وویل:
– نا نو، دې کې ماشومان مه ګډوه! دا زما او ستا په منځ کې خبره ده. دونه ام سړی بې غیرته کېږې نا.
– ښا؟ اغه زما لور لکه چې د چا اولاد ندی. آد سپي زو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریس سر وخوځوه:
– ګوره! دا يې مونږ مړه. بيا نو نه تاسې د مرګه بچېږئ، نه ستا لور د بې ايزتۍ نه. ګټه يې تاله څه ده؟
لالټې هم پوهېده چې هغه رښتيا وايي. تر دې هم بده دا چې هغه په هېڅ صورت کې په خپلو جرمونو اقرار نه کوه. معنا دا چې دوئ سل په سلو کې ناکامه دي. له ډېره غمه خندا ورغله. په آرامه يې وويل:
– منږ خو اسې ام په مړو کې ايساب يو يارو. ستا کورنۍ خو ام ولاکه رانه جوندۍ پاتې شي. ستا زړه چې وايې که نا؟
– نانو، ګوره ګوره! دا خو لېوتتوب دی.
لالټې په موسکا کتل. دا د نهيلۍ موسکا وه. د ريس ټينګوالي ته د تسليمۍ موسکا. اصلن هغه چورت وهه چې اوس کومه لاره ښه ده؟ که ريس وژني نو بچي به يې ځورېږي. هغوئ څه ګناه کړې ده؟ که يې نه وژني نو هغه به همدا سې ظلمونو ته دوام ورکړي.
ريس يې موسکۍ څېرې ته ځير و. سر يې وخوځوه:
– سمه ده. زه په زيمه واري وايم. تاسې له ځوک څه نه وايي. ځئ! فلش ميموري او لپټاپ واخلئ! د مځکې نه ام تېريم.
د لالټې په مغزو کې کړنګ شو. ريس ته يې ځير ځير وکتل. د هغه په خبره کې يې د خپل فشار نتيجه احساس کړه. اميد ورته پيدا شو. نه پوهېده چې دده موسکا او بې پروايي هغه اړباسه، که د اولاد د مرګ ډار؟ موسکا ته يې دوام ورکړ. ويې ويل:
– خبره په فلش ميموري او ځمکه کې نده يارو. ښه ځا اقرار مه کوه! بل کار وکه! ته ياسين، هاشم او سباګل جوندي که! منږ ام تا او ستا بچي خوشې کوو. څنګه يارو؟ که نا، يو يو. اورې؟ يو يو، په آرامه ستا په مخ کې وجنو. يو يو.
د ريس په سترګو کې يې وارخطايي وليدله. هغه بې اختياره هرې خواته تاوېدلې. او به پکې وځلېدلې. بيا يې هم په آرامه وويل:
– بچي مې پرېدئ! هر ډول ضمانت غواړئ، پيسې غواړئ درکومه.
دا وخت د امنيت کسان د چورلکې له لارې په بام کېوتل. دلته لالټې کټ کټ وخندل:
– زه پوېږمه. ستا خبيث په يوه خبره باور نشته. ګوره يارو! زمنږ وخت په ختمېدو دی. درېو پورې ايساب کومه. که دې خبرې شرو نه کړې، د کورنۍ رېبل دې د تې خورو بچيانو نه شرو کومه؟ پوه شوې؟ يو، دوه...
د ښځو او ماشومانو چيغې شوې. د ريس هم او ښکې ووڅڅېدلې:
– نا، نا، وايمه وايمه!
لالټې په زړه کې خوشحاله شو. ملګرو ته يې وکتل. هغوئ موسکي وو. مګر دده څېره يو دم جدي شوه. ايله يې د مصنوعي خندا بوج له ذهنه پرېوت. ښځو ته يې اشاره وکړه چې تې خواره ماشومان کوټې ته بوځي. لپټاپ او فلش ميموري يې په زينه کې د ښځو په جامو کېښودل. او ريې ور واچوه. ريس يې په کوچ کې مخامخ کېنوه. پينځو واړو ملګرو يې د موبايلونو کمرې ونيولې.
لالټې ريس ته سر وخوځوه چې وايه! هغه خبرې پيل کړې. لالټې لاس وښوروه:
– صبر صبر! بند کئ موبايلونه! اې د سپي زو! تا خو وليدل. زه د ټولو خبرو نه خبر يمه. دا درته اخېري خبرداری دی. که دې دروغ شرو کړل بيا درته نه ويمه. بس يو بچي دې وجنمه. که دې بل دروغ وويلې بل بچي دې وجنمه. پوی شوې؟
ريس کيسه پيل کړه، چې څنګه د کانونو په ليدو ورته د بيليونر کېدو اميد پيدا شو؟ څنګه يې له وزير سره د کانونو د چور پلان جوړ کړ؟ کوم کوم چارواکي پکې شريک دي؟ د نړۍ په کومو بانکونو کې يې پيسې دي؟ څنګه يې وزير او نور د ځان په ګټه لوبول؟ د لالټې ځمکه يې څنګه پيدا کړه؟ ولې يې مروه ونه وژله او ياسين يې وواژه؟ ويې ويل چې د مروې عزت ته يې بد کتلي نه دي. خپله پېغلې لونې لري. خو ويډيو يې ددې لپاره جوړه کړې وه چې لالټې ځمکې ورکولو ته اړباسي. وروسته يې ددوئ د حملې له پلان څخه د خبرېدو، د اوه لسو ځوانانو د نيولو او د حماس د وژلو وويل. لالټې او ملګري يې په حماس خفه شول. يو بل ته يې مړې مړې وکتلې. د ريس د خبرو په پای کې د موبايلونو مخه لالټې ته وا وښتله. هغه وويل:
– ګورئ! منږ چيشې غواړو؟ چې بچي مو څنګ کې وي. سبايي ووځو، ځمکه وکرو، مالونه وڅروو. ماښام په ديسترخان راټول شو. کله کله د مرګرو او خپلوانو کره په کوزدې، يا اختر کې لاړ شو. ټوقې وکو، وخاندو. خو دا ځيني ګوره! دقه سې پينځه منزله بنګلې به لري. د ايڅ شي کمی به يې نه وي. بانکونه به يې د پيسو نه ډک وي، خو تا به د اليشنګ په سالاو کې آرام ته نه پرېدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې؟ ځکه چې غواړي لا پيسه داره شي. حرص مخکې کړي وي. وه خو پيسه داره شه کنه! چا ويلي مه کېږه؟ نو د خپلې ګټې دپاره خو زما سټه مه باسه کنه! وه د ظالم زو! په جوند کې نور چيشی دي؟ يا ساز دی يا سوز. دواړه ځانته نه کېږي. ځا، دا ته يې د ډالرو په غونډۍ ناست. پيسې درسره په ساز کې خندلی شي؟ په سوز کې جړلی شي؟ ته خو يو وار خلق ياران که! بيا وګوره چې په ميم زر ما ټوله زما کې خوند دی، که په منړ زر منړ ټوله زمنړ کې؟

مو بايلونه بند شول. لالټي وويل:

– اوس يې په نېټ کې خوشې کئ!

ملګرو يې همداسې وکړل. خو د ډاکټر سرې سترګې په ريس کې وې. بالاخره يې غږ کړ:

– اوس به دا خبيث ووژنو.

دادو په کوچ کې کوږ ناست و. زګېروي يې ختل. د ډاکټر خبره يې تاييد کړه. د ريس د بچيانو ژړا بيا جيګه شوه. لالټي اسويلی وکړ. سر يې وځنډه:

– نا، ګټه نه لري يارو. مګر که زمنړه نقشه کاميابه شي دا به د مړي نه ام بتر شي.

دا وخت د امنيت کسان د پورتنۍ زينې له لارې دويم منزل ته ورسېدل. په لاندينۍ زينه کې پوليسان ښکاره شول. غږ يې کړ:

– تسليم شئ! موږ تاسې ته ضرر نه رسوو. محکمه پوېږي تاسې.

خبره ختمه وه. نور داسې څه پاتې نه وو چې دوئ ورته اميد لرلی. لالټي تومانچه د ښيښې پر مېز کېښودله. لاسونه يې جيګ کړل. نورو هم همداسې وکړل. خو ډاکټر تومانچه ريس ته ونيوله. لالټي يې لاس کلک کړ. ويې ويل:

– ډاکټره ګله! فيکر وکه! که دا ووجنو خلقو ته به منړ ام داړه ماران ښکاره شو. زمنړ ويډيو بيا ايڅ شوه. دده په مرګ سبا ګل نه جوندی کېږي يارو. مګر کېدی شي زما او ستا بچي ټول عمر وځورېږي. او زمنړ بندي مرګري ووجل شي. او مافيا د کانونو چور ته دوام ورکي. نور دې خوښه!

لاس يې ببرته خوشې کړ. ډاکټر تر لږ چورت وروسته تومانچه په مېز کېښودله. لالټي ريس ته کړ:

– ای د سپي زو! ته آزاد يې. ځا!

هغه او بچيان يې تېز د امنيت د کسانو څنګ ته لاړل. عسکرو لالټی له ملګرو سره ونيو. ريس په زخمي ځان راغی. هر يو ته يې سپېړې او لغتې ورکړې. د دادو سيروم لېرې وار شو. ريس قوماندان ته کړ:

– حوزې له يې مه بيايئ! اقرار تې واخلئ چې زما د کور او کار مالومات چا ورکړي؟ بيا يې چرته مردار وغورځوئ!

قوماندان سر وخوځوه. ريس ټلېفون راوباسه. کوم چاته يې وويل:

– اله روره! امدا اوس فيسبوک، يوټيوب، ټويټر او نورې پاڼې بندې کئ!

شېبه پس لالټی او ملګري يې له تړلو لاسونو او تړلو خولو سره د بنديانو په موټر کې ناست وو. دادو په منځ کې اوږد غځېدلی و. زګېروي يې ختل. دوئ له تورو ښيښو مړې مړې بهر کتل. هلته هېوادېار د کور په خوله کې د لسګونو خبريالانو مخ ته ولاړ و. بلکل تازه ښکارېده. خو خوله يې اوس هم په وينو وه. هغه وويل:

– زما ګرانو! بلا وه برکت يې نه و. بس څو تنه غله وو.

هغه خپلې په وينو سرې خولې ته اشاره وکړه:

– دا ګورئ ويې وهلمه. په اوږه يې وويشتلمه. بس پاڼه يې ليکلې وه. ټول پکې دروغ وو. ويلې دا به لولې که نه، ټول بچي دې وجنو. مجبور ومه، ومې لوستله. دوئ ويډيو جوړه کړه. په سوشل ميډيا کې يې خپره کړه. د امنيت او پوليسو څخه مننه کوم چې په ښه ټايم راغلل. اغه کسان يې په جنګ کې ټول ووجل. اوس که ستاسې خوښه وي زه به ډاکټر له ځان ورسومه. وينه مې ضايع کړې. ضوف راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبريالانو مايکونه او کمرې ټولې کړې. لاره يې خوشې کړه. ريس په موټر کې کېناست. غلې غلې يې زمزمه کوله. له ټيټې ښيښې يې لالټې ته په موسکا سترګه ووهله. دده تور لنډکروزرونه له کوڅې تېز ووتل. شاته د ملي امنيت او پوليسو رينجرو هم ورو ورو حرکت وکړ. لالټې خپلو ملګرو ته وکتل. هغوئ ترې مخونه واړول.

دوه ورځې پس يوه ډله سالاويان په کابل کې د امنيت د روغتون مخ ته ولاړ وو. مروې او مور په پلو نيم مخونه پټ کړي وو. د شربت خېلو ملک په دروازه کې له عسکر سره خبرې کولې. وروسته عسکر دوئ د ننه روغتون ته بوتلل. هلته يې په لويه کوټه کې حاجي چمن ځوړند سر پر چوکۍ ناست وليد. زوی يې دادو په کټ کې سمه تخته پروت و. سترګې يې ولاړې وې. د مروې او مور له خولې چيغه وختله «وی‌ی‌ی‌ی‌ی». د ټولو رنګ سپين واوښت. حاجي چمن د دوئ غږ واورېد. مخ يې راواړوه. دا وخت دادو هم نيغ کېناست. موسکی شو. ملک غږ کړ:

– هی د خره زو! زمونږ دې زړه بوټ وباسه.

نژدې ورغلل. دادو د سر د پاسه د سيروم په پايې کې بند موبايل واخېست. غږ يې جيګ کړ. خپلو کليوالو ته يې مخامخ ونيو. په نېټ کې يې د کانونو او پطروليم پر وزير او هېواديار سربېره د ډېرو چارواکو نيول کېدل ښودل. يو متخصص اټکل کوه چې د غصب شويو کانونو له نيول کېدو سره به د دولت عوايد دوه برابره شي. خبريال وويل:

– سره له دې چې د سالاويانو د ويډيو تر خپرولو لږ وروسته ټولنېزې رسنۍ بندې شوې. خو ويډيو خپل کار کړی و. د دولت تر مشرانو رسېدلې وه. او نتيجه يې تاسې وينئ. همدا اوس مې خبر ترلاسه کړ چې د لعل محمد ټول يويشت کسان د امنيت له دفتره آزاد شول او په روغتون کې د زخمي ملګري ليدو ته لاړل.

دا وخت لالټې او ملګري يې تېز د دادو کوټې ته ننوتل. خلکو له خوشحالۍ چيغې کړې. هر چا خپل زوی او ورور ته غاړه ورکوله. مروې خپل ګوډ پلار په غېږ کې ونيو. د لالټې زړه ورسره تود شو. په تندي يې ښکل کړه:

– مرو! څنګه يې بچې؟

– ښه يمه ابا. ستا پښه څنګه ده؟

– ښه ده. بلا ورپسې! نا، ته بېخي ښه يې؟

– هاو کنه. ويمه بېخي ښه يمه.

– کلي کې خو دې څوک نه ځورئ؟

خلکو په ګډه غږ کړ:

– نا، اغه خبرې اوس نشته.

مروې هم سر وخوځوه. لالټې مخ ښځې ته کړ:

– ستا څه حال دی؟

– ښا، اوس دې په ياده شومه؟

– نا خو...

– باني مه کوه!

ټولو هررررر وخندل. لالټې د خجالت له موسکا سره لور بيا په تندي ښکل کړه. وروسته يې په خپل ټټر نرم لاس وسولوه. اروا ته وبنګېد «مننه يارو»

يوه اونۍ پس ډاکټر خوشال شربت خېلو ته راغی. له کابله يې د کان کيندنې جواز راوړی و. خلک د لالټې د کور مخ ته راټول شول. د جواز سيل يې کوه. ډاکټر په جيګه ودرېد. غږ يې کړ:

– زه تاسې ټولو ته، خصوصاً لال محمد خان ماما ته د جواز مبارکي وايمه. بل زېری دا چې دولت تيار دی چې د کار د پاره ماشينونه امانت راکي. چې خپل مو پيدا کړل بيا به يې بېرته ورکو.

لالټې ګوډ ګوډ ورغی. ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– خیر ویسې ډاکټره ګله! نورې خبرې دې صیي. دا لال مامد خان څوک دی؟ په دغه نوم سالاویان څوک نه پېژني. که ما ښیې نو زه خو لالټی یمه.

د ټولو سترګې وازې شوې. ده دوام ورکړ:

– ویمه که لال مامد خان شومه ستاسې سره وعدې مې هېرې نشي. لالټی ښه دی. خبره په نوم کې نده. په سړي کې ده. که اغه دروند و، نوم خپله درندېږي. که اغه سپک و، چې پیغمبر یې وبولئ ام نه درندېږي.

د شربت خپلو ملک غږ کړ:

– ای اورې؟ زه خو درته بېخي شازاده بارام ویمه. غټ دېو دې چپه که په خدای.

دې کې ګلټی په منډه راغی. د لالټي لاس یې ونیو. په ګونډو شو. زاری یې کولې چې بد راڅخه شوي دي. ده له مټو جیګ کړ:

– ډک یې که‌ه‌ه! منږ ښنلی یې یارو! مګر که‌دې نشه پرېښودله، او ورېنداري او بچیانو ته سم سړی شوې، په کان کې کارام درکوو. د انډیوال وعده ده.

خلکو غږ کړ «ښه وایي» ګلټی چورتي شو. وروسته یې وپوښتل:

– نا، دا ډک یې که‌دې نو څه‌ته وویلې؟ اوس نو چیشی ډکی بادار ه؟

لالټي ورته جواز وښود:

– د خلقو نس.

ټولو هررر وهل. لالټي مخ خپلې حویلۍ ته واړوه. د کوټو مخ ته ولاړې ښځې او لور ته موسکی شو. د هغوئ خولې له خندا او سترګې له اوښکو ډکې وې.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**